# فوائد مکیہ

تالیف

ماہر فنون قرات و تجوید شیخ العرب والعجم حضرت مولانا قاری مقری عبد الرحمن مکی الہ آبادی

# تعلیقات مالکیہ

از

شیخ الکل ماہر تجوید و قرات سیدنا حضرت مولانا القاری المقری عبد المالک صاحب

پښتو ژباړه تحقیق قواعد او ترتیب مع حاشیه جدیده مدنیه و ضمیمه

## حضرت قاری مولانا عبد الرحمن مدنی غفرلہ

و مترجم کتب تجوید و قرائت بانی و
مدرس شعبه تجوید و قرائت فی بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

www Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

## ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احایث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

# فوائد مکیہ

تالیف

ماہر فنون قرات و تجوید شیخ العرب والعجم حضرت مولانا قاری مقری عبد الرحمن مکی الہ آبادی

## تعلیقات مالکیہ

از

شیخ الکل ماہر تجوید و قرأت سیدنا حضرت مولانا القاری المقری عبد المالک صاحب

پښتو ژباړه تحقیق قواعد او ترتیب مع حاشیه جدیده مدنیه و ضمیمه

حضرت قاری
مولانا عبد الرحمن مدنی غفرلہ

و مترجم کتب تجوید و قرائت بانی و
مدرس شعبه تجوید و قرائت فی بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ عَلٰى رَسُوۡلِهِ الۡكَرِيۡمِ

گرانو عزت منو مسلمانانو ورونو د فوائد مكيه د مصنف نوم مولانا قاري عبدالرحمٰن مكي رحمه الله دی، فوائد مكيه ته په اسلامي مدارسو كي د درس او تدريس د پاره ډير زيات مقبوليت وركړل سوی دی، او د تجويد په اكثرو مدارسو كي په نصاب كي داخل دی، او دا كتاب مشتمل دی پر دري بابونو، او ديارلس فصلونو باندي، پر دې كتاب باندي مختلفو قراوو حضراتو حاشيې ليكلي دي، خو كومي حاشيې ته چي د متن په ډول شهرت وركړل سوی دی هغه د قاري عبدالمالک حاشيه ده، او قاري عبدالمالک يو څو ضروري مضامين د ضميمي په ډول د دي رسالي په اخر كي د تجويد او قرائت د طلباوو د افادي د پاره زيات كړي دي، هغه دا دي: اول النطق بالضاد، دويم د سجدي تلاوت بيان سره له ضروري فقهي مسائلو، دريم باب التكبير څلورم الحال المرتحل، پنځم تكرار سورة التوحيد فی التراويح، او همدا ډول ډيرو علماء كرامو د دي كتاب ترجمه په مختلفو ژبو سره كړي ده، الله پاک دي دوی ټولو ته بدله وركړي، ما احقرمدني هم د دي كتاب د لا ښه واضح كيدو او د عامو مسلمانانو د فائدي اخستلو د پاره څه حاشيې ورضم كړي دا حقرمدني په نامه، له الله پاک څخه عاجزانه تمنا او آرزو كوم چي زما دا ليكنه يوائي د خپلي رضا موجب وګرځوي، او زه احقرمدني طلباء كرامو ته دا زيری او خوشخبري وركوم چي ما احقر د دي كتاب د جوړولو په دوران كي له جناب نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره د جمعي مباركي په شپه تاريخ: ٢٠١٠/١/٨ ميلادي په خوب كي زيارت وسو، كوم خوب چي ما وليدی د هغه تأويل لويو معتبرو شيخانو دا سي راته وكړو چي دا ستاله قرآن كريم سره اخلاص او د هغه خدمت كول دي، نو څوک چي له قرآن كريم سره مينه لري او د هغه خدمت كوي هغو خلكو ته به انشآءالله الله پاک په خوب كي د جناب نبي كريم صلى الله عليه وسلم زيارت ورپه برخه كړي، او زه احقرمدني د قرآن كريم له خادمانو څخه دا غوښتنه كوم چي دوی دي د جمعي مباركي په شپه پر نبي كريم صلى الله عليه وسلم درود شريف زيات وايي، چي هغه درود دا دی: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ اَفۡضَلَ الصَّلَوٰتِكَ، نو تاسو ته به انشآءالله د نبي كريم صلى الله عليه وسلم زيارت په خوب كي درپه برخه سي، ځكه چي د دې درود په يوه وار ويلو سره د لسو زرو درودونو ثواب ملاويږي، او زه له جناب مفتي لعل محمد صاحب څخه چي

ده له ما سره هر وخت د كتاب په چاپولو

كي مرسته كړي ممنون يم.

## د كتاب ټول حقوق له مور سره محفوظ دي

## احقرمدني

## غفرله الباري



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿د حضرت مؤلف مختصر حالات﴾

نوم يي: عبدالرحمٰن لقب يي: خاتمة القراء في الهند نسب يي: الٰه آبادي مسلک يي: حنفي ديوبندي پيدا ايښ يي:
په ۱۲۸۰ هجري مطابق ۱۸۶۴ عيسوي و فات يي په ۱۳۴۲ هجري

حضرت قاري عبدالرحمٰن مکي ابن محمد بشير خان د استاد القراء حضرت قاري عبدالله مکي کشر ورور وو، دوی دواړو ورونو د حضرت علامه مولانا رحمت الله کيرانوي مهاجر مکه وباني مدرسه صولتيه مکّه مکرّمه څخه په مدرسه صولتيه کي استفاده وکړه او تراوړدي مودي پوري دوی دواړو له حضرت مولانا سره وو، او دواړه ورونه له باب ابراهيم سره او سيدل دوی دواړه له صولتيه مدرسي له ټولو څخه اول مشهور مصري استاد قاري ابراهيم سعد ابن علي ته حواله کړل سول. **تعليم او تربيت**: حضرت مولانا دا استاد په ډير اهتمام سره په مدرسه صولتيه کي د تجويد، قرائت، او د قرآن کريم د حفظ د پاره مقرر کړی وو، او قاري ابراهيم سعد ابن علي پر دي دواړو ورونو باندي د لوړ صلاحيت په وجه سره ډير محنت وکړو، او ښه تربيت يي ورکړو لږ ورځي وروسته د دوی والده صاحبه وفات سوه، دواړه ورونه په مدرسه صولتيه کي استوګن سو، مشر ورور قاري عبدالله مکّي له قاري ابراهيم سعد ابن علي څخه قرائات سبعه او عشره مکمل کړل، او بيا حضرت قاري عبدالرحمٰن مکّي له خپل ورور څخه قرائات سبعه، او قرائات عشره پر طريقه دُرّه او طيّبه مکمل کړل، کله چي دا دواړه ورونه له تعليم څخه فارغه سول نو حضرت مولانا رحمت الله صاحب وه قاري عبدالرحمن مکي ته حکم وفرمايلو چي ته هندوستان ته ولاړ سه د تجويد او قرائت اشاعت وکړه، حضرت قاري صاحب هندوستان ته تشريف راووړ، او د مزيد تعليم حاصلولو د پاره کانپور ته ولاړو، هلته يي د مولانا احمد حسن کانپوري په مدرسه کي داخله واخسته او د درس نظامي کورس يي مکمل کړو، او د عربي علوموکتابونه يي له اول څخه تر اخره وويل، او د فراغت سند يي حاصل کړو، بيا په دي مدرسه کي مدرس مقرر سو، او څو کاله يي تدريسي خدمات ترسره کړل، او د ه له مولانا قاري محمد غازي صاحب څخه د قرائات ثلاثه سند د تبرک د پاره حاصل کړو، او تر دي مخکي ده قرائات عشره پر طريقه دُرّه او طيبه له خپل مشر ورور حضرت قاري عبدالله مکي څخه مکمل کړي وو، د کانپور په علمي او ديني حلقو کي ده ته په ډير عزت سره کتل کيدل. **تدريسي خدمات**: د حضرت مولانا احمد حسن کانپوري په سفارش باندي ديولوی تاجر له لور سره ده واده وسو، بيا د الٰه آبادي رئيس شيخ عبدالله الٰه آبادي ته راوه غوښتو، بيا يي له عبدالله مسجد سره متصل له ريلوي سټيشن سره نژدي په مدرسه احياء العلوم کي تر يو اوږدي مودي پوري تدريس وکړو، د ده له ښو توجهاتو څخه دا مدرسه تر ډير مودي پوري د علم، او قرائت مرکز وو، او په زيات شمير سره خلکو له دي مدرسي څخه استفاده واخستله، بيا يو څه زمانه وروسته قاري صاحب له احياء العلوم مدرسي څخه د حضرت مولانا عين القضاة صاحب په بلنه مدرسه عاليه فرقانيه لکهنو ته تشريف يووړ، او صدر المدرسين مقرر سو، په هندوستان کي د ده ابتدايي زمانه وه خلک له ده سره واقف سوي نه وو، لکهنو ته له راتللو څخه وروسته ده په ډير شوق او جذبه سره د تجويد او قرائت تعليم ته توجه وکړه او په لنډ وخت کي په عوامو او خواصو کي د ده شهرت تر لري لري ځايو پوري ورسيدو، او شهرت يي دومره زيات سو چي له ډيرو لريو ځايو څخه طالبان وده ته راغلل، او د مکي په وجه سره د ده نوم نور هم په عوامو کي محبوب سو، او دا ښکاره ده چي د هندوستان د صف اول استادان او قاريان د قاري صاحب په افاده سره تيار سول، په کانپور، الٰه آباد، او شاوخوا ښارو کي د ده فيض عام سو، تر دي چي د بنګال، برما، پنجاب، او د کابل شاګردان راغلل او له ده څخه يي استفاده وکړه. **علمي مقام**: د حضرت قاري صاحب حافظه ډيره قوي وه، شاطبيه، دُرّه، طيبه، دا ټول کتابونه يي ياد وو، پر اصولو او فروعو يي علم وو، ډير وخت يي د فني کتابونو په مطالعه کي تيراوو، او هر کال به يي په رمضان المبارک کي په تراويحو کي دوه ختمه د قرآن کريم کول. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿مُقَدِّمَة(١) الْكِتَاب﴾

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ سَيِّدِنَا وَنَبِيِّنَا وَشَفِيْعِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّاتِهٖ اَجْمَعِيْنَ۔

پيژندل پکار دي چي قرآن مجيد د تجويد په قواعدو سره ويل ډير(٢) زيات ضروري(٣) دی که چيري په تجويد سره قرآن مجيد ونه ويل سي نو ويلو والا ته به خطا کونکی ويل (۴) کيږي نو که چيري داسي غلطي ورڅخه وسي چي يو حرف په بل حرف سره بدل سي(٥) يا يو حرف کم کړي يا يو حرف زيات کړي(۶) يا په حرکاتو (٧) کي غلطي وکړي يا ساکن(٨) متحرک کړي يا متحرک ساکن کړي، نو ويلو والا گناه گار دی (٩) که چيري داسي غلطي وسي چي په هغي سره د لفظ هر حرف سره د حرکت او د سکون څخه ثابت پاته سي صرف بعضي صفات کوم چي د حرف د ښائست سره تعلق لري او غير مُمَيِّزه (١٠) دي(١١) دا که چيري ادا نسي نو خوف عقاب .

حواشي.(١) ديو علم يا يو فن هغه حصه چي د هغه علم ابتدائي شيان لکه تعريف، غرض، موضوع، حکم، بيانيږي او په هغه سره په دراتلونکو مضمونو کي پوهي حاصليږي هغه ته مقدمه وايي. مصنف هم دا دري شيان بيان کړي دي (٢) لامر الله تعالى، وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا، والترتيل هو تجويد الحروف ومعرفة الوقوف، وفى الحديث، اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ اَنْ يُّقْرَءَ الْقُرْاٰنُ كَمَا اُنْزِلَ، اخرجه ابن حزيمة في صحيحه عن زيد ابن ثابت عن النبي صلى الله عليه وسلم، وفى منح الفكريه شرح الجزريه لملا على قاري مطبوعه مصر صفحه ١٨ واخذ القاري بتجويد القرآن وهو تحسين الفاظه باخراج الحروف من مخارجها واعطاء حقوقها من صفاتها ومايترتب على مفرداتها و مركباتها فرض لازم وحتم دائم ثم هذ العلم لاخلاف فى انه فرض كفاية والعمل به فرض عين على صاحب كل قرائت وروايةٍ ولو كانت القرائة سنة. (٣) لفظ د ضروري شرعي او عرفي دواړو ته شامل دی، په کوموصورتونو کي چي له تجويد څخه خلاف ويلو سره لحن جلي او د معنى فساد راځي هلته شرعا ضروري دی، او په کوموصورتونو کي چي لحن خفي لازم راسي هلته عرفا ضروري دی. (۴) دا وپيژنی چي کوم شی په حديث او اجماع سره ثابت وي د هغه پريښوونکی به خطاوي، او گناه گار وي داسي په تجويد کي دوه شيان دي، حرام، مکروه. احقر مدني (٥) بدلول د حرف د مخرج او يا د صفت په وجه سره وي، مثلاً د کاف پرځای قاف يا د صاد پرځای سين ووايي، لکه په قُلْ اَعُوْذُ کي، کل اعوذ، او په عَصٰى اٰدَمُ کي چي عسى اٰدَمُ ووايي. (۶) مثلاً د ضرب لکم پرځای ضربالکم، او وَلَاتَقْرَبَا پرځای وَلَاتَقْرَبَ ووايي (٧) مثلاً وَاِذِ ابْتَلٰى اِبْرَاهِيْمَ رَبُّهٗ کي د ميم د فتحي پرځای ضمه او د باء د ضمي پرځای فتحه ووايي. (٨) مثلاً د اَنْعَمْتَ پرځای اَنَعَمتَ، او د ضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ پرځای وضَرَبَنَالکم ووايي. (٩) د يته اهل فن لحن جلي وايي او په داسي غلطيانو سره لفظ او معنی دواړه او يا يو اځي لفظ ته تغير ورسيږي، احقر مدنی (١٠) د ه مؤلف مراد په ښکاره صفات عارضه دي ځکه چي د دوي د نه ادا کولو غلطي يي په لحن خفي کي داخله کړي ده او د ابنکاره ده چي د صفات لازمه وو فقدان ضرور د موصوف د نقصان باعث وي او په معنی کي د حروفو د مخرج او صفات لازمه غلطي په لحن جلي کي ليکي (پاته په راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

اوترتېنه ده، اولني قسم غلطيوته لحن (۱)جلي وايي اودويم قسم غلطيوته لحن خفي(۲) وايي دتجويد معنی(۳)ده هرحرف له خپل مخرج(۴) څخه سره له ټولو (۵)صفاتو ادا (۶)کول، ددي تجويد موضوع(۷)حروف تهجي دي اوغاية(۸)دحروفو تصحيح ده اوپه خوش اوازی سره

حواشي :پاته حاشيه ،لکه څنګه چي په نهايت القول المفيد مطبوعه مصر صفحه ۲۲ کي دي فاما الجلي فهو خطا يطرءُ على الفاظ فيُخلُّ فی العرف اعنی عرف القرائة وغيرهم وهويکون فی المبنیٰ او الحرکة او السکون والمراد من المبنیٰ حروف الکلمة ومن الخطاء فيه تبديل حرف باخر کتبديل الطاد الأ بترک اطباقها واستعلائها او تاءً بترکها وباعطائها همساً ، اوصفات لازمه اکثره مميزه وي اوکوم صفات لازمه چي مميزه نه وي هغه ډيرکم دي اويا للاکثر حکم الکل ښکاره دی اوصفات لازمه متضاده اکثره لازم النقيض هم دي چي ديوه په فقدان سره به دهغي ضد ضرور واقع کيږي، بهرحال صفات لازمه اګرکه څه وخت مميزه نه وي ليکن ددوی په انفکاک سره به په موصوف کي ضرور څه ناڅه نقصان واقع سي پورته معلومه سوه چي دمبنٰی غلطي لحن جلي کي شامله ده خواه په معنٰی کي مُخل وي اوکه نه وي اودلحن خفي تعريف يي په صفحه ۲۳ کي داسي ليکلی دی، ثم اعلم ان اللحن الخفي ينقسم الی قسمين احدهما لايعرف الا علماء القرائة کترک الاخفاء والقلب والاظهار والادغام والغنه الخ، اولږ مخکي يي ليکلي دي، والثاني لايعرف الا مهرة القرائة کتکرير الرائات وتطنين النونات وتغليظ اللامات وتشويبها الغنه وترعيد الصوت بالمدود والغنات وترقيق الرائات فی غيرمحل الترقيق الخ، له دي عبارت څخه هم صفا او ښکاره معلومه سوه چي دلحن خفي په غلطيو کي يي تغليظ الام او ترقيق الراء او داسي نور بيان کړي دي په مخرج او صفات لازمه کي ذکر د غلطي نسته په هم دي بنا باندي دلته هم مصنف له صفات لازمه غيرمميزه وو څخه شايد بلکي غالباً صفات لازمه مرادنه کړل (۱۱)دعلماوو په دي کي چي له غيرمميزه څخه کوم صفات اخلي دوي رايي دي، دبعضو علماوو دا رأيه ده چي له دي څخه مراد صفات عارضه دي، ځکه چي مصنف دصفات عارضه وونه ادا کولو ته لحن خفي ويلي دي، او دبعضو رأيه دا ده چي له غيرمميزه څخه مراد صفات لازمه غيرمميزه دي، دليل يي دادی چي اهل فن صفات عارضه ووته غيرمميزه نوم نه دی ورکړی، هغه چي عارضه اخلي دليل يي ظاهره قوي معلوميږي، ځکه چي دلحن خفي اطلاق پر صفات عارضه وو عموماً کيږي، خوښه دا ده چي غير مميزه عام وبلل سي چي ترهغه لازمه غيرمميزه او عارضه دواړه لاندي سي، ځکه که موږ يوازي عارضه واخلو نوله کتاب څخه به دلازمه غيرمميزه وو حکم راوه نه وځي او که يوازي لازمه غيرمميزه واخلو بيا به دا معلومه شي چي مصنف دمخرج اوصفت لازمه دپرېښوولو حکم بيان کړی، اودصفات عارضه دپرېښوولو حکم يي نه کړو بيان. احقرمدني (۱)دجلي معنی ده واضح اوښکاره يعني داغلطياني داسي ښکاره وي چي ددي ادراک اوحس سواله قراوو عواموته هم کيږي

(۲)دلحن خفي معنٰی ده پټ اوباريک، يعني داغلطياني له عوامو څخه پټي دي، ددي احساس يوازي ماهرينو قراوو ته کيږي.

(۳)مرادله معنی څخه اصطلاحي تعريف دی، ځکه چي حروف په خپل مخرج کي اداکول اودهغو صفات اداکول دتجويد اصطلاحي تعريف دی، اولغوي معنی دتجويد ښه ښائسته او عمده کارکول دي، لکه چي ويل کيږي، التجويد جعل الشی جيداً، احقرمدني (۴)دحروفو دوتلو ځای ته مخرج وايي جمعه يي مخارج ده. :(۵)صفات دصفت جمعه ده، صفت دحرف هغه کيفيت اوحالت دی چي له هغه سره حرف په اعتبار د ذات سره سخت والی يا نرم والی يا قوي والی يا ضعف والی، اويا په اعتبار د محل سره حلقي يا شفوي کيدل معلوم سي اودصفاتو فائده دا ده چي ديو مخرج ډيرحروف په خپل مينځ کي سره بېل کړي. (۶)دحروفو په اداکولو کي ددي خبري لحاظ ضروري دی چي په اداکي تکلف ونه سي مثلاً ترضرورت زيات شونډو ته حرکت ورکول اويا خوله کږيدل اويا له مخ څخه ګران والی يا پريشاني ښکاره کيدل، ژر ژر دسترګو بانه بندول يا پوزه پرسول، يا په تندي باندي ګونجي کول، له دي ټولو تکلفاتو څخه ځان ساتل او په ښه طريقه اداکول پکار دي، دي خبري ته علامه(پاته په راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

ويل امرزائد مستحسن(۱) دی او که چيري دتجويدله قواعدو خلاف نه وي، که نه نومکروه ډی که چيري لحن خفي څندي کيدی او که چيري لحن جلي څندي راتلی نو بيا حرام او ممنوع دی دويلو او اوريدلو دواړويو حکم(۲) دی

## ﴿اول باب﴾

## اوّل فصل داَعُوۡذُ بِاللّٰهِ او بِسۡمِ اللّٰهِ په بيان کي(۳)

دقرآن مجيد له (۴)شروع کولو څخه مخکي اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ ضروري (۵)ده او الفاظ (۶)يي دادي اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ که څه هم په نورو طريقو (۷)سره هم ثابته ده، خو بهتره(۸) داده چي په دغو اَلفاظو (۹)استعاذه و کړل سي، او کله چي سورة شروع کړل سي نو دبِسۡمِ اللّٰهِ ويل هم

---

حواشي پاته حاشيه: جزري اشاره کړي ده په دي قول سره (مُكَمَّلاً مِنۡ غَيۡرِ مَا تَكَلُّفٍ بِاللُّطۡفِ فِی النُّطۡقِ بِلَا تَعَسُّفٍ)ترجمه په داسي حال کي چي مکمل کونکي به وي قاري تجويدلره بي له څه تکليفه او په نرمه اداکولو سره (۷)دکوم شي حالات ذاتيه چي په کوم فن کي بيانيږي هغه ته دهغه فن موضوع وايي.(۸)له کوم کار څخه چي کوم ه نتيجه مقصود وي هغه ته غايه وايي.(۱) ددي بهتروالی له څواحاديثو څخه ثابتيږي، (حَسِّنُوا الۡقُرۡآنَ بِاَصۡوَاتِكُمۡ فَاِنَّ الصَّوۡتَ الۡحَسَنَ يَزِيۡدُ فِی الۡقُرۡآنِ حُسۡنًا)ترجمه: تاسو قران ته زينت ورکوی په خپلو اوازو سره، ليکن خوش اوازي په تجويد کي داخله نه ده، نو که خوش اوازي دتجويد تابع شي نو دابه ښه وي. (۲)چي غلط ويل منع سو، نو دا ښکاره ده چي له غلط ويونکي څخه قرآن اوريدل هم حرام او يا مکروه دی، او چي دثواب حاصلولو نيت يي وی بيا بالکل نه دی روا، نو دويونکي او اوريدونکي يو حکم دی، لکه مصنف چي وايي، السَّامِعُ كَالۡقَارِي، له حروف تهجي څخه مراد الف با تا ثادي، هجا ځکه ورته وايي چي هجايو ځای کيدو او پيوسته کيدو ته وايي، په دوی سره هم کلمي جوړيږي. احقرمدني. (۳)دلته مؤلف ددي شيانو بيان کوي، محل استعاذه، حکم استعاذه، الفاظ استعاذه، محل بسم الله، الفاظ بسم الله، حکم بسم الله، داعوذ بالله او بسم الله فصل او وصل، بسم الله په روايت دحفص رح کي جز دهرسورة کيدل، او اعاده د استعاذي. احقرمدني (۴)له دي عبارة څخه دامعلومه سوه چي محل داعوذ بالله مطلقا ابتدا ءدتلاوت دی، که ابتداء دسورت وي او که نه. احقرمدني (۵)لکه څنګه چي الله پاک داستعاذي امر کړی دی(فَاِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡآنَ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ) ترجمه: کله چي ته قرآن وايي نو پناه غواړه په الله پاک سره له شيطان ترټلي، که څه هم داامر وجوبي نه دی، خو عرفا ضروري دی (۶) مختاره الفاظ يي دادي. (۷)مثلاً اعوذ بالله القادر من الشيطٰن الغادر، اعوذ بالله القوي من الشيطٰن الغوي، اعوذ بالله السميع العليم من الشيطٰن الرجيم او داسي نور (۸)ځکه چي په دي الفاظو سره استعاذه دنص الفاظو سره موافقه ده، او بل دا چي له ابن مسعود رض څخه روايت دی چي ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخ کي داسي وويل اعوذ بالله السميع العليم من الشيطٰن الرجيم، هغوی وويل چي داسي وايه اعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم، او نافع ابن جبير له ابن مطعم څخه روايت کوي او هغه له خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به له قرائة څخه مخکي اعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم ويل که څه هم دا دواړه حديثونه ضعيف دي خو د تخصيص داستعاذي د الفاظو دپاره مفيد دي سراج القاري مطبوعه مصر صفحه ۲۷.

(۹)که څوک دا سوال وکړي چي موافقت خو په هغه وخت کي راځي چي

پر ځای داعوذُ (پاته حاشيه پر راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

ضروري (۱) دى سوا له سورة برآئة (۲) څخه، او د سورتو په مينځ (۳) او اجزاوو كي اختيار دى كه يي خوښه وي بِسۡمِ اللّٰهِ دي وو ايي او كه يي خوښه نه وي نه دي و ايي، د اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ (۴) او بِسۡمِ اللّٰهِ په ويلو كي څلورصورتونه دي فصل كل، وصل كل، فصل اول وصل ثاني، وصل اول

حواشيُ : پاته حاشيه ؛ استَعِيذُ ، يا استَعذتُ ، يا نَستَعِيذُ ويلي واي لكه صاحب د هدايي چي دا الفاظ مختاره كړي دي جواب دادى چي د دي امر د امتثال د پاره په يو ځاى كي دا صيغه راغلي ده لكه (قُل اَعوذُ بِربِّ الفَلَقِ، قُل اَعوذُ بِرَبِّ النَّاس) او دا سي نور، او په نشر مطبوعه دمشق كي راغلي دي وفى صحيح ابي عوانة عن زيد ابن ثابت رض ان النبي صلى الله عليه وسلم اقبل علينا فقال تعوذ بالله من عذاب النار قلنا نعوذ بالله من النار، او په صفحه ۲۴۸ كي دي وقد علّمنا رسول الله صلى الله عليه وسلم كيف يستعاذ فقال اذا تشهد احدكم فاليستعذ بالله من اربع يقول اللم اعوذ بک من عذاب جهنم ومن عذاب القبر ومن فتنة المحيا والممات ومن شر فتنة المسيح الدجال رواه مسلم، له دي عباراتو څخه معلومه سوه چي د استعاذي مختاره الفاظ هم دادي (۱) عن ابن خزيمة ان النبي صلى الله عليه وسلم قرأ بسم الله الرحمن الرحيم فى اول الفاتحه فى الصلواة وعدها اية ايضا فهي اية مستقلة منها فى احد الحروف السبعة المتفق على تواترها وعليه ثلثة من القراء السبعة ابن كثير وعاصم وكسائیؒ فيعتقد ونهاية منها بل من القرآن اول كل سورة من الاتحاف فى القراة الاربعة عشر، وقيل اية تامة من كل سورة وهو قول ابن عباس وابن عمرو سعيد ابن جبير والزهري وعطاء وعبد الله ابن المبارک وعليه قراء المكة والكوفة وفقهاءها وهو القول الجديد للشافعي من منار الهدى فى الوقف والابتداء والحاصل ان التاركين اخذو بالحال الاول والمبسملين اخذو القول الاخير، ولا يخفى قوة دليل المبسملين لاسيما مع كتابة البسملة فى اول كل سورة اجماعا من الصحابة من شرح الشاطبية لملا على قارى ثم المبسملون بعضهم يعدها اية من كل سورة سوا سورة برآءة وهم غير قالون من كنز المعاني شرح حرز المعاني قال السخاوي تلميذ الشاطبي واتفق القراء عليها فى اول الفاتحه كابن كثير وعاصم وكسائیؒ يعتقد ونهاية منها ومن كل سورة، والصواب ان كل من القولين حق وانها اية من القرآن فى بعض القراءات وهى قرائت الذين يفصلون بها بين السورتين وليست اية فى قرائت لم يفصل بها، النشر فى القراءات العشر للعلام الجزري. (۲) د جمهورو مسلک هم دادى چي كه د سورة توبي اخُخه شروع وسي او يا له سورة انفال وروسته سورة براءة شروع سي بسم الله دي نه وايي، لكه علامه شاطبي چي په خپل كتاب مطبوعه مصر باب البسملة بين السورتين صفحه ۷ كي بيان كړى دى، ومهما تصلها او بدأت براءة لِتنزيلها بالسيف لست مبسملاً يعني كله چي سورة توبه له يو سورة سره يو ځاى كوي يا شروع كوي له سورة توبه څخه نو بسم الله به نه وايي ځكه چي دا سورة په سيف او قتال سره نازل سوى دى، او كتاب النشر فى القراءات العشر مطبوعه دمشق صفحه ۲۶۳ كي دي لاخلاف فى حذف البسملة بين الانفال وبراءة عن كل من بسمل بين السورتين وكذالک فى الابتداء فى الصحيح عند اهل الاداء وممن حكى الاجماع على ذالک ابو الحسن ابن غلبون وابو القاسم ابن الفحام ومكي وغيرهم وهو الذى لايوجد النص بخلافه، يعني د انفال او براءة په مينځ كي د بسم الله په حذف كي خلاف نسته له هغه چا څخه چي د دوو سورتو په مينځ كي يي بسم الله ويلي ده او دا و ل په ابتداء كي د بسم الله په حذف كي اختلاف نسته په صحيح قول كي، او ابو الحسن ابن غلبون او ابو القاسم ابن فحام او مكي هم پر نه ويلو د بسم الله اجماع كړي ده، له دي دواړو عباراتو څخه دا معلومه سوه چي جمهور قراء د سورة براءت په شروع كي ابتداءً او اتصالاً په يوه حالت كي هم بسم الله نه وايي، او بعض لكه علامه سخاوي او ابو الفتح ابن شيطا د امسلک دى چي د سورة براءت په شروع كي بسم الله ويل روا دي، لكه د نشر په مذكورة صفحه كي چي دي وقد حاول بعضهم جواز البسملة فى اولها قال ابو الحسن السخاوي انه قياس لان اسقاطها اما ان يكون لان براءت نزل بالسيف او لانهم لم يقطعوا بانها سورة قائمة بنفسها دون الانفال فان كان لانها نزلت بالسيف فذالک مخصوص بمن نزلت فيه ونحن انما نسمي للتبرک وان كان اسقاطها لانه لم يقطع (پاته حاشيه په راتلونكي صفحه)

پاته حاشی: بانها سورة وحدها فالتسمية فی اوائل الاجزاء جائزة وقد علم الغرض باسقاطها فلا مانع من التسمية ،یعني بعض خلکو لکه ابو الحسن السخاوي دبسم الله جوازپه دي سورة کي ثابت کړی دی ویلي دي بسم الله ویل په دي سورة کي دقیاس مطابق دی، او وایي چي دبسم الله نه ویل خو یاله دي وجي دی چي سورة براءة په سیف او قتال سره نازل سوی دی، او یاله دي وجي چي سورة براءة مستقل سورة بي له انفال څخه نه دی، نوکه دبسم الله ویل په وجه دنزول بالسیف وي نو هغه خو خاص دی په هغه چاپوري چي دهغو په باره کي دا سورة نازل سوی دی چي هغه کفار دي، او موږ د تبرک دپاره بیا بسم الله وایو، او که دبسم الله نه ویل له دي وجي وي چي دا سورة یقیني مستقل سورة نه دی، نو بسم الله خو د اجزاوو په اول کي راواده، نو دبسم الله په ویلو کي هیڅ مانع نسته، خو دا خبره ده چي دقراءت اما مانو دبسم الله نه ویل په دي سورة کي مختاره کړی دی، او اصل علت دعدم تسمية دوه شیان دي، یو دا چي سورة براءت دي دانفال جزوي، دویم دا چي دصحیفو په رسم خط کي بسم الله نه ویل، لکه حضرت عثمان رض چي په جواب دحضرت ابن عباس رض کي کوم جواب ویلی دی هغه هم دبسم الله دنه ویلو تائید کوي، وقد اخرج احمد واصحاب السنن وصححه ابن حبان وحاکم من حدیث ابن عباس قال قلت لعثمان ما حملکم الی ان عمدتم الی الانفال وهی من المثاني والی براءة وهی من المئین فقرنتم بهما ولم تکتبوا بینهما سطر بسم الله الرحمن الرحیم ووضعتموها فی السبع الطوال فقال عثمان کان رسول الله صلی الله علیه وسلم کثیرا ما ینزل علیه السورة ذات العدد فاذا انزل علیه الشی یعني منها دعا بعض من کان یکتب فیقول ضعوا هؤلآء الایات فی السورة التي یذکر فیها کذا وکانت الانفال من اوائل ما نزل بالمدینة وبراءة من اخر القرآن وکان قصتها شبیهة بها فظننت انها منها فقبض رسول الله صلی الله علیه وسلم ولم یبین لنا انها منها فتح الباري جلد ۹ ـ صفحه ۳۵ تا ۳۶ ـ ترجمه: احمد او اصحاب السنن د دي تخریج کړی دی، او ابن حبان او حاکم یي تصحیح کړي ده، په روایت دابن عباس رض چي هغوی له حضرت عثمان رض ته وویل چي تاسو کوم شي پر دي خبره باعث کړی چي سورة انفال چي له مثاني وو څخه دی، او براءة چي له مئینو څخه دی دا دواړه مو یو ځای کړل او په مینځ کي مو بسم الله نه ولیکله، او دواړه مو په سبع طوال کي کیښودل، حضرت عثمان رض جواب ورکړو چي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډیر ځله اوږده سورتونه نازلیدل نو کله چي به پر هغوی باندي څه حصه نازله سوه نو به یي د وحي کاتب راوغوښتلو او ورته به یي ویل چي دا ایاتونه په هغه سورة کي وساته چي په هغه کي داسي داسي ذکر دی، او سورة انفال له هغو سورتونو څخه دی چي په مدینه شریفه کي اول نازل سوی دی، او سورة براءة له هغو سورتونو څخه دی چي په اخر کي نازل سوی دی، او ددوی دواړو قصي یو دول دي، نو ما دا گمان وکړو چي براءة دانفال جزدی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات سو موږ ته یي دا بیان ونه کړو چي دا د دي جزدی (۳) په اصل اُردو عبارت کي مصنف دمینځ پر ځای لفظ داوساط ویلی دی، او ساط جمعه دوسط ده او اجزاء جمعه دجزده، وسط معنی مینځ او جز معنی حصه، نوکه دسپاري او یا سورة له شروع څخه سوا، له بل ځای څخه شروع دقرائت وي بیا دبسم الله ویل او نه ویل دواړه روادي، خو په مابین دسورتو او اجزاوو کي به دبسم الله ویل له دي وجي نه وي چي دبسم الله ویلو محل نه دی، بلکه وجه د دي حدیث پر بنا دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، چي دهر نیک کار په شروع کي بسم الله ونه ویل سي هغه کار بي برکته دی، الفاظ یي دا دي (کُلّ امرذي بال لَم یبدَءفیه ببسم الله فهو اَبتَر) احقر مدني (۴) دا څلور صورتونه هغه وخت دي چي قرائت شروع له اوله د سورتو څخه وي، او که چیري دقرائت شروع دسورة له شروع څخه نه وي، بلکه دسورة له اجزاوو څخه وي او بسم الله هم وایي ،بیا یوازي دا دوه صورتونه فصل کل او وصل اول فصل ثاني روادي، پاتي دوه صورتونه چي هغه وصل کل او فصل اول وصل ثاني نه دي روا، اتحاف مطبوعه مصر صفحه ـ ۷۶ ـ یعلم مما تقدم من التخیر فی الابتدا با الاجزا مع ثبوت البسملة بین السور انه لا یجوز وصل البسملة بجز من اجزاء السورة لا مع الوقف ولا مع وصله بما بعده اذ القرائت سنة متبعة ولیس اجزاء السورة محله للبسملة عند احد والمنع من ذالک اولی من منع وصلها باخر السورة الخ،

احقر مدني غفرله الباري



Maktaba Tul Ishaat.com

فصل ثاني، هر کله چي یو سورة (۱) ختم کړل سي او بل سورة شروع کړل سي نو دري صورتونه جائزدي او څلورم صورة جائزنه دی، یعني فصل کل، او وصل کل، او فصل اول وصل ثاني جائزدي، او وصل اول فصل ثاني جائزنه دی (۲) ﴿فائده﴾ د امام عاصم په نزد چي د هغه روایت حفص په تهوله دنیا (۳) کي ویل کیږي د هغه په نزد بِسۡمِ اللّٰهِ د هر سورة جزده (۴) نو په دي لحاظ سره چي کوم قاري سورة بي له بِسۡمِ اللّٰهِ و وایي نو هغه سورة به د امام عاصم په نزد ناقص وي، او همدا د ول که تهوله قرآن و وایي، نو په څو مره سورتونو کي چي بِسۡمِ اللّٰهِ نه وي ویل سوي، هغو مره ایاتونه په قرآن کي ناقص او کم وي (۵) ﴿فائده﴾ که چیري د قرائت په مینځ کي یو څه کلام اجنبي (۶) راسي که څه هم د سلام جواب یي وچاته ورکړی وي، بیا اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ راګرځول پکاردي ﴿فائده﴾ په زوره (۷) قرائت کي اَعُوۡذُبِاللّٰهِ په زوره ویل پکاردي او که چیري په کراره یا په زړه کي اَعُوۡذُبِاللّٰهِ و وایي نو بیا هم څه حرج نسته (۸) د بعضو قول داسي دی

حواشي: (۱) که چیري د یو سورة ختمولو وروسته هر یو سورة شروع کړي د قرآني ترتیب په موجب کي وي او که نه وي، خو د سورة براءة له دي حکم څخه مستثنی دی، اظهار احمد تهانوي (۲) ځکه چي په دي صورة کي دا شبه پیدا کیږي چي بسم الله د مخکي سورة د ختمیدلو په وجه و ویل سوه، او حال دا چي د بسم الله ویلو سبب د بل سورة شروع کول دي، (۳) وجه د ډیر والي یي شاید دا وي چي حفص رح او امام اعظم ابو حنیفه رح دواړه د امام عاصم رح شاګرد دی، او په سبقه سره شریکان وو، نو دا ممکنه ده چي د احنافو په فقهي مسائلو کي دي حفص رح د خپل رفیق درس تقلیدا او مختاره کړی وي، او بیا یي حرکات او تکي هم د هغه روایت موافق لګولي وي، والله اعلم احقر مدني (۴) خو دا ښکاره ده چي بسم الله له هر سورة څخه جز کیدل امر قطعي نه دی، ځکه چي د مجتهدینو او فقهاو په دي کي اختلاف دی، احناف د جزء قرآن قایل دي، او شوافع د جزء هر سورة قایل دي، همدا رنګه ابن کثیر عاصم کسائي وطرفته نسبت د اعتقاد د جز هر صورة کیدل امر ظني دی، قطعي نه دی ولي چي د تفسیر او قرائت په کتابونو کي د کوم تالیف کونکي چي شافعي المذهب دي د هغوی قول دی چي دا قراء د جزء هر سورة قایل دي، او د دي قراو څخه روایت د اعتقاد د جزوالي د هر سورة د نظر څخه تیر سوي نه دي البته د بسم الله روایت د دي قراو څخه قطعي دی او اعتقاد د جزیت فقهي مسئله ده علم قرائت سره د دي هیڅ تعلق نسته. (۵) لفظ د ناقص د خراب په معنی استعمالیږي، د لته مقابل د کامل دی، نو معنی یي سوه نامکمل، نو مطلب دا سو چي د کوم سورة په شروع کي بسم الله و نه ویل سي هغه سورة د روایت حفص په اعتبار نامکمل ګڼل کیږي، یعني د سورة یو ایات له تلاوت څخه پاته سوی دی، نو کله چي په روایت حفص رح کي بسم الله تلاوتاً د هر سورة جزده، نو دا ښکاره ده چي نه ویل یي یو ایت کمیدل دي. احقر مدني (۶) اجنبي معنی چي هغه له قرائت سره څه تعلق نه لري، او یا بي له څه وجي سکوت وکړي، نو اعوذ بالله راګرځول ضروردی، ځکه چي اعراض له قرائته لازمیږي، که وروسته د قرائت اراده لري او که یي نه لري، او که سکوت د معنی د فهمولو د پاره وي بیا د اعوذ بالله راګرځولو ضرورت نسته. احقر مدني (۷) خو د قرائت په مینځ کي به اعوذ بالله په هر حال کي آهسته وایي، که قرائت جهري وي او که سري، او دا مطابقت د لمانځه له حالت څخه سوا په نورو وختو کي ملحوظ دی. احقر مدني (۸) ځکه چي ایت مطلق دی د استعاذي بالسر یا بالجهر قید نسته.



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دويم فصل د مخارجو(١) په بيان کي دى﴾

مخارج د حروفو څوارلس(٢) دي اول مخرج اقصٰی حلق(٣) له دي څخه ،ا،ء،ه،ادا کيږي دويم مخرج وسط حلق دى،له دي څخه،ع،ح،ادا کيږي دريم مخرج ادنٰی حلق له دي څخه،غ،خ،ادا کيږي څلورم مخرج اقصٰی لسان او پورته تالو ،له دي څخه،ق،ادا کيږي پنځم مخرج د قاف له مخرج څخه لږ لاندي د خولي وخواته له دي څخه ،ک،ادا کيږي،دي دواړو حروفو يعني،ق،او ،ک،ته حروف لهويه (۴) وايي شپږم مخرج وسط(٥) لسان دى،له دي(۶) څخه،ج،ش،ى،ادا کيږي أووم مخرج حافه لسان او دزامو غاښو (٧) بيخ دى،له دي څخه ض،ادا کيږي اتم مخرج طرف لسان او دغاښو (٨) بيخ دى،له دي څخه،ل،ن،ر ،ادا کيږي

---

حواشي.(١) دمخرج لغوي معنى ده موضع الخروج يعني دوتلو ځاى ،او اصطلاحي معنى يي موضع خروج الحروف،يعني هغه ځاى چي حروف ورڅخه پيدا کيږي، مخرج پر دوه قسمه دى،يو محقق،او بل مقدر ،د محقق تعريف دى،جزءٌ معيّنٌ من اجزاء الحلق واللسان ولشفتين،دمخرج مقدر تعريف دى،جزءٌ غير معينٌ،دحرف لغوي او اصطلاحي معنى،لغوي معنى يي طرف او کناره ،او اصطلاحي معنى يي ،صوت يعتمد على مخرج محقق او مقدر ،اصول دمخارجو پنځه دي ،حلق،لسان ،شفتين، خيشوم ، جوف دهن،حلق لسان شفتين تعلق ترمخرج محقق پوري لري،خيشوم او جوف دهن تعلق ترمخرج مقدر پوري لري.احقرمدني (٢) داچي دلته يي دمخارجو تعداد څوارلس کړو ،او دفن په نورو کتابو کي يي دمخارجو تعداد اوولس دى،ددي دواړو قولو تطبيق ورروسته راځي،طالبان دي څه تشويش نه کوي .احقرمدني(٣) دلته داشک کول نه دى پکار،چي حروف حلقي سره له الفه أوه سول،او دحروف حلقي وومشهوره شمير دجمهورو په نزد شپږ دى، ځکه چي الف بالاتفاق هوايي اوجوفي دى،دجوف ابتداء له اقصى حلق څخه کيږي،له دي وجي فرّاء الف مخرج اقصى حلق وګرځولو ،لکه څنګه چي دمخارجو په بيان کي په فائده اوله کي ښکاره ده. (۴) نسبة الى اللهات وهى لحمة مشتبكة باخر اللسان،يعني دژبي بيخ ته مخامخ يوه ټکړه ده چي هغي ته په اردو کي ،کوّا، او په پښتو کي ،ژبى وايي،دهغي طرفته يي نسبة دى.(٥) او دتالو مينځ.(۶) فرّاء جوف دهن مستقل مخرج نه دى بللى ،نو يي له،ى، سره دمده او غير مده قيد نه دى لګولى،نو دفراء مذهب له رويه ،ى،که مده او غير مده وي، مخرج يي محقق دى، دا دول ،واو ،که مده وي او که غير مده وي، ،نو پر دي تقدير، واو ،مخرج هم محقق دى.احقرمدني(٧) يعني پورته زامي ځکه چي له لاندي زامو څخه يو حرف نه اداکيږي،که څه هم په جزرية او نورو کتابو کي د ،ض،دمخرج په بيان کي له زامو سره ،دبيخ قيد نه دى ذکر سوى،خو دفوايد مکيه مصنف دا قيد ځکه زيات کړى دى،چي اکثره خلګو به دته خبرتيا په وجه د ،ض،دادا کولو په وخت کي حافه لسان دزامو له دننې حصي سره دلګولو پر ځاى،دلاندي هغي حصي سره چي په هغه ځاى سره خوراک ژول کيږي لګوله، او دفن په نورو کتابو يوازي دلوړو غاښو ذکر سته،دحصي ذکر يي نسته،نو کله چي مصنف د خلګو د غلطى احساس وکړو نو يي د بيخ قيد ورسره زيات کړى،چي خلک په مبتلا نه سي.احقرمدني(٨) مصنف دغاښو تعين نه دى کړى،چي کوم غاښونه ددي مخرج دي، ددي دنه تعين خو يادا وجه کيداى سي،چي دفن له نورو کتابو دي داتعين معلوم سي،او (پاته په راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

نم مخرج دژبي څوكه او ثنايا عليا بيخ دى، له دي څخه، ط، د، ت، اداكيږي لسم مخرج د ژبي څوكه او د ثنايا عليا كناره، له دي څخه، ظ، ذ، ث، اداكيږي يوولسم مخرج دژبي څوكه او ثنايا سفلى كناره سره له يو ځاى(۱) والي د ثنايا عليا، له دي څخه، ص، ز، س، اداكيږي دوولسم مخرج لاندي شونډه او د ثنايا عليا كناره له دي څخه، ف، اداكيږي ديارلسم مخرج دواړه شونډي دي، له دي څخه، ب، م، و، (۲) اداكيږي څوارلسم مخرج د خيشوم دى له دي څخه غُنه(۳) اداكيږي، مراد له دي څخه نون مخفى او مدغم په ادغام ناقص دى

---

حواشي: پاته حاشيه: يادا چي پورته يي د، ض، په مخرج كي زامي ښوولي وي، نو دلته له غاښو څخه هم هغه غاښونه مراد كيداى سي، چي پر هغو د زامي د غاښو اطلاق نه كيږي، هغه ثنايا، رباعي، انياب، دي. احقرمدني (۱) له حروف اسليه، صفيريه، ثنايا سفلى او عليا سره كه څه هم ديو ځاى والي قيد په نورو كتابو ذكر دى، ځكه چي ضرورت يي سته، ځكه كه چيري د حروف صفيريه دادا كولو په وخت كي لاندي او پورته غاښونه يو ځاى نه وي، نو صفت د صفيريه به ناقص اداشي، له دي وجي د فوايد مكيه مؤلف دا قيد زيات كړو. احقرمدني (۲) كه څه هم د فراء او خليل پر مذهب د واو مده او غير مده مخرج محقق دى، ليكن د خليل پر مذهب دا فرق سته چي د واو مده مخرج جوف دهن دى، او د واو غيره مده مخرج شفتين دى، نو د واو غير مده مخرج د ټولو پر مذهب په هر لحاظ سره شفوي دى، مخرجاً هم اداءً هم، خو د واو مده مخرج د خليل پر مذهب مخرجاً شفوي نه دى، بلكه هوايي او جوفي دى، او اداءً شفوي دى، ځكه چي دده پر ماقبل ضمه لازمه ده او له ضمي سره خامخا انضمام شفتين كيږي احقرمدني (۳) غنه د صوت خيشوم نوم دى، او دا په ټولو حروفو كي ممكن الادا دى، خو په، م، ن، كي د صفت لازمه په ډول سره دى، او كله چي دا دواړه حروف مشدد يا مخفي يا مدغم بالغنه وي نو هغه وخت دا صفت على وجه الكمال پيدا كيږي، په دي حالتو كي خيشوم داسي دخل لري چي بي له دي صفت څخه، ن، م، بالكل نه اداكيږي، او يا به ډير ناقص اداكيږي، له دي وجي فرا ميكلي دي چي د ن، م، مخرج په دي حالتو كي خيشوم دى، اوس دلته ډير سوالونه كيږي، اول دا چي په ټولو لازمه صفاتو كي دا خبره پيدا كيږي چي بي له هغه څخه صفت نه اداكيږي نو د ټولو مخرج بيانول، يا بدلول، او يا د وه مخرجه ليكل پكار دي، جواب، كله چي د صفت غنه مخرج له ټولو مخارجو څخه جلا دى له دي وجي يي بيانولو ته حاجت سته، سواله نورو صفاتو، دوم سوال، چي نون مشدد، او مدغم بالغنه، او م، مطلقاً كه مشدد وي او كه مخفي په دي ټولو صورتو كي له اصلي مخارجو څخه په وتلو كي د مخرج بدليدل خونه معلوميږي، جواب، چي مخرج اصلي او خيشوم دواړو ته دخل سته، له دي وجي چي على صفت الكمال اداشي، دريم سوال، بعض قاريان ليكي چي په نون مخفي كي ژبي ته يوه زره دخل نسته، او د تجويد له بعضو كتابو څخه هم ددوى تأيد معلوميږي، خو كه غور او فكر وكړل سي او د ټولو په اقوالو مختلفه و باندي نظر وكړل سي، نو دا به واضحه شي چي نون مخفي لره په ژبه كي هم دخل سته خو ضعيف دى له دي وجي كالعدم داسي وګڼړل سو، لكه څنګه چي په حروف مده وو كي له اعتماد ضعيف څخه قطع نظر خليل ددوى مخرج جوف دهن بيان كړى دى، دا ډول د نون مخفي تعريف داسي كيږي، حرف يخرج من الخيشوم لاعمل للسان فيه، ترجمه يعني يو حرف مخفي دى، چي د پوزي له بيخ څخه اداكيږي، او د ژبي هيڅ دخل په كي نسته، اوس له دي عبارة څخه چي لاعمل للسان فيه، دا خيال پيدا كيږي چي ژبي لره هيڅ دخل نسته، ځكه چي نكره منفي عموم فائده كوي، كه چيري دا صحيح سي نو د حرف اطلاق صحيح نه دى، ځكه چي د حرف تعريف ملا علي قاري رح داسي ليكلى دى، صوت يعتمد على مقطع محقق او مقدر، ترجمه: يعني حرف يو داسي اواز دى چي تكيه كوي پر مخرج محقق او مقدر، مقطع (پاته حاشيه پر راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

پاته حاشيه: محقق يي حلق، لسان اوشفت يي اجزاء بيان کړی دی، اومقطع مقدريي جوف بيان کړی دی، له دي وجي په لاعمل للسان کي د عمل خاص نفي ده، لکه ځنګه چي له راتلونکو عباراتو ځخه معلومه ده، اودويم داچي د ملاعلي قاري رح له عبارت ځخه هم عمل دلسان ثابت دی، ځکه چي داسي يي ليکلي دي، وان النون المخفاة مرکبة من مخرج الذات ومن تحقق الصفة فی تحصيل الکمالات، ترجمه: نون مخفي مرکب دی له مخرج ذات ځخه اود کمالاتو په تحصيل کي صفت پيداکولو ځخه، دتحقق الصفت معنی ده وجود غنه اودهغي مخرج خيشوم دی، فثبت ماقلنا، ثالثاً: امام جزري په النشر فی القراءات العشر کي ليکلي دي، المخرج السابع عشر الخيشوم وهو الغنة وهی تکون فی النون والميم الساکنين حالة الاخفاء و مافی حکمه من الادغام بالغنة فان مخرج هذين الحرفين يتحول من مخرجه في هذه الحالة عن مخرجها الاصلي علی القول الصحيح کمايتحول من مخرج حروف المد من مخرجها الی الجوف علی الصواب، ترجمه: اوولسم مخرج دخيشوم دی، اوهغه دغني مخرج دی چي په نون ساکن يا اخفاء يا ادغام بالغنة په حالت کي وي، ځکه چي ددي دواړو حروفو مخرج په دي حالت کي پر صحيح قول باندي د خپل اصلي مخرج ځخه راګرځوي لکه ځنګه چي د حروف مده وو مخرج د خپل مخرج ځخه جوف طرفته راګرځي، اوبيا وروسته د نون ساکنه او تنوين په تنبيها تو کی ليکي، الاول مخرج النون والتنوين مع حروف الاخفاء الخمسة عشر، ترجمه: اول د نون او تنوين مخرج د اخفاء پنځلسو حروفو سره فقط د خيشوم ځخه دی، اوپه دي دواړو کي حرفوته په خوله کي د ژبي هيڅ حصه نسته ولي چي په دي دواړو کي د ژبي ځه کار کول نسته ځکه چي په دي کي د اظهاريا د ادغام بالغنة په صورت کي کيږي، له دي ځخه معلومه سوه چي نفی د قيد د مطلق عمل ځخه ده يعني په اظهار او ادغام بالغنة کي چي کوم عمل دی د ا په نون مخفي کي نسته وس که چيري د تحول معنی انتقال او تبدل مراد سي نو لاعمل کعمله مع مايد غمان بغنه به ددي معارض وي لهذا مراد د تحول ځخه توجه او ميلان دی په دي طريقي سره چي محول عنه او محول اليه دواړو لره دخل دی ليکن په نون خفيفه کي په نسبت د نون مشدده ژبي لره دير کم دخل دی په خلاف د نون مشدد او مدغم بالغنه او ميم مخفاة چي په دوی کي لسان او شفت لره زيات دخل او عمل دی يوه خبره بله د دي ځای ځخه بنکره کيږي چي په نون مخفي کي د ژبي لره داسي عمل هم نه وي لکه څرنګه چي په نون او ميم مشدد کي وي او نه د مابعد و الاحرف په مخرج دی اعتماد وي لکه ځنګه چي ،و،يا،ل،ر، کي ادغام باالغنه حالت کي اعتماد وي ولي چي په دي حروفو کي د ادغام بالغنه صورت دا دی چي نون په مابعد حرف سره بدل کړی اول حرف به د هغه د مخرج ځخه د صوت خيشوم سره ادا کړي په هم دي وجه کوم با، نون چي ،ی،و،ل،ر، کي مدغم بالغنه کيږي هغه چا چي په حرف سره تعبير کړی نه دی ولي چي دلته د نون ذات بالکل نيستي سوی دی او نه يي اصلي مخرج سره ځه تعلق پاته دی، صرف غنه باقي ده، چي د هغه محل خيشوم دی سوا له نون مخفي چي د دي تعريف دادی، حرف خفی يخرج من الخيشوم ولاعمل للسان فيه ولاشايبة حرف اخر فيه، ترجمة: دا يو خفي حرف دی چي له خيشوم ځخه اداکيږي او په دي کي د ژبي هيڅ کار پاته نه دی او مابعد حرف په دي کي هيڅ شايبة نسته، او س د امام جزري د قول ځخه هم ثابته سوه چي په نون مخفي کي د ژبي هم ځه دخل سته په نهايت القول المفيد کي د نشر ځخه زيات صفا مطلب اداکيږي، مخکي يي ليکلي دي چي خيشوم مخرج دی له نون او ميم غير مظهر ځخه بيا ليکي چي لايقال لابد من عمل اللسان فی النون والشفتين فی الميم مطلقا حتی فی حالة الاخفاء والادغام بغنة وکذ اللخيشوم عمل حتی فی حالة الاظهار والتحريک فلم هذا التخصيص لانهم نظروللاغلب فحکموا له بانه المخرج فلماکان الاغلب فی حالة اخفائهما وادغامهما بغنة عمل الخيشوم جعلوه مخرجهما حينئذ وان عمل اللسان والشفتان ايضا ولماکان الاغلب فی حالة التحرک والاظهار عمل اللسان والشفتين جعلوها المخرج وان عمل الخيشوم حينئذ ايضا الخ، رابعاً د غني او اخفاء ځخه غرض د لفظ تحسين دی او کوم ثقل چي د حروفو ترکيب ځخه پيداکيږي د هغي تخفيف مقصود وي او په کومه اخفاء کي چي د ژبي ذره تعلق هم نه وي هغه محال نه دی ليکن ګران ضروري دی او صوت هم خراب سي که چيري په ځه تکلف سره اداکړل سي، حاصل دا دي چي د نون مخفاة اداکولو په

وخت کي به ژبه تالو سره متصله يعني يو ځای وي

خو اتصال به ډير زيات ضعيف وي.



Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده﴾ دا مذهب(۱) د فرّاء و غيره دى(۲) او د سيبويہؒ په نزد شپاړس مخرجونه دي، هغوى د ل، مخرج حافه لسان له هغه ځخه وروسته يي دنون مخرج ويلى دى، له هغه وروسته د ر، (۳) مخرج دى، او د خليل په نزد مخرجونه اوولس دي، هغه د ل، ن، ر، مخرج جلا جلا (۴) ښوولى دى او حروف علت چي(۵) هر كله مده وي د هغوى مخرج يي جوف ويلى دى ﴿فائده﴾ (۶) د ا اختلاف د څوارلسو، او شپاړسو، او اُولسو، حقيقي اختلاف نه دى(۷) فراء په ل، ن، ر، كي د نزديوالي لحاظ كړى دى، او ددوى مخرج يي يو ويلى دى، سيبويہؒ او خليلؒ د نزديوالي لحاظ نه دى كړى، او د هريوه مخرج يي جلا جلا بيان كړى دى، لكه څنګه چي د محقيقنو قول (۸) دى چي د هر حرف مخرج جلا دى، مګر ډير نزديوالي په وجه سره يو شميرل كيږي، وعلى هذا القياس د حروف مده و مخرج خليلؒ جوف ويلى دى، او فراء او سيبويہؒ د مده او غير مده يو مخرج ويلى دى، او د جوف مخرج يي زيات كړى نه دى، په دي كي تحقيق دا دى چي الف باالكل هوايي حرف دى، په دي كي اعتماد دا وازپه يو ځه (۹) جز معلوم باندي نه كيږي، د دي

---

حواشي: (۱) يعني د هغه مذهب موافق چي دلته په كتاب كي د حروفو مخرجونه څوارلس بيان كړل سوي دي. احقرمدني (۲) فراء سيبويه خليل، دا د تجويد امامان دي، دوى د قرآني حروفو صحيح دادا اليارہ ډير په زړه پوري خدمتونه سرته رسولي دي، نن چي موږ د حروف قرآني وو صحيح اداكوو، دا ددوى د كوششونو له وجي څخه. احقرمدني (۳) يعني كوم ترتيب چي په جمال القرآن، مقدمة الجزرية، او معلم التجويد او نورو كتابو كي دى، هغوى هم د دي حروفو مخرجونه جلا جلا بيان كړي دي. احقرمدني (۴) يعني د سيبويه په ډول، سيبويه د حروف طرفيه وو مخرج جلا جلا ښودلى دى، په دي وجه له خليل ابن احمد فراهيدي سره دى، او جوف ته د جلا مخرج نه ويلو په وجه له فرا سره دى. احقرمدني: (۵) يعني واو، او يا، ځكه چي د مده او غير مده وطرفته هم دغه واو او يا مو يشل كيږي، سوا له الفه چي هغه هميشه مده وي، له دي وجي الف هميشه له جوف څخه اداكيږي. احقرمدني (۶) د مخارجو د شمير د اختلاف بيانولو وروسته مصنف اوس د فايدي په ضمن كي د دي اختلاف نوعيت، او دا چي په دي باره كي تحقيق څه دى، دا دوه شيان بيان كړي دي. احقرمدني (۷) دا اختلاف حقيقي نه بلكه اعتباري دى، ځكه كه حقيقي واي نو ممكنه وه چي د حرف پر ادا باندي يي اثر اچولى واى، او سره له دي اختلافه د حروفو پر ادا باندي يي هيڅ اثر نه دى كړى، احقرمدني (۸) د محققينو دا قول چي د هر حرف مخرج جلا جلا دى دا له دي وجي، چي د هر حرف اواز د بل حرف له اواز څخه جلا او مختلف دى، او دا سي هيڅ دوه حرفونه نسته چي د هغوى آواز دي يو وي، كله چي دا سي وو، نو ضرور به د هر حرف مخرج د بل حرف له مخرج څخه جلا وي، ليكن د بعضي حرفونو په مخرجو كي د ومره زيات نزديوالى وي چي هغه په الفاظو جلا جلا بيانيدلاى نه سي، نو يي مخرج يو بيان سوى دى، كه نه نو پكار خو دا وو چي د هر حرف جلا جلا مخرج واى، خو دا فرق نه په الفاظو بيانيدلاى سي، او نه شاګرد د هغه تميز كولاى سي. احقرمدني (۹) دا الف په اداكيدلو كي دا واز پر يو جز معين باندي نه اعتماد پو هيدل په هغه وخت كى په ذهن كي راتلاى سي چي هر كله د (منَ السَّماءِ، او مِن مآء) په شان كلماتو كي دا داكولو په وخت كي غوږونه دالف واواز ته متوجه (پاته په راتلونكي صفحه)

دپاره فرا رح او سیبویه رح (۱) مبدأ مخارج یعني اقصٰی حلق ددوی مخرج ویلی دی او حرف
،و ،او ، ی، هر کله چي مده وي نو هغه وخت اعتماد دا وازپه ژبه او شونډانو باندي ډیر ضعیف
وي، خو وي ضرور (۲)، نو فراءؒ او سیبویؒه ددي ضعیف اعتماد په وجه سره دمده او غیرمده په
مخرج کي فرق ونه کړی (۳) امام خلیلؒ دضعف او قوت (۴) لحاظ کړی دی نو ځکه یي یو مخرج
جوف زیات کړی دی.

## ﴿دریم فصل دصفاتو (۵) په بیان کي دی﴾

دجهر معنی په شدت (۶) او زور سره ویل دي، ددي صفت ضد همس دی یعني په نرمي (۷)

حواشي: کړل سي، او بیا غور وکړل سي چي آیا دده اوازپه یو مقطع محقق باندي دریږي او که نه، که داسي وشي، تاسو به پوه سی چي الف واقعي جوفي او هوایي دی، او په ده کي دا وازاعتماد پر یو جزمعین باندي مطلقانه کیږي، احقرمدني (۱) دسیبویه او فراء مبدء مخارج یعني اقصي حلق دالف مخرج ګرځول په دي باندي دي چي دوی جوف دهن دیو حرف مخرج نه ګرځوي، لهذا دوی دده مخرج هم هغه ځای وګرځوی، لکه خلیل چي ګرځولی دی، احقر مدني (۲) او داو ول، دقُولوا، او، فِیهِ، کلماتو دا داکولو په وخت کي، که چیري غور وشي، نو ددي ضعیف اعتماد احساس کیدلای سي. احقرمدني (۳) یعني دي لږ اعتماد ته یي څه اهمیت ورنه کړی نه په همدي وجه یي دمده او غیرمده مخرج جلا جلا نه کړی بیان، احقرمدني (۴) خلیل صاحب چي دواو، او یاء مده او غیرمده مخرج جلا جلا شمیرلی دی چي داعتماد صوت دقوت او ضعف دفرق پر بناء باندي دی، دهغه احساس داسي هم کیدای سي چي قَولْ، او قُولُوا، او داو ول، بَیِعٍ، او فِیهِ، او داسي نورو کلماتو دپرله پسي اداکولو کي دواو، او یاء، په اوازونو کي غور او فکروسي، نو د ابه محسوسه سي چي دمده دادا کولو په وخت کي خو پر مخرج محقق باندي اعتماد ډیر خفي او پټ کیږي، چي هغه تقریبا کالعدم او نه کیدونکي په درجه کي دی، لیکن دلین دادا کولو په وخت کي به دمده په نسبت اعتماد قوي او زیات وي. احقرمدني (۵) دصفاتو په بیان کي مصنف ډیر اختصار کړی دی، دلته څو شیان یادولری، ۱، دصفت تعریف، ۲، دصفت اقسام، ۳، دصفاتو تعداد، ۴، په هر حرف کي څو صفات دي، ۵، په هر حرف کي زیات زیات څومره صفتونه موجودیږي، ۶، په حروفو کي دصفاتو معلومولو طریقه، ۷، دهر صفت لغوي او اصطلاحي معنی، او دا چي دحرف پر ادا باندي ددي صفاتو څه اثر پریوځي، دصفت لغوي معنی، ماقَامَ بِالشی، هغه دی چي په یو شي باندي قائم وي، خپله مستقل وجود نه لري، دصفت اصطلاحي معنی، صِفَةٌ لَاحِقَةٌ لِلحَرفِ عِندَ حُصُولِه فِی المُخرَجِ، یو صفت دی چي حرف ته عاضیږي هغه وخت چي په مخرج کي حاصل یعني اداسي، ۲، دصفاتو قسمونه، صفت پر دوه قسمه دی، صفت لازمه، صفت عارضه، بیا صفات لازمه پر دوه قسمه دي، صفات لازمه متضاده، صفات لازمه غیر متضاده، ۳، دصفاتو شمیر، دجمال القرآن پر طریقه صفات لازمه اوولس دي چي په هغو کي لس، متضاده او اووه غیر متضاده دي، او صفات عارضه په اتو حروفو کي دي چي دهغو مجموعه ده، لَرمَن اوِی، ۴، په هر حرف کي دصفاتو تعداد، په هر حرف کي لږ ترلږه پنځه صفات او زیات اووه صفات وي، ۶، په حروفو کي دصفاتو معلومولو طریقه دا ده چي د حروفو مجموعي ته وګوره که چیري ستا هغه مطلوبه حرف په کي وو خو بنه ده، او که نه وو نو به په ضد کي ضرور وي، ۷، او دهر صفت لغوي او اصطلاحي معنی به دهر یوه سره راسي، احقرمدني: (۶) دلته له شدت څخه دقوت معنی مراد ده، دسختي معنی نه ده مراد، ځکه که چیري دسختي معنی مراد شي نو جهر او شدت به شی واحد شي، او هر مجهوره (پاته پر راتلونکي صفحه)

سره ويـل اوددي لس حروف دي چي دهغو مجموعه، فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتَ، ده له دي حروفو څخه ماسوا پاتـه نور له حروف مجهوره دي، د شديده اته حرفه دي چي دهغو مجموعه، أَجِدُ قَطٍ بَكَتْ، ده ددي حروفو دسکون (۱) په وخت کي اواز بندسي، پنځه حروف مُتوسّطه دي چي دهغو مجموعه، لِنْ عُمَرَ، ده په دي حروفو کي اواز بالکل (۲) نه بنديږي پاته حروف ماسوا له شديده او متوسطه وڅخه نور ټول له حروفِ رخوه دي يعني ددوی اوازجاري (۳) کيدلی سي، خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ، دا حروف متصف دي په استعلاء سره يعني ددي حروفو دادا کولو په وخت کی اکثره حصه دژبي (۴) لوړ تالو طرفته پورته کيږي ددي څخه ماسوا پاته ټول له حروف په استفال (۵) سره متصف دي ددي حروفو دادا کولو په وخت کي اکثره حصه دژبي (۶) نه پورته کيږي، صَطْ ضَظْ، دا حروف متصف دي په اطباق (۷) سره يعني ددي حروفو دادا کولو

---

حواشي: پاته حاشيه: به شديده شي، او حال دا چي له بعضو مجهوره صفاتو سره رخوه صفت متصل دی، مثلاً، ذر، او داسي نور لکه څنګه چي دصفات لازمه وو له نقشي څخه معلومه ده. (۷) دلته له نرمی څخه ضعف مراددی چي دقوت مقابل دی، هغه نرمي نه ده مراد چي دسختی مقابل دی، که نه نو مهموسه حرف به رخوه سي، او حال دا چي، کاف او تاء، مهموسه دي، (۱) څرنګه چي دجريان او احتباس صوت ادارک او احساس دسکون په حالت کي واضح طور باندي وي ددي دپاره يي دسکون قيد ولګولو که نه نو مطلقاً په هر حالت کي دا صفت پيدا کيږي، لکه څنګه چي دغني صفت په نون او ميم متحرک کي هم وي خو دسکون په حالت کي زيات صفا معلوميږي. (۲) دلته لفظ دبالکل دقطعا په معنی نه دی، لکه په عام استعمال کي چي په معنی دقطعا دی، ځکه بيا به يي مطلب داسي چي په دي حروفو کي اواز قطعا نه بنديږي بلکه پوره جاري وي، او دا تعريف درخوه حروفو ده، بلکه دلته په معنی دبالکليه دی، يعني په پوره ډول سره، نو مطلب دا سو چي په دي حرفو کي اواز ټول نه بنديږي، بلکه څه جاري وي، احقر مدني (۳) مطلب دا دي چي ددوی په تلفظ کي چي دکومي درجي جريان صوت ضروري دی دهغه څخه زيات هم ممکن دی لکه څنګه چي له مشاهدي څخه ثابت دی (۴) مطلب دا دی چي ددي صفت په وجه چي دا واز څو مره اندازه جاري کيدل ضروري وي په هغه اندازه جاري سي. احقر مدني (۵) استفال لره انفتاح لازم دی لهذا هر مستفله حرف به منفتحه ضرورووي او انفتاح لره استفال لازم نه دی، نو دهر منفتحه حرف مستفله کيدل ضروري نه دي لکه څنګه چي د، غ، خ، ق، څخه ښکاره دی، حاصل دا چي صفت دانفتاح يو داسي کيفيت دي چي له استفال او استعلاء دواړو سره جمعه کيدای سي. (۶) دلته له اکثري حصي څخه مراد دژبي اخره حصه ده، ځکه چي داستعلاء په وجه سره لوړ تالو ته هم دژبي اخره حصه يعني منتهی لسان پورته کيږي، البته حروف د، صط، ضظ، کي چي کله استعلاء او اطباق دواړه پيدا کيږي، له دي وجي په دوی کي داستعلاء دصفت له کبله دژبي اخرنی حصه پورته تالو ته پورته کيږي، او داطباق په وجه سره دژبي مينځ دپورته تالو سره ونښلي، هم دا وجه ده چي په نسبت دغين، خاء، او قاف، دص، ض، ط، ظ، تفخيم او دکوالی زيات وي، ځکه چي په اولو دريو يعني، خ، ق، غ، کي خو صرف استعلاء ده او دهغه له کبله دژبي اخره حصه پورته کيږي، او په وروستنيو څلورو حروفو کي دژبي له اخرنی حصي سره سره دژبي مابين هم دلوړ تالو سره يو ځای کيږي. احقر مدني (۷) په اطباق او استعلاء کي هم هغه نسبت دعموم او خصوص دی يعني هر مطبقه به مستعليه ضروروي ليکن دهر مستعليه مطبقه کيدل ضروري نه دی.



Maktaba Tul Ishaat.com

په وخت کي اکثره حصه دژبي(۱) له تالوسره يوځای سي ددي څلورو حروفو څخه ماسوا پاته تړوله حروف په انفتاح سره متصف دي يعني ددي حروفو اداکولو په وخت کي اکثره ژبه له تالوسره (۲) نه يوځای کيږي، داصفات(۳) چي کوم ذکرسول متضاده دي، دجهرضد همس دی اودرخوت ضدشدت دی، اوداستعلاء ضداستفال دی، اوداطباق ضدانفتاح دی نوهريو حرف به په څلوروصفتونو (۴) سره ضرورمتصف وي دپاته صفاتوضدنسته د **قلقلي** پنځه حرفه دي چي دهغومجموعه ده، قُطُبُ جَدٍّ، خوپه قاف کي قلقله واجبه ده په پاته څلورو حرو فوکي(۵) جائز(۶) ده دقلقلي معنی ده په مخرج کي (۷) جټکه ورکول په سختي (۸) سره

---

حواشي: (۱) له اکثره څخه مرادد ژبي مينځ دی، ځکه چي داطباق اوانفتاح تعلق يواځي له ژبی سره دی، له دي وجي ددوی په اداکيدلوکي داستعلاء په وجه دژبي اخرنی حصه هم پورته تالوته پورته کيږي، اود اطباق په وجه يواځي دژبي مينځ پورته تالوته پورته کيږي. احقرمدني (۲) په دوی کي چي حروف مستعليه دي، يعني، غ، خ، ق، په دوی کي به داستعلاء په وجه دژبي پای پور ته تالوته پورته کيږي، نودکومو حروفو په اداکيدوکي چه دژبي مينځ دپورته تالوسره يوځای کيږي په هغوی کي به دژبي پای هم لازما پورته کيږي، له دي وجي ويل کيږي چي داطباق سره استعلاء لازم دی. احقرمدني (۳) يعني جهر، همس، شدت، رخوت، استعلاء، استفال، اطباق، انفتاح، داته صفتونه سول. احقرمدني (۴) اکثرمصنفينوصفت داصمات اواذلاق هم د صفات متضاده په سلسله کي بيان کړی دی، لکه په جزري کي چي هم موجود دی مصنف عليه الرحمة شايد ددي دپاره داصفات بيان نه کړل چي دي دواړو صفتونوته دنورولازمه صفاتو په شان اهميت حاصل نه دی، لکه څنګه چي دفن له مطولاتو کتابو، لکه نشر، اوجهدالمقل، کي چي ددي هيڅ بيان نسته، اونه ددوی په تعريف کي څه وصف يا کيفيت بيان کړل سوی دی(۵) ددي معنی دانه ده چي له قاف څخه سواپه باقي څلوروحروفوکي دقلقلي کولويانه کولو اختيار دی، يادقلقلي وجوداوعدم دواړه برابرنه دي، بلکي مطلب دا دی، چي په قاف کي دقلقلي صفت اظهار په مقابله دباقي حروفو کي زيات کول پکار دي، لکه څنګه چي دتجويدله معتبروکتابو څخه معلوميږي، مثلاً علامه شاطبي رح فرمايي، وفی قطب جد خمس قلقلة اعلی وَاَعرَفُهُنَّ القافُ كُلٌّ يَعُدُّهَا، ترجمه په کلمه د قطب جدٍ کي پنځه حروف دقلقلي مشهور دي، اوپه دوی کي زيات مشهورقاف دی، چي خلک يي دقلقلي په مشهوره حروفوکي شماري، اوعلامه جزري رح فرمايي، وَبَيِّنَنْ مُقَلْقَلاً اِنْ سَكَنَا، وَاِنْ يَكُنْ فِی الوَقْفِ كَانَ اَبْيَنَا، اوپه شرح شاطبي دعلامه قاري مطبوعه دهلي صفحه ـ ۱۴۷ ـ کي دي وقال ابن الحاجب، هوصوت فلق الحيزوكل من القراء يجعل القاف منها القوة ضغطها، قال ابوالحسن اصل القلقلة القاف، وقال ابوالعباس بعضها اشدمن بعض والمستقرة غيرها او تړوله قاريان قاف له حروف قلقلة وو څخه ګرځوي، په وجه دهغه دقوت ابوالحسن ويلي دي، چي اصلي په حروف قلقله وو کي قاف دی، ابوالعباس ويلي دي چي په دوی کي بعضي له بعضو څخه زيات شديد دي، اوله حروف قلقله څخه علاوه باقي حروف مستقره يعني غيرقلقله دي، اونهايت القول المفيدمطبوعه مصرصفحه ۵۲ کي دي، والحال ان القلقلة صفة لازمة لهذه الاحرف الخمسة لكنها فی الموقوف عليها قوی منها فی الساكن الذي لم يوقف عليه لان تعريف القلقلة باجتماع الشدة والجهر كما فی المرعشي يشيرالی ان حروف القلقلة لاتنفک عن القلقلة عندتحركها وان لم تكن القلقلة عندتركها ظاهرة كما ان حرفی الغنة وهما النون والميم لايخلو عن الغنة عندتحركها وان لم تظهر فبذالک تبين انّ مراتبها ثلثة وهذه القلقلة بعضها اشدمن بعض واقواها القاف بالاتفاق لشدة ضغطه واستعلائه انتهی، ترجمه حاصل ددي چي قلقله د دي پنځو حروفو دپاره (پاته حاشيه په راتلونکی صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

## په راء کي صفت د تکرار دی (۱) لیکن له دي څخه چي څو مره ممکنه وي ځان ساتل پکار دي

حواشي: پاته حاشیه: صفت لازمه دی، لیکن په موقوف علیه کي قوي دی تر هغه ساکن چي پر هغه وقف ونه کړل سي، او په متحرک کي هم قلقله وي خو هغه د هغه ساکن په نسبت کمه وي چي پر هغه باندي وقف ونه کړل سي ځکه چي د قلقلي تعریف په جمع والي د شدت او جهر سره دی، لکه څنګه چي مرعشي کي دی، چي اشاره کیږي دیته چي حروف قلقله د خپل تحرک په وخت کي له قلقلي څخه نه جلا کیږي، که څه هم د حرکت په وخت کي له غني څخه خالي نه وي، که څه هم غنه ښکاره نه سي له دي څخه معلومه سوه چي د قلقلي دري درجي دي، او دا حروف قلقله بعضي د بعضو څخه زیات شدید دي، او له ټولو څخه زیات قوي قاف دی بالاتفاق، د ده د سختوالي او استعلاء په وجه، انتهی، نو د ټولو عباراتو خلاصه دا سوه چي په قاف کي د قلقلي صفت تر نورو حروفو اقوی دی، له دي څخه دا نه لازمیږي چي په باقي حروفو کي دا صفت معدوم دی، ځکه چي بیا به څه خرابی پیدا سي، اول، د تجوید په معتبرو کتابو کي یي د قلقلي صفت د صفاتو لازمه وو په سلسله کي بیان کړی دی، او د صفات لازمه په جلاوالي سره د موصوف ناقص اداکول ښکاره دی، وروسته د صفت قلقلي له انعدام سره د حروف قلقله اداکیدل په پوره طریقي سره څرنګه کیدای سي، دویم، کلمات، اَحَطتُ، بَسَطتُ، فَرَطتُ، او داسي نورو کي د ټولو په نزد ادغام ناقص ثابت دی، باالفرض که چیري په طاکي د صفت قلقلي انعدام صحیح او روا سي، نو بیا په اظهار او ادغام کي هیڅ فرق باقي نه پاته کیږي، او نه د ادغام د ثبوت د پاره څه دلیل پیدا کیږي، (۶) له جائز لفظ څخه ظاهرادا معلومیږي، چي له قاف څخه ماسوا په نورو څلورو حروفو کي د قلقلي کول او نه کول اختیاردی، او داسي نه دی، بلکه د قاف په ډول په پاته څلورو حروفو کي هم قلقله د ټولو قراوو په نزد عملاً او اداً ضروري دی، نو له دي وجي جائز په معنی د کامل، او واجب په معنی دا کمل دی. احقرمدني (۷) له دي حرکت څخه چي څه مراد دي، هغه دا دي چي د حروف قلقله د ادا په وخت کي یو اندام له بل اندام سره یو ځای سي، نو د عام و ساکنو حروفو په شان په هغه ځای کي قرار نه نیسي بلکه له یو ځای کید و څخه وروسته بیرته راو ګرځوی، د غه بیرته راګرځید و ته د دي فن علماء حرکت وایي، او په حرکت سره تعبیر ور څخه کوي، خو باید دا واضحه سي چي په عام ساکن حروفو کي خو دا قاعده ده چي هغه د مخرج د دوو حصو له یو ځای کید و څخه ادا کیږي، لکه تاسو چي په، فَاغسِلوا، اَشهُرٍ، اَضلَلنَ، او اَنعَمتَ، کي وا یاست، نو د لته د، غ، ش، ض، ل، ون، او، م، د اداکیدلو په وخت کي الصاق عضوین کیږي، او بیا هغه عضو متحرک هم هلته قرار و نیسي، او که څه حرکت ور نه کړل سي نو غلط بلل کیږي. والله اعلم احقرمدني (۸) څنګه چي حروف ټول مجهوره او شدیده دي، له دي سببه د دوی په اداکي دیوه اندام له بل اندام سره یو ځای والی په سختي سره دی، نو ښکاره ده چي له دي یو ځای والي څخه وروسته انفصال وي، په هغه کي به هم قوت او سختي وي، که او از سخت یا پورته نه وي نو قلقله به صحیح ادا نه سي. اَحقرمدني (۱) د تکرار لغوي معنی ده اعادة الشي مرة او اکثر، یعني یو شي مکرر کول یو وار یا زیات تر یوه وار، او اصطلاحي معنی یي مشابهت د تکرار دی، مطلب دا چي د، را، په اداکولو کي څه مشابهت د تکرار کیدلو پکار دی، دا صفت اداءً لازمي دی، که نه نو پر ځای د، را، به واو مفخم جوړ سي لکه څرنګه چي د بعضو خلګو داسي تلفظ دی، او کله چي تکرار حقیقي هم په را کي پیدا کیږي، له دي وجي له دي څخه ځان ساتل ضروري دی، که نه نو پر ځای دیوي را به دوي او په ځای د دوو به څلور جوړي سي، خصوصاً په را مشدده کي، لکه څنګه چي په مرعشي کي دي، لیس معنی اخفاء تکریره اعدام تکریره بالکلیه باعدام ارتعاد رأس اللسان بالکلیة لان ذالک لایمکن الابا المبالغة فی لصق رأس اللسان باللثة بحیث ینحصر الصوت بینهما بالکلیة کمافی الطاء المهملة و ذالک خطاء لایجوز، ترجمه د را د پټولو معنی دا نه ده چي د ژبي د سر رپیدل دي ختم کړل سي، او د دي تکریر بالکل ختم کړل سي، ځکه چي دا هلته کیدای سي چي کله د ژبي سر له اوری سره په لګولو کي دومره مبالغه وکړل سي چي اواز د دي دوارو په مینځ کي بالکل بند سي، لکه څنګه چي په طاء کي کیږي، او دا غلطي روا نه ده، او په نهایت القول

المفید صفحه ـ ۷۷ ـ کي (پاته حاشیه پر راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

په شين كي صفت د تفشي دی يعني په خوله كي اواز پاشل كيږي، او په ضاد كي صفت د استطالت (۱) دی او صاد، زاء، سين، صفت د صفير دی ديته حروف صفيريه ويل كيږي، او په، ن، م، كي يو صفت دا هم دی چي پزي (۲) ته اواز (۳) ځي او په بل هيڅ حرف كي دا صفت نسته او په دي صفات متضاده وو كي څلور صفتونه يعني جهر شدت استعلاء اطباق (۴) قوي دي پاته صفتونه ضعيف دي او صفات غير متضاده ټوله قوي دي، نو په هر حرف كي

---

حواشي: پاته حاشيه: دي، قال سيبويه رح اذا تكلمت بالرا خرجت كانها مضاعفة وذالک لما فيها من التكرير الذي انفردت به دون ساير الحروف وقد توهم بعض الناس ان حقيقة التكرير ترعيد اللسان بها المرة فاظهر ذالک تشديدها كما يفعله بعض الاندلسين والصواب التحفظ من ذالک باخفاء تكريرها كما هو مذهب المحققين وقد يبالغ من قوم في اخفاء تكريرها مشددة فياتي بها منحصرة شبيهة بالطاء وذالک خطاء لايجوز لان ذالک يؤدي الى ان يكون الراء من الحروف الشديد مع انه من الحروف البينية فينبغي للقاري عند النطق بها ان يلصق ظهر لسانه باعلى حنكه لصقا محكما سرة واحدة بحيث لايرتعد لانه متى ارتعد حدث من كل مرة راء فاذا نطق بها مشددة وجب عليه التحفظ من تكريرها وتأديتها برفق من غير مبالغة في الحصر نحو قوله الرحمن الرحيم الخ ترجمه: امام سيبويه ويلي دي چي هر كله ته د راء تلفظ كوي نو گويا هغه به غبرگه وځي ځكه چي په دي كي هغه تكرار پيدا كيږي، چي په هغه سره له باقي حروفو څخه علاوه صرف دا مخصوص ده، بعضو خلگو چي وهم كړی دی چي د تكرير حقيقت ژبه بار بار ړپول دي، او د دي د تشديد په وخت كي دا خبره ښكاره سوه څرنگه چي د اندلس بعضي خلگ يي كوي او صحيح داده چي تكرار دي پټ وساتلي سي، او له دي څخه دي ځان وساتي، چي دا د محققينو مذهب دی، او بعضي خلگ د تشديد په حالت كي د دي تكرير په پټولو كي مبالغه كوي او دا راء بنده كړي داسي اداء كوي چي له طا سره مشابه وي، او دا غلطي ده، روانه ده، ځكه چي د دي نتيجه به داسي چي، راء به له شديده حروفو څخه سي، سره له دي چي دا له حروف بينيه يعني متوسطه وو څخه ده، له دي وجي قاري ته دا مناسبه ده چي د دي د تلفظ په وخت كي د خپلي ژبي شاه د تالو له پورته حصي سره په يو ځل مضبوطه ولگوي، چي ژبه ونه رپيږي، كه چيري ورپيږي ضرور به يوه راء بله پيداشي، او كله چي په مشدده راء سره تلفظ كوي بيا له تكرير څخه ځان ساتل واجب دی، او دا دي په نرمي سره له ډيري مبالغي څخه سوا، ادا كړي، لكه الرَّحمٰن الرَّحيم، نو له دي اقوالو څخه دا ښكاره سوه، چي نفس مشابهت تكرار صفت لازمه، او اداء دی، د هغه اداكيدل پكار دي، او د ځان ساتلو حكم له تكرار حقيقي څخه دی، چي هغه غير اداء دی، له دي څخه ځان ساتل لازمي دی. (۱) دا ضروري ده، چي كه دا دا په وخت كي د دال اواز معلوم سي، نو په دي پوه سی چي د استطالت صفت اداء نه سو، ځكه چي په دال كي د شدت په وجه احتباس صوت وي، چي هغه له استطالت څخه منعه راولي، او كه د ظا په شان اواز معلوم سي، بيا د دي صفت اداء ممكن دی، خو د ژبي ځوكه به د ظا له مخرج څخه جلا وي، كه نه نو ضاد به ظا سي، او دا لحن جلي دی. احقر مدني (۲) چي هغه ته غنه وايي، او د غني تعريف دا دی، هی صوت اغنّ شبيه بصوت الغزالة اذا ضاع ولدها، يعني غنه يو بنگيدونكی اواز دی چي د هوسی له هغه اواز سره مشابه دی، كله چي د خپل بچي دوركيدلو په وخت كي له خولي څخه باسي. (۳) دي صفت ته په اصطلاح كي غنه وايي، د لته دا شيان ضروري دي، د غني تعريف د غني قسمونه، د غني مقدار، غنه وايي وپزي ته د اواز بيول، او غنه پر دوه قسمه ده، يو غني ته غنه اني وايي، چي هغه د نون صفت ذاتي دی، او بله غنه زماني ده، چي د هغي مقدار يو الف دی، او د الف د معلومولو اسانه طريقه داده چي خلاصي گوتي بندي يا بندي گوتي خلاصي كړه، احقر مدني (۴) دا فيصله يوازي د هغو صفاتو په لحاظ چي هغه په دي رساله كي بيان سوي دي، او په صفات غير متضاده وو كي لين ضعيف دی، لكه څنگه چي په اصمات او اذلاق كي اصمات قوي او اذلاق ضعيف دی. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

چي څو مره صفتونه د قوت (۱) وي هغه حرف به دومره قوي وي، او څومره صفتونه چي په حرف کي د ضعف وي هغه حرف به دومره ضعيف وي، حروف د قوت او ضعف په اعتبار سره

| اقوٰی حروف | قوي حروف | متوسط حروف | ضعيف حروف | اضعف حروف |
|---|---|---|---|---|
| ط،ض،ظ ،ق، | ج،د،ص،غ ،ر،ب، | ز،ت،خ،ذ،ع، ک،ء،ا، | س،ش،ل، و،ی، | ث،ح،ن،م، ف،ه |

پر پنځه قسمه دي(۲) ﴿فائده﴾ په همزه کي د شدت او جهر په وجه څه اندازه سختي وي خو دو مره سختي نه وي چي ،نو ،ورسره وښوري، ځکه چي له نامه سره د حروفو هيڅ تعلق نسته(۳)

﴿فائده﴾ ف،ه،دا دواړه حرفونه ډير ضعيف دي(۴) په ډيره نرمي سره يي اداکول پکار دي.

حواشي :(۱) دا د حروفو د قوت او ضعف معيار دی، دا پنځو قسمونو ته تقسيمېږي، د معلومولو طريقه يي دا ده چي د دي صفاتو مجموعي ته وګوره مثلاً (فَحَثَّهُ،شَخصٌ،سَكَتَ،اَجِدُ،قَطٍ،بَكَتَ،خُصّ ،ضَغطٍ،قِظ،صَط،ضَظ،) که په دي حروفو کي مطلوب حروف وو خوښه، که نه نو د دي حروفو په ضد کي يي وګوره. احقرمدني (۲) دلته په دي ځان پوه کول ضروري دي، چي په قوي صفتونو کي د قوت په لحاظ بعضي تر بعضو ډير قوي دي، چي تر ټولو قوي قلقله ده، بيا شدت، بيا جهر، بيا اطباق، او بيا استعلاء .اوبل دا چي دلته يوازي دا ذکر سو چي په فلانکي حرف کي دومره صفتونه د قوت دي، او دومره د ضعيف، د دي صفتونو نوم يي نه دی اخستی، د دي وجه دا ده چي طالبان يي په خپل محنت سره راوباسي، ځکه په کوم شي کي چي څوک خپله محنت وکړي هغه تر ډيره وخته په ذهن کي وي، اقوٰی حروف يي څلور ښوولي، په دي کي ،ط، داسي حرف دی چي ټول شپږ صفتونه يي قوي دي، ضعيف صفت په کي نسته، او په ،ض،ظ،ق، کي يو صفت د ضعف سته، هغه دا چي په ،ض ظ، کي رخوت او په ،ق، کي انفتاح دی .قوي حروف دا شپږ حروف دي، دلته په ،ص،ج،د، کي څلور صفتونه قوي دي، او دوه يي ضعيف دي، او په ،غ، کي دري صفتونه قوي ،دوه ضعيف، او په ،ر، کي دري صفتونه د قوت دي، او څلور د ضعف، او په ،ب، کي دري صفتونه د قوت دي، او دري د ضعف، متوسط حروف هغه دي چي په دوی کي قوت او ضعف دواړه برابروي، او اته حروف يي دي، ز، خو ښکاره ده ځکه چي دري يي قوي او دري ضعيف صفتونه دي، خو په باقي اووه حروفو کي سوال سته، ځکه چي په شپږو حروفو کي سوا له همزي دوه صفتونه د قوت دي، او دري د ضعف، او په همزه کي دري د قوت او دوه د ضعف دي نو قوت او ضعف يي برابر نه سول، جواب يي دا دی چي دي حروفو ته کوم لقبونه ورکړل سوي دي دا اصطلاح ده ولا مناقشةَ فی الاصطلاح .ضعيف حروف په دي پنځو حروفو کي قوي صفتونه دوه دي باقي ټول ضعيف دي ،له دي وجي دوی ته ضعيف ويل کيږي، اضعف حروف، په دي حروفو کي په ،ف، کي پنځه صفتونه ضعيف دي، او په ،ح،ث،ه، کي څلور صفتونه ضعيف دي، او په ،م،ن، کي دوه قوي صفتونه دي، چي هغه جهر او غنه ده، دوی ته چي اضعف وايي دا د ټولو مصنيفينو رايه ده نور تفصيل يي په جمال القرآن شرح ايضاح البيان کي له نقشي څخه وا خلی .احقرمدني.(۳) ځکه چي د مخارجو ابتداء له اقصی حلق څخه کيږي، تر هغه لاندي بل مخرج نسته، که تکليف وکړي نو خپل ځان به تکليف کړي، او که د همزي په اداکولو کي ،نو ،وښوري ادا يي غلطه او ښوريدل يي عيب دی. احقرمدني (۴) د دي مطلب دا نه دی. چي د دوی په ضعف او نرم والي کي دومره مبالغه وسي چي ،ف، دوا په ډول سي، او ،ه، د مسهله همزي په ډول سي.



Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده﴾ دحرف ،عين، حا، اداکولو په وخت کي خپله غاړه خپه کول نه (۱) دي پکار، بلکي له وسط حلق څخه په ډير لطافت سره بي له څه تکليفه ايستل يي پکار دي.

## ﴿څلورم (۲) فصل دهر حرف دلازمه (۳) صفاتو په بيان کي﴾

| شماره | دحروفو شکلونه | دصفات لازمه وو (۴) نومونه | شماره | دحروفو شکلونه | دصفات لازمه وو نومونه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ا | مجهوره رخوه مستفل منفتح (۵) مده مفخم يا مرقق (۶) | ۱۵ | ض | مجهوره رخوه مستعليه مطبقه مستطليه مفخم |
| ۲ | ب | مجهوره شديده مستفل منفتح قلقله | ۱۶ | ط | مجهوره شديده مستعليه مطبقه مقلقله مفخم |
| ۳ | ت | مهموسه شديده مستفله منفتحه | ۱۷ | ظ | مجهوره رخوه مستعليه مطبقه مفخم |
| ۴ | ث | مهموسه رخوه مستفله منفتحه | ۱۸ | ع | مجهوره متوسطه مستفله منفتحه |
| ۵ | ج | مجهوره شديده مستفله منفتحه قلقله | ۱۹ | غ | مجهوره رخوه مستعليه منفتحه مفخم |
| ۶ | ح | مهموسه رخوه مستفله منفتحه | ۲۰ | ف | مهموسه رخوه مستفله منفتحه |
| ۷ | خ | مهموسه رخوه مستعليه منفتحه (۷) مفخم | ۲۱ | ق | مجهوره شديده مستعليه منفتحه مقلقله مفخم |
| ۸ | د | مجهوره رخوه مستفله منفتحه قلقله | ۲۲ | ک | مهموسه شديده مستفله منفتحه |
| ۹ | ذ | مجهوره رخوه مستفله منفتحه | ۲۳ | ل | مجهوره متوسطه مستفله منفتحه مرقق يا مفخم |
| ۱۰ | ر | مجهوره متوسطه مستفله منفتحه تکرار مفخم يا مرقق | ۲۴ | م | مجهوره متوسطه مستفله منفتحه غنه |
| ۱۱ | ز | مجهوره رخوه مستفله منفتحه صفيريه | ۲۵ | ن | مجهوره متوسطه مستفله منفتحه غنه |
| ۱۲ | س | مهموسه رخوه مستفله منفتحه صفيريه | ۲۶ | و | مجهوره (۸) رخوه مستفله منفتحه |
| ۱۳ | ش | مهموسه رخوه مستفله منفتحه تفشي | ۲۷ | ه | مهموسه رخوه مستفله منفتحه |
| ۱۴ | ص | مهموسه رخوه مستعليه مطبقه صفيريه مفخم | ۲۸ | ء | مجهوره شديده مستفله منفتحه |
| | | | ۲۹ | ی | مجهوره رخوه مستفله منفتحه |

حواشي: (۱) ځکه چي داسي تلفظ معيوب وي، او اوازيي بدليږي، او خاص بيا د سکون او شدت په حال کي. احقر مدني
(۲) په دي فصل کي مصنف دا بيان کړی دی چي له دي صفاتو څخه به دومره صفتونه به دي فلاني حرف کي وي او دومره په فلاني، په دي جدول کي چي دهر حرف څومره صفات دي هغه يي له هر حرف سره راوړي دي، او دا فصل د مخکيني فصل خلاصه ده طالبان دي دي جدول ته ښه متوجه سي په هر حرف کي چي څومره صفتونه دي دهغو داجراء او مشق کولو دي پوره کوشش وکړي. احقر مدني. (۳) په دي نقشه کي يي د بعضو حروفو د صفاتو په بيان کي چي کوم مفخم يا مرقق ليکلي دي دهغو تفخيم يا ترقيق له صفات لازمه وو څخه ګڼړل نه دی پکار، ځکه چي استعلاء ته تفخيم او استفال ته ترقيق عارضيږي، خو کله چي اکثر لره حکم دکل دو او باقي صفات ټول لازمه وو نويي په عنوان ټول په نامه د صفات لازمه وو کړی. (پاته حاشيي پر راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

## ﴿پنځم فصل د صفات مُمَيِّزه (۱) په بيان كي دى﴾

حروف كه چيري په صفات لازمه وو كي مشترک وي، نو په مخرج سره ممتاز يعني جلا وي، او كه چيري په مخرج كي متحد يعني يو وي، نو په صفات لازمه منفرده (۲) سره ممتاز (۳) يعني جلا وي، په كومو حروفو كي چي تمايز باالمخرج يعني جلا والى د مخرج دى، د هغو د بيانولو ضرورت نسته، (۴) البته د حروف متحده فى المخرج (۵) د بيانولو ضرورت سته په «ا»، «ء»، «ه»، كي الف ممتاز (۶) يعني جلا دى په مديت (۷) كي، او «ء»، ممتاز يعني جلا دى له «ه»، څخه په جهر او

حواشي: پاتي حاشيي: (۴) دلته يي نومونه ويل په اكثرو ځايو كي د موصوفاتو په ضمن كي راوړل سوي دي، د صفاتو نومونه چي جهر، شدت، استفال، وغيره دي دايي نه دي ليكلي، ځكه چي ويادي توهم كيداى چي پخپله دال شدت، او يا جهر دى، سره له دي چي دال موصوف او شدت جهريي صفات دي، او د صفاتو له بيانيدو څخه دا هم معلومه سوه چي دا حروف د جهر په وجه مجهوره او د شدت په وجه شديده، دي، او داسي نور احقرمدني (۵) د مده په نامه سره بل داسي صفت په دي جدول كي نه دى بيان سوى، دا صفت د خپلو حروفو د پاره داسي لازم صفت دى چي د بل حرف د پاره داسي صفت نسته، ځكه چي د نورو صفاتو په نه ادا كولو سره په هغه حرف كي نقصان او يا يي يو حرف په بل حرف بدل سي، ليكن د مد داسي صفت دى چي په نه ادا سره يي حرف له مينځه ځي، ذات يي نيستي سي، احقرمدني (۶) په دي جدول كي ذ، ل، ر، په خانه كي مفخم يا مرقق ليكل سوي دي، وجه داده چي دوى كله ډک او كله باريک ويل كيږي، ځكه چي دا حروف مستفله دي، كله د عارض له وجي مستعليه صفت په كي راځي، نو كه د استعلاء صفت په كي وو نو ډک ويل كيږي، او كه نه وو بيا باريک ويل كيږي، له دي وجي مستعليه ورته وايي. احقرمدني. (۷) د خ، استعلا صفت له لازمه وو څخه دى، له دي وجي هميشه ډک ويل كيږي، له دي وجي يي د مفخم له لفظ سره يا مرقق نه دى ليكلي. احقرمدني (۸) له واو او يا سره نه مده درج دى او نه لين، ځكه چي مديت او لينيت ور سره لازم نه دى، ځكه چي د مد په وخت كي دا حروف لين وي، او د لينيت په وخت كي مده نه وي، او د حركت په وخت كي نه مده او نه لين دي، له دي دا نه لازميږي چي مد او لين له صفات لازمه وو څخه نه دي، بلكه دوى له صفات لازمه وو څخه دي، خو د خپلو حروفو د پاره، نه د واو او ياء د پاره. احقرمدني (۱) مميزه د صفات لازمه وو دويم نوم دى، مميزه له دي وجي ورته وايي، چي د غه صفات د يوه مخرج حروف د بل مخرج له حروفو څخه جلا كوي، د مثال په ډول د همزي او ها صفت مشترک دى، چي استفال او انفتاح دى، نو يي مخرج هم يو دى، له دي وجي دي صفاتو ته مميزه وايي. احقرمدني (۲) دلته له منفرده څخه متضاده مقابل نه دى مراد، بلكه په دي معنى دى چي متحد المخرج كي پيدا نه سي، يو ازي په هم دغه حرف كي وي، مثلاً ع، ح، متحد المخرج دي په يوه كي همس دى او په بل كي جهر. (۳) د حروفو د جلا كولو دا دوي وجهي دي، يو دا چي د حروفو مخرجونه جلا جلا وي، دويم دا چي هغه حروف په صفاتو كي سره متحد نه وي، او كه په مخرج او صفت دواړو كي سره يو وي، دا بيا دوه حرفه نه بلكه يو حرف دى مكرر. احقرمدني (۴) كوم حروف چي په مخرج سره جلا وي بيان يي د دي د پاره وكړو چي جلا والى په مخرج سره معلوم مول ډيرا سانه دى، چي د دي دوو حروفو مخرج يو دى كه جلا، د فلاني حرف مخرج كوم دى، او د فلاني حرف مخرج كوم دى. احقرمدني (۵) او د هغو حروفو د ذكر كولو ضرورت سته چي مخرج يي يو وي، او صفات يي جلا، او مقصد موهم دا حروف دي، او متجانسين هم دوى ته وايي، ځكه كه په صفت كي هم سره يو شي، بيا خو دا حروف مثلين دي، د مثلينو حروفو د بيانولو ضرورت نسته. احقرمدني (۶) هغه حروف چي مخرج يي يو، او صفات يي جلا وي، مصنف يي بيان كوي، بيان يي هم داسي كوي، چي د مميزه صفاتو له بيانولو وروسته وايي چي په پاتي (په راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

شدت کي په باقي صفاتو کي دادواړه متحد يعني يو دي، ع، ح، په ،ح، کي همس او رخوت دی، او په عين کي جهر او توسط په باقي صفاتو کي اتحاد ،غ، خ، په ،غ، کي جهر دی، په باقي صفاتو کي اتحاد ،ج، ش، ی، په ،ج، کي شدت دی، او په ،ش، کي همس او تفشي دی، په باقي صفاتو کي يعني استفال او انفتاح کي دري سره مشترک دي، او په جهر کي ،ج، ی، او په رخاوت کي ،ش، ی، سره مشترک دي، ط، د، ت، په شدت کي اشتراک، او ،ط، د، په جهر کي هم سره مشترک دي او ،ت، د، په استفال او انفتاح کي سره مشترک دي، او په ،ط، کي اطباق او استعلاء دی، او په ،ت، کي همس دی، ظ، ذ، ث، په رخاوت کي سره مشترک دي، او ظ، ذ، په جهر کي، او ،ذ، ث، په استفال او انفتاح کي سره مشترک دي او په ظاء کي مميزه صفت استعلاء او اطباق دی او په ،ذ، ث، کي صفت مميزه جهر او همس (۱) دی ص، ز، س، په رخاوت او صفير کي مشترک دي، او ،ص، س، په همس کي، او ،ز، س، په استفال او انفتاح کي سره مشترک دي او ص، کي صفت مميزه استعلاء او اطباق دی، او په ،ز س، کي جهر او همس دی، ل ن ر، په جهر توسط استفال انفتاح کي سره مشترک دي، او ،ل ر، په انحراف (۲) کي سره مشترک دي، او په دوی کي تمايز په مخرج (۳) سره دی، له دي وجي څخه سيبويه او خليل د دوی مخرج جلا په ترتيب سره ښوولی دی، او فراء د نزديوالي لحاظ کړی دی، او يو مخرج يي بيان کړی دی، بل دا چي په ،ن، کي غنه ده، او په ،ر، کي تکرار دی، او ،و ب م، په جهر استفال انفتاح کي سره مشترک دي، او د ،و، د اداکولو په وخت په شونډانو کي څه اندازه خلاص والی (۴) وي، په دي وجه له خپلو مجانسو څخه جلا سو، ګويا (۵) په دي کي هم تمايز په مخرج سره دی، او ،ب، کي شدت او قلقله ده، او په ،م، کي توسط او غنه مميزه ده، او په ،ض، ظ کي

---

حواشي: صفاتو کي اتحاد دی، او يايي هغه متحد صفتونه هم بيان کړي وي، احقر مدني (۷) د خليل پر مذهب د مديت صفت له مميزه څخه د ګرځولو ضرورت نسته، ځکه چي د ده پر مذهب په ،ا، ،و، ،ی، کي تميز په مخرج سره دی، احقر مدني (۱) په ذال کي د جهر او همس د مميز کيدلو مقصد دادی چي په ذال کي جهر دی، او په ث کي همس دی، دا دوه حروف يو ازي د همدي صفت په وجه سره جلا دي. احقر مدني (۲) په منفرده صفاتو کي يو صفت انحراف هم دی، چي لغوي معني يي ده مايله کيدل او عدول دی، او اصطلاحي معنی يي را ګرځيدل او واپس کيدل دي، دا صفت د ،ل ر، دی، مقصد دادی چي ~~دل په اداکولو~~ کي د ژبي غاړه د ،ر، وه طرفته وراندي کيږي، او د ،ر، په اداکولو کي يو څه د لام طرفته او يو څه د شا طرفته مايله کيږي. (۳) مقصد دادی چي په دي حروفو کي تميز يوازي د صفاتو په وجه نه دی، بلکه د لته تمايز د مخرج په وجه هم دی، ګويا کي مصنف د خليل مذهب مختاره کړی دی. احقر مدني (۴) دا د انظمام دويم تعبير دی، د نورو کتابو د عباراتو هم دا ترجمه ده، ځکه نور کتابونه يي په انفتاح قليل سره تعبيره وي، چي معنی هم دا انظمام دی. احقر مدني (۵) دا شبه دي څوک نه کوي چي د ،و، مخرج له ،ب م، څخه جلا دی، ځکه چي بيا به دالازمه سي چي مخرجونه به د فراء په نزد ،۱۵، د سيبويه په نزد ۱۷ او د خليل په نزد ۱۸ سي، سره له دي چي دا سي نه دی. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

جهر رخاوت استعلاء او اطباق دی، او په، ض، کي استطالت دی، او مميزه(۱) مخرج دی خود صفاتو ذاتيه وو داشتراک په وجه سره فرق کول او ديو بل څخه جلا کول د ماهرينو (۲) کار دی او د ماهر فرق هم صرف ماهر بنه پيژني(۳).

حواشي: (۱) مقصد دادی چي په ،ظ، او ،ض، کي امتيازيوائحي داستطالت په وجه نه دی، بلکه ډير دخل په جلا والي کي دمخرج دی، لکه علامه جزري چي ويلي دي، چي ،ض، په استطالت او مخرج په وجه له ،ظ، څخه جلا ده. احقر مدني(۲) ځکه چي په دي دوو حروفو کي يوائحي استطالت مميز دی، په نورو ټولو صفاتو کي سره شريک دي، ځکه په تلفظ کي يو ډول دي، له دي وجي يو له بله سره جلا کول ديو ماهر کار دی، احقر مدني(۳) فائده، حرف ضاد ابن حاجب چي د امام شاطبي شاگردی، په شافيه کي له حروف مستهجنه وو څخه ليکلي ده، او امام رضي د دي په شرحه کي ليکي، قال السيرافي انها في لغة قوم ليس في لغتهم ضاد فاذا احتاجوا الى التكلم بها في العربية اعتاصت عليهم فربما اخرجوها ظاء لاخراجهم اياها من طرف اللسان واطراف الثنايا وربما تكلفوا في اخراجها من مخرج الضاد فلم يتأت لهم فخرجت بين الضاد والظاء، ترجمه: سرافي ويلي دي چي دا خبره د هغه قوم په ژبه کي ده چي د هغوي په ژبه کي ضاد نسته، نو کله چي دوی ته په عربي ژبه کي د ضاد د تلفظ ضرورت پيښ سو نو دوی ته د ضاد تلفظ گران معلوم سو په دي وجه دوی ظاء وايي، چي د ژبي د غاړي او مخامخ غاښونه د غاړي څخه يي وباسي، او کله يي د ضاد له مخرج څخه د وتلو تکلف کوي، خو وتلای نه سي، له دي وجي د ضاد او ظاء په مينځ کي ادا کيږي، د شافيي او د هغي له شرحي څخه د بعضو متأخرينو، او غير مقلدينو ترديد وسو، او څوک چي قايل دي د صفات ذاتيه وو د اشتراک په منيځ د ضاد او ظاء کي نو ځکه ضاد د ظاء په ډول سره او ريدل کيږي، او فرق يي ډير گران دی، نو که د ضاد پر ځای ظاء وويلي سي نو څه حرج نسته، ځکه چي اشتباه لره تشابه لازم نه دی، ځکه چي جيم او دال هم په ټولو صفاتو کي مشترک دي، خو د مخرج د جلا والي په وجه د دواړو په اواز کي بالکل تباين دی، تشابه نسته، او د ضاد او ظاء مخرج مختلف دی، خو کله چي د ضاد مخرج اکثر حافه لسان سره د ټولو اضراسو، او مخرج د ظاء طرف لسان سره د طرف د ثنايا عليا دی، او بيا په دي دواړو حروفو کي استعلاء او اطباق دی، په دي وجه په دوی کي تقارب وسو بيا درخاوت په وجه په دوی کي تشابه صوتي پيدا سوه، او دا تشبه په دال او جيم کي نسته، نو په ضاد او ظاء کي تشابه ثابته سوه، خو داسي تشابه کول چي ضاد داسي وا وريدل سي لکه ظاء منعه دی، له دي وجي ابن حاجب او رضي مستهجن ليکلي دي، ځکه باعث د تشابه صفت درخوة دی، او دغه صفت په ضاد کي په نسبت د ظاء ضعيف سوی دی، ځکه چي په ضاد کي صفت د اطباق په نسبت د ظاء قوي دی، نو دا ضروري دی چي څو مره صفت د اطباق قوي وي، دو مره به صفت درخو تضعيف وي، ځکه چي الصاق محکم درخاوت منافي دی، درخاوت د ضعف دويمه وجه دا ده چي د ضاد مخرج له مجرلی صوت څخه له هوا څخه يو غاړي ته واقع سوی دی، سوا د ظاء له مخرجه چي هغه په محاذاتو کي واقع دی، له دي وجي په ظاء کي درخوت صفت قوي دی، نو چي کله درخوت صفت قوي سو نو د اطباق صفت به خامخا ضعيف وي، حاصل دا دي چي کله ضاد له مخرج څخه سره له ټولو صفاتو ادا سي، نو په دغه وخت کي به د ده اواز د اهل عرب له ضاد سره چي په اوس وخت کي مروج دی ډير مشابه وي، او له ظاء سره به هم څه تشابه لري، او په کومه درجه کي چي په ضاد کي اطباق او تفخيم په نسبت د ظاء قوي دی، ځکه چي د ظاء رخاوت په نسبت د ضا قوي دی، او په رخاوت او اطباق کي تقابل دی، چي يو قوي وي بل به ضعيف وي، نو که په ضاد کي درخاوت صفت زيات سي، نو له ظاء سره به مشابه سي، له دي وجي صاحب د شافيي او رضي مستهجن کي ليکلي دي، او که چيري اطباق قوي سي له رخاوت سره، نو مشابه له ضاد مروج بين العرب به ادا سي، او لږ به له ظاء سره هم مشابه وي، د تفسير او تجويد په بعضو کتابو کي چي يي ضاد او ظاء مشابه الصوت ليکلي دي، له هغه څخه هم دا مراد ده، دا نه چي ظاء وا وريدل سي، نو تعارض هم ختم سو، او س دا سوال کيږي چي بعضي قراء د عجمو اهل عربو ته وايي، چي دوی د ضاد پر ځای دال مفخم وايي، نو جواب دا دی (پاته په راتلونکي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دویم باب﴾

## ﴿اول فصل د تفخیم او ترقیق(۱) په بیان کي﴾

حروف مستعلیه به همیشه (۲) په هر حال (۳) کي ډک ویل کیږي، او حروف مستفله ټول باریک ویل کیږي، لیکن الف (۴) او د اَللّٰه لام (۵) او، راء، چي کله باریک (۶) او کله ډک ویل کیږي که چیري له الف څخه مخکي حرف ډک وي، نو الف (۷) به هم ډک وي، او که چیري له الف څخه مخکي حرف باریک وي، نو بیا به الف هم باریک وي، او که داَللّٰه د لفظ د لام څخه مخکي

---

حواشي: پاته حاشیه: چي دال مفخم څه حرف نه دی ځکه چي د دال صفت ذاتي استفال انفتاح دی، او مخرج یې طرف لسان او د ثنایا علیا بیخ دی، او اهل عرب ضاد د خپل مخرج څخه سره له استعلاء او اطباق عموما اداکوي، او یو حرف له بل مخرج مباین څخه نه اداکیږي، نو کله چي صفات ذاتیه هم بدل سو، نو دال هغه ته نه سو ویلی په اصل کي هغه ضاد دی، خو درخاوت صفت چي هغه په ضاد کي په قلت سره پیدا کیدو هغه شاید چي اکثره عرب نه اداکوي، غایة الباب دا چي دا به لحن خفي وي، او خالصه ظاء او یا دال له خپل مخرج څخه په ډکوالي سره ویل لحن جلي دی، ځکه چي په اول صورت کي صرف یو صفت چي په کمزوري درجه کي وود هغه ابدال یا انعدام سوی دی، او په باقي صورتونو کي بدلول د حرف په بل حرف سره لازم راځي، والله اعلم بالصواب

(۱) تفخیم معنی ډک ویل او ترقیق معنی باریک ویل، تفخیم پر دوه قسمه دی، یو تفخیم مستقل او اصلي دی لکه تفخیم د حروف مستعلیه وو، او دویم تفخیم غیر مستقل او عارضي دی، لکه تفخیم د، ر، او د لفظ د، الله، احقر مدني. (۲) معنی د دي حروفو تفخیم مستقل او همیشه دی، د شبه مستعلیه په ډول غیر مستقل نه دی. احقر مدني (۳) که ساکن وي یا متحرک که څه هم د حرکاتو په اختلاف سره، یا په حالت د سکون کي د ماقبل حرکاتو په اختلاف سره په تفخیم کي کمی زیاتی وي، لیکن نفس تفخیم به په هر حالت کي وي. (۴) په باریک والي او ډکوالي کي د الف د ماقبل تابع کیدل د ټولو په نزد متفق علیه دی، او د یا مده باریک کیدل هم عام تردي چي تر هغي ماقبل د مفخم حرف وي یا مرقق وي، د ټولو په نزد مسلم دی، پاته سو او مده د دَه د تفخیم په باره کي چي له ده څخه ماقبل مفخم وي د تجوید په اکثرو کتابو کي څه خاص صراحت نسته، لیکن علامه مرعشي په خپله رساله جهد المقل مطبوعه ـ ۷۵ ـ کي د واو مده د تفخیم په باره کي د خپلي رایي په دي الفاظو کي اظها کړی دی، ولعل الحق ان الواو المدیة تفخم بعد الحرف المفخم، لیکن ورسره د دي په شرحه کي د دي اعتراف هم کوي چي د تجوید په کتابو کي د دي هیڅ ذکر صراحة یا اشارة له پلټني سره نه سو پیدا، لکه چي لیکي، وقد رجوت ان یوجد التصریح بذلک او الاشارة الیه في کتب هذا الفن لکن اعیاني الطلب فمن وجده فلیکتبه هنا، څرنگه چي د واو مده له تفخیم وروسته د حرف مفخم څخه د جمهورو له مسلک څخه خلاف وو، په همدي وجه د دي رسالي مؤلف هم په دي ځای باندي د دي ذکر قابل اعتنا و نه گڼلو، که نه نو د دي دري واړو حرفونو سره به یې د واو مده د تفخیم ذکر هم کړی وای. (۵) لام اسم الجلاله او لام تعریف دواړه به ډک ویل کیږي، ځکه چي لام د شمسیه حرفونو څخه دی په هغوی کي د لام تعریف ادغام کولای سي، د لام تعریف باریک ویل د ادغام تام منافي دی، او په مثلین کي صرف ادغام تام کیږي. (۶) که څه هم دا دري حروف مستفله دي، خو د دوی حکم د عامو مستفله وو په ډول نه دی، چي همیشه دي دوی باریک ویل کیږي، بلکه په بعضو حالاتو کي ډک او په بعضو کي باریک ویل کیږي، احقر مدني (۷) څرنگه چي الف په خپل ذات او تلفظ کي مستقل نه دی، یعني تر څو چي مخکینی حرف ورسره یو ځای نه سي نه سي اداکیدلای، نو په تفخیم او ترقیق کي هم د ماقبل حرف تابع گرځول سوی دی. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

زَوَريا پيښ(۱) وي نو بيا به ډک ويل کيږي،لکه،وَ اللّٰهُ،اَللّٰهُ،رَفَعَهُ اللّٰهُ،او که چيري د لفظ دَاللّٰه لام څخه مخکي زيروي،نو بيا به باريک ويل کيږي،لکه ،لِلّٰهِ،راء،به يا متحر که وي، يا ساکنه وي،او که چيري متحر که وي،نو دزَوَرا وپيښ په حالت کي به ډ که وي،او دزير په حالت کي به باريکه ويل کيږي، لکه،رَعْدٌ،رُزِقُوْا،رِزْقاً،او که چيري،راء،ساکنه وي،نو له هغه څخه ماقبل به متحرک وي،يا سکن که چيري ماقبل متحرک وي،نو دزَوَرا وپيښ په حالت کي به ډ که وي او دزير په حالت کي به باريکه وي،لکه،بَرْقٌ،يُرْزَقُوْنَ،شِرْعَةً(۲)ليکن کله(۳)چي له ،راء، سا کني څخه ماقبل زير په دويمه کلمه کي وي لکه،رَبِّ ارْجِعُوْنَ،يا زير عارضي وي لکه،اَمِ ارْتَابُوْا،اِنِ ارْتَبْتُمْ، يا له ،راء،ساکني څخه وروسته داستعلاء حرف په هغه کلمه کي وي،چي په کومه کلمه کي، راء وي،نو دغه،راء ،به باريکه نه وي،بلکي ډ که به وي،لکه قِرْطَاسٍ،فِرْقَةٌ ،او دفِرْقٍ،په راء کي خلف (۴) يعني اختلاف دی،او که چيري له راء موقوفه(۵) بالاسکان (۶)يا بالاشمام (۷) څخه ماقبل سوا له،ی، څخه بل يو حرف ساکن وي نو دهغه ما قبل ته به کتل کيږي،که چيري زَوَريا پيښ وي نو ،راء، به ډ که ويل کيږي لکه،قَدْرِ، اُمُوْرُ، او که چيري زير وي نو ،راء، به باريکه ويل کيږي،لکه حِجْرٍ،او که چيري ساکن ياء وي(۸) نو راء به باريکه ويل

حواشي: (۱)دلفظ الله دلام دتفخيم سبب داسم الجلاله تعظيم دی،دزوريپيښ شرط يواځي دمناسبت پرېنا دی،ځکه چي په کسره کي دخولي وخواته انخفاض وي،احقرمدني (۲)د ،راء،دوه حالته دي،که يي حرکت وونو حرکت ته گوروچي کوم حرکت دی ،که يي زوريا پيښ وو ،نوډکه ويل کيږي،او که زيروي،بيا باريکه ويل کيږي،لکه رِجال،او که ساکنه وي بيا مخکي حرکت ته گورو ،که مخکي زوريا پيښ وو بيا ډکه ويل کيږي،لکه بَرق،او که زيروي،بيا باريکه ويل کيږي،لکه شِرعَةٌ،ددي قاعدي دپاره دري شر طونه دي،۱ چي زير به اصلي وي،۲ زير به په هغه کلمه کي وي چي په هغه کي،راء،ده،۳ له ،راء،وروسته به حرف مستعليه نه وي. احقرمدني (۳)او همدا دول لکه (فَلاتَنهَر،فَانتَصِر،وَانظُر،اٰخَر،اَلنّذرُ،لِلبَشَر)دامثالونه موددي دپاره وويل چي دمتن په مثالوکي ،راء،دماين حرف دی،او په دي مثالوکي اخريني حرف دی،او په دروا ولوکي يي سکون لازمي دی،او په باقي کي عارضي دی، احقرمدني (۴)په دي کي دراء ډک ويل دقاعدي مطابق دی،ليکن دقاف مکسوره کيدلو په وجه دبعضو په نزد باريک ويل هم صحيح دی،لکه څنگه چي په جزري کي دي،وَالخُلف فى فِرقٍ لِكسرٍ يُوجَدُ ،ترجمه:يعني خلف پيدا کيږي په فرق کي په سبب د کسري،(۵)داده،راء،دريم حالت دی چي دا هم ساکنه او ماقبل يي هم ساکن،اوله ساکنه څخه يي تعبير په موقوفه سره کړی دی دا ددي دپاره چي داصورت يواځي په وقف پوري خاص دی،په وصل کي نه راځي ځکه چي داصورت داجتماع ساکنين على غير حده دی،او دا په وصل کي نه دی روا. احقرمدني (۶)له راموقوفه سره يي دبالاسکان او بالاشمام قيد ددي دپاره راوړی دی،چي راء مرامه،يعني موقوفه بالروم ورڅخه ووځي،ځکه چي مرامه په تفخيم او ترقيق کی دماقبل دحرکت تابع نه وي،بلکه ددي خپل حرکت ته کتل کيږي. احقرمدني (۷)داشمام معنى به دوقف په احکاموکي راسي. (۸)له يي ساکني څخه وروسته راء په هر حال کي دباريک ويلو وجه غالبا کسره قائم مقام گڼل دي،ځکه که په کسره کي انخفاض وي نو په ياء کي کښته والی وي. احقرمدني

كيږي، لكه خَيْرٌ، ضَيْرٌ، خَبِيْرٌ، قَدِيْرٌ، راء مرامه(۱) يعني موقوفه بالروم به د خپل حركت موافق ويل كيږي او، راء، مماله (۲) به باريكه ويل كيږي، لكه مَجْرِيهَا ﴿فائده﴾ (۳) راءمشدده په حكم كي د يوي راء وي څنګه چي حركت وي د هغه موافق به ويل كيږي، اوله راء به د دويمي (۴) تابع وي ﴿فائده﴾ په ډكو حروفو كي دي ډكوالى په داسي زياتوالي سره نه كوي چي هغه حرف مشدد واوريدل سي، يازيرد زور مشابه سي، يازور د پيښ مشابه سي، ياچي له ډك حرف څخه وروسته الف وي، نوهغه دواوپه شان سي، په ډكوالي كي څو مرتبي دي(۵) اول حرف مفخم مفتوح چي له هغه څخه وروسته الف وي نو د هغه ډكوالى داعلىٰ درجي دى لكه، طَالَ، د دي څخه وروسته هغه مفتوح حرف چي وروسته يي الف نه وي(۶) لكه اِنْطَلِقُوْا د هغه څخه وروسته چي پيښ وي لكه مُحِيْطٌ، له هغه څخه وروسته چي زيروي لكه ظِلٍّ، قِرْطَاسٍ، اوساكن مفخم د ماقبل د حركت تابع دى لكه يَقْطَعُوْنَ، يُرْزَقُوْنَ، مِرْصَادًا، اوس معلومه سوه چي د ډكوالي حرف زوَر د پيښ په شان اوله هغه څخه وروسته الف د واو په شان ويل بالكل(۷) د اصل خلاف دى، همدا د ول مرقق حرف د ومره زيات باريك ويل چي په شان د امالي صغرىٰ جوړسي داخلاف قاعدي ده، دازياتوالي او كموالى د عربو په كلام كي نسته دااهل عجمو طريقه ده.

حواشي: (۱) په كومه راء كي چي روم وكړل سي د روم معنى ده حركت په ډير خفي اوازسره اداكول.(۲) داامالي معنى ده الف مايله كول ديا طرفته چي د هغي په وجه سره د فتحي ماقبل الف ميلان كسري طرفته لازمي دى، ياصرف فتحه كسري طرفته مايله كول (۳) مشدد حرف كه له دوو حروفو څخه مركب وي اول ساكن او دويم متحرك، بياهم دا په حكم ديوه حرف ځكه وي چي په اداء كي يي اندام په يوه وار كار كوي، اود ساكني حصي داداكيد و څخه وروسته اندام له مخرج څخه جلا كيږي، احقرمدني (۴) دا چي اوله راء د دويمي تابع ده مخكي بيان سوي ده، داولي راء له اداكيد و څخه وروسته ژبه له تالو څخه نه جلا كيږي، له دي وجي ورته د مستقل حرف حكم نه وركړل كيږي، بلكه داد دويمي متحركه راء تابع وي، خوداحكم د وصل او وقف بالروم دى، د وقف بالاسكان او بالاشمام چي كله دويمه راء هم ساكنه وي نو دواړه ديوه حرف په حكم كي سي، احقرمدني(۵) د حرف مفخم په تفخيم كي چي كوم مراتب جلا كيږي، د هغه وجه د حركت صلاحيت دى، نو كله چي د فتحي په حالت كي د خولي انفتاح كيږي، د هغه په وجه د حرف مفتوح په صورت كي فراخي وي، نو تفخيم يي هم په نسبت د مضموم او مكسور زيات وي، او په ضمه كي د انضمام شفتين له وجي فراخي نه وي نو تفخيم يي هم كم وي، او په كسره كي انخفاض وي، اوازكښته ځي نو يي تفخيم هم له ټولو څخه كم وي، احقرمدني(۶) له دي وجي چي ساكن په اداء كي هم د ماقبل تابع وي، ځكه چي د ساكن حرف تلفظ بي له متحركه نه سي كيدلاى، نو د تفخيم په مراتبو كي هم د ماقبل حركت معتبر دى، احقرمدني(۷) مصنف دا صورت په خاصه توګه يا ذكر كړ ځكه چي غلط والى يي ښه واضح شي، ځكه له خلكو څخه دا صورت ډير واقع كيږي، هغه دا چي د مفخم حرف فتحه د ضمي په ډول او وروسته الف د واو په ډول ويل، لكه د اَلصِّرَاطَ، راء، او د و لَاالضَّآلِّيْن ضاء، احقرمدني (فائده) په دي عباراتو كي د استعلاء مراتبو ته اشاره ده، استعلاء اعلى، دا ده چي حروف مستعليه مفتوح او وروسته يي الف وي، استعلاء عالي، دا ده چي حروف مستعليه مفتوح وي وروسته يي الف نه وي، استعلاء اوسط، دا ده چي حروف مستعليه مضموم وي، استعلاء وسطى، دا ده چي حروف مستعليه ساكن وي، مخكي يي زور يا پيښ وي، استعلاء ادنى، دا ده چي حروف مستعليه مكسور وي، احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دويم فصل دنون ساكن او تنوين په بيان كي﴾

دنون ساكن(۱) او تنوين(۲) څلور حالته دي، اول اظهار(۳) دويم ادغام(۴) دريم قلب(۵) څلورم (۶) اخفاء كه چيري حروف حلقي له نون ساكن او تنوين څخه وروسته راسي نو اظهار حلقي به كيږي، لكه يَنۡعِقُ، عَذَابٌ اَلِيۡمٌ، او هر كله چي له نون ساكن او تنوين وروسته ديَرۡمَلُوۡنَ، له حروفو څخه يو حرف راسي، نو ادغام به كيږي، خو په لام، راء، كي به ادغام بلا غنه وي، او ادغام با الغنه هم په نون ساكن او تنوين كي ثابته ده، خو په نون ساكن(۷) كي دا شرط دی چي مقطوع

حواشي: (۱) په كوم نون باندي چي هيڅ حركت نه وي، هغه ته نون ساكنه وايي، لكه ،مِنكُم، او اِن كُنتُم، (۲) دتنوين تعريف په نهاية القول المفيد صفحه ـ ۱۷۹ ـ كی داسي دی، واما التنوين فهو نون ساكنة زائدة تلحق اخر الاسم تثبت لفظا ووصلا وتسقط خطا ووقفا يعني تنوين يو نون ساكنه زائده دی چي داسم په اخر كي راځي او په حالت دوصل كي تلفظ كي ثابت وي، ليكن په رسم خط كي ساقطيږي همدا دول دوقف په حالت كي له تلفظ څخه ساقط كيدای سي (۳) داظهار تعريف، حرف له خپل مخرج څخه سره له خپلو صفاتو لازمه وواداكولبې له څه تغير او تبديله، يعني چي په مخرج او صفت كي يې هيڅ قسم تصرف ونه كړل سي، (۴) دادغام تعريف، سو ساكن حرف په يو متحرك حرف كي په داسي شان يو ځای كول چي هغه دواړه يو مشدد حرف جوړسي چي متحد المخرج يا قريب المخرج وي، چي دهغو تكرار تلفظ دعربو په ژبه كي ثقيل كڼل كيږي، په ادغام سره ثقالت ختم سي وروسته معلومه سوه چي دادغام په حالت كي په صورت دعدم اتحاد دمخرج او صفت دمدغم په مخرج او صفت دواړو كي په وخت دادغام تام داتصرف او تغير كولی سي، چي هغه دمدغم فيه مخرج او حقيقت سره بدل كړي، او په وخت دادغام ناقص كي او په صورت د دي اختلاف مخرج دمدغم په مخرج كي تغير كولی سي، نو ښكاره سوچي دداسي دوو حرفونو تلفظ چي سره بعيد المخرجه وي، د عربو په كلام كي ثقيل نه دی منل سوی، له دي وجي داظهار په حالت كي داول حرف په مخرج او صفت كي دهيڅ قسم تصرف او تغير ضرورت نه پېښيږي، (۵) دقلب او اقلاب معنی ده بدلول دنون خاص په ميم سره، په ميم سره دبدلولو وجه دا ده چي په دي دواړو حروفو كي سوا دمخرج له اختلاف څخه په نورو ټولو صفاتو كي اتحاد دی، خصوصا دغني په صفت كي چي دا صفت په بل حرف كي نه پيدا كيږي (۶) داخفاء لغوي معنی سَتَر دی، او دقراوو په اصطلاح كي الاخفاء حالة بين الاظهار والادغام، يعني داظهار او ادغام درمياني حالت ته اخفاء وايي، دادغام په مثالو كي دا معلومه سوه، چي مطلقا دادغام سبب دمخارجو اتحاد يا قرب وي، په دي سره اظهار هم معلوم سو چي داظهار سبب لريوالی دمخرج دی، او س څه داسي حروف پاته سو چي دهغو مخارج دنون له مخرج سره نه قرب لري چي دادغام تقاضا وكړي، او نه لريوالی چي داظهار تقاضی وكړي، له دي وجي كله چي دنون ساكن يا تنوين يو ځای والی له داسي حروفو سره وسي، نو مخارجو دقرب او بعد ته دتوسط لحاظ ساتلو سره اخفاء مختاره سوه، چي داظهار او ادغام په مينځ كي حالت دی، وروسته دنون مخفي دصحيح اداكولو طريقه له پورتني مضمون څخه ښه ښكاره سوه، دنون مخفي په ادا كولو كي دي دژبي غاړي له پورته تالو سره نه دومره اعتماد وي څونه چي دنون مظهره په اداكولو كي وي، كه نه نو بيا به داظهار تعريف پر صادق سي، او نه دي دنون مدغمه په دول له وروسته حرف سره لگولی اداكړل سي، ځكه بيا به دادغام صورت سي، بلكه دژبي غاړي ته دي له تالو سره په ضعيف اعتماد سره ولگوي، (۷) دنون ساكن مقطوع يعني مرسوم كيدلو شرط په دي وجه لگول سوی دی، چي غنه دنون دصفت كيدلو په حيثيت سره په منزله دعرض ده، او عرض قائم بالغير وي، نو دصفت دوجود دپاره دموصوف وجود، او دعرض دپاره دجوهر وجود ضروري له دي وجي په رسم خط كي دنون وجود دادغام بالغنه دپاره ضروري سو، صرف منوي كيدل يې كافي نه دي، دنون مقطوع مثالونه، عَلَى اَن لاَّ اَقُولَ، اَن لاَّتَعۡبُدُوا، فَاِن لَّم تَفعَلُوا



Maktaba Tul Ishaat.com

يعني مرسوم وي، او كه چيري موصول يعني مرسوم نه وي نو غنه بيا جائزنه ده په پاته حروفو كي به مع الغنه (۱) وي لكه مَن يَقُولُ مِنْ وَالٍ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ، مِن رَّبِّهِمْ، په څلورو (۲) لفظونو يعني دُنْيَا قِنْوَانٌ، صِنْوَانٌ، بُنْيَانٌ، كي به ادغام نه كيږي، بلكه اظهار مطلق به كيږي، او هر كله چي له نون ساكن او تنوين څخه وروسته، ب، راسي نو هلته نون ساكن او تنوين به په ميم سره بدليږي اخفاء سره دغني (۳) به كوو لكه مِن بعد، صُمٌّ بُكْمٌ، په پاته پنځلسو (۴) حروفو كي به اخفاء سره له غني كيږي (۵) لكه يُنفِقُونَ، أَندَادًا وغيره.

## ﴿دريم فصل د ميم ساكن په بيان كي﴾

د ميم (۶) ساكن دري حالته دي، اول ادغام، دويم اخفاء، دريم اظهار، كه چيري له ميم ساكن وروسته دويم ميم راسي نو ادغام صغير مثلين به كيږي، لكه أَمْ مَّنْ، او كه چيري له ميم ساكن وروسته، ب، راسي نو اخفاء شفوي به كيږي، او اظهار هم جائز دی، په دي شرط چي ميم به

حواشي: (۱) يعني دينمُو په څلورو حروفو كي، ځكه چي دي‌ر مَكُونَ د حروفو څخه د، لر، دوه حرفه وياسي نو پاته څلور حرفه سول، چي مجموعه يي ده، يَنمُو. احقرمدني (۲) غرض له ادغام څخه رفع دثقالت او تخفيف فی اللفظ وي، ليكن تر دي حده چي له ادغام څخه خرابي يا نور څه سره يي التباس نه راسي، په مذكوره كلماتو كي چي نون ساكن او واو جمعه دي، كه چيري ادغام وكړل سي، نو له مضاعف سره د التباس احتمال كيدای سي، نو ځكه اظهار كيږي، علامه شاطبي هم دا خبره د اظهار علت گرځولي ده، كماقال و عند هما للكل اظهر بكلمة مخافة اشباه المضاعف اثقلا. (۳) ديته د مجودينو په اصطلاح كي قلب يا اقلاب وايي او په دي دول مثالو كي د نون او تنوين په ميم سره بدلولو ته اقلاب وايي لكه من بعد صمٌّ بكمْ او تلفظ يي داسي كيږي لكه وَمَاهُم بِمُؤمِنِينَ په دي كي اخفاء كيږي، له دي وجي يي وويل چي نون ساكن او تنوين به په ميم سره بدل كړو اخفاء مع الغنه به كوو. احقرمدني (( ۴) يعني په پاته پنځلسو حروفو كي چي هر يو له نون ساكن او تنوين څخه وروسته راسي اخفاء كيږي. احقرمدني (۵) د نون ساكن او تنوين د احكام چي اظهار، ادغام، اقلاب، دي واضح دي، په اخفاء كي د فن د علماوو اختلاف دی، وجه يي دا ده چي د اخفاء تعريف دا دی، الاخفاء هي كَيفيةٌ بَينَ الاظهَارِ وَالادغَامِ، د تعريف له وجي د اخفاء په ادا كي دوي رأيي دي، بعضي وايي چي د نون په اخفاء كي دژبي هيڅ دخل نسته، او دژبي څوكه له تالو څخه بالكل جلا وي، بعضي دا وايي، چي دژبي د څوكي له تالو سره لږ لگيدل ضروروي، ځكه پر دي د تولو اتفاق دی چي دژبي سر له تالو سره نه لگيږي، احقرمدني

د نون ساكن او تنوين په مابين كي فرق

دوه زوره، دوه زيره، دوه پيښه، ته تنوين وايي، تنوين كه څه هم په صورت كي دوه زوره، دوه زيره، دوه پيښه دی، خو په تلفظ كي نون ساكن دی، مثلاً كه پر، ب، دوه زوره وي نو په تلفظ كي به، بن، وي ځكه يي يو حكم دی، خو په دي لاندي ځايونو كي فرق سره لري، ۱ نون ساكن د وصل او وقف په حالت كي ويل كيږي، او تنوين د دوو زيرو او دوو پيښو حذف كيږي، او دوه زوره په الف بدليږي، ۲ نون ساكن په رسم خط كي ليكل كيږي سوا له دوو ځايو لكه، وَلَيَكُونًا، لَنَسفَعًا، ځكه پر فعل باندي تنوين نه راځي نو دا په اصل كي نون خفيفه دی، سوا له تنوينه چي هغه په رسم خط كي نه راځي، ماسوا له يوه ځايه، لكه كَاَيِّن، ۳ نون ساكن د كلمي په اول مابين اخر كي راځي، او تنوين يو ځي په اخر كي راځي، ۴ نون ساكن د كلمي په ټولو اقسامو لكه اسم فعل حرف كي راځي، او تنوين يو ځي په اسم كي راځي، ۵ نون ساكن اصلي او زائد دواړه راځي، او تنوين هميشه زائد راځي، ۶ نون ساكن د تاكيد د پاره هم راځي، او تنوين د تاكيد د پاره نه راځي، احقرمدني (پاته حاشيه پر راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

اړول (۱) سوی له نون ساکن او تنوین څخه نه وي، لکه وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ، په پاته حروفو کي به اظهار شفوي کيږي، لکه عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّينَ، كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴿فائده﴾ د، بو ف (۲) کوم قاعده چي مشهوره ده یعني دمیم ساکن څخه وروسته چي ،ب، راسي نو اخفاء به کيږي او چي ،وف، راسي نو اظهار دی په داسي شان وکړل سي چي دمیم په سکون کي د حرکت بوی راسي نو دا اظهار بالکل غلط دی، بلکي دمیم سکون بالکل تام کیدل پکار دي د حرکت هواء دي هم ورباندي ونه لګیږي.

## ﴿څلورم (۳) فصل د حروف غنه په بیان کي﴾

نون او میم چي مشدد وي (۴) نو غنه به کيږي، هم دارنګه د نون ساکن او تنوین وروسته سواله حروف حلقي، او لام، راء، څخه چي کوم یو حرف راسي نو غنه به کيږي، هم دارنګه چي له میم ساکن څخه وروسته ،ب (۶) راسي نو د اخفاء په حالت کي به غنه کيږي د غني مقدار یو الف دی (۷)

---

حواشي: پاته حاشیه: دمیم ساکن دري حکمونه دي، ۱ که له میم ساکن وروسته بل میم راسي بیا ادغام کيږي، داسي ویل کيږي لکه یو میم مشدد سره له غني، ۲ له میم ساکن وروسته که ،ب، راسي هلته اخفاء کيږي، چي اخفاء شفوی ورته وایي، ۳ که له میم ساکن وروسته که بل حرف راسي بیا اظهار کيږي. احقرمدني (۱) مطلب دادی چي له ،ب، څخه مخکي میم ساکن کي اظهار هم روادی، مګر یوائي په هغه میم کي چي اصلي وي، نو کوم میم چي له نون ساکن او تنوین څخه بدل وي، لکه مِن بَعۡد ،سَمِيعٌۢ بَصِير، اظهار روانه دی، یوائي اخفاء ضروري دی. احقرمدني (۲) دا دري حروف هم په شان دمیم شفوي دي، که څه هم ،ف، کليةً شفوي نه دی، خو في الجمله له شونډو سره تعلق لري، ګواکي ددي حروفو له میم سره ذاتا قرب دی او دصفت غني په اعتبار سره بعد دی، او کله چي میم ساکن له ،ب، څخه مخکي واقع وي، اخفاء خو کيږي، په همدي باندي په قياس کولو سره بعضو خلګو له ،وف، څخه مخکي هم په میم ساکن کي اخفاء کول شروع کړل، نو دتجوید علماوو دیته توجه وکړه او منعه یي وکړه، لکه په جزري کي چي دي، وَاحذرلَدى واو وَفاءٍ ان تختفي، ته ځان وساته په میم کي له اخفاء کولو څخه کله چي له ،وف، سره نزدي واقع شي، له دي ممانعت کولو سره بعضو خلګو وروسته له اخفاء څخه دساتلو په خیال په میم ساکن کي قلقله شروع کړه، او په لږ څه حرکت ورکولو سره ویل یي اختیار کړو، دي ته یي اشاره کړي ده. (۳) په دویم او دریم فصل کي مصنف دادغام ناقص اقلاب او اخفاء ځایونه بیان کړي دي، په دي حالتو کي لکه څنګه چي غنه هم کيږي، په دي فصل کي له نورو احکامو څخه پرته یوائي دغني ځایونه بیانوي، له دي غني څخه مراد غنه زماني ده چي مقدار یي یو الف دی، داسي غني دري ځایه دي. احقرمدني (۴) دنون او میم مشدد کیدل خو دادغام په جه وي، ځکه چي ادغام لره تشدید لازم دی، مثلا مَن نشَآءُ، اَمن يکونُ، او هر کله چي ددواړو مشدد کیدل وضعاوي، ځکه چي تشدید لره ادغام لازم نه دی، لکه اِنّ وغیره څنګه چي دادغام په بیان کي دغني ذکر ښکاره نه وو په دي وجه دلته دهغه داخلول مقصود وو. (۵) که په هغه طریقه چي په لا، را، کي ادغام بالغنه هم روادی وویل سي، بیا به دا دواړه حروف د حلقي پر ځای له حروف اخفاء ینمو، او د ،ب، سره شامل سي، احقرمدني (۶) که څه هم دمیم ساکن وروسته بل میم راسي هم غنه کيږي، خو دهغه حکم دمیم مشدد دحکم په ضمن کي معلوم سوی وو ځکه مؤلف دلته بیان نه کړو. احقرمدني (۷) دالف دمقدر معلومولو طریقه په جمال القرآن کي بیان سوي ده، خو اسانه طریقه یي داده چي خلاصي ګوتي بندي او یا بندي ګوتي خلاصي کړه. احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿پنځم فصل دهاي ضميرپه بيان كي﴾

كه چيري له هاء(۱) ضمير څخه مخته زيريا ياىٔ ساكنه وي نو هاء ضميربه مكسوروي، لكه بِهٖ وَاِلَيْهِ، خودوه ځايه به هاء ضمير مضموم وي، يو وَمَآ اَنْسَانِيْهُ، په سورة كهف كي، دويم عَلَيْهُ اللّٰهَ(۲) په سورة فتح كي اوپه دوه ځايه كي به هاىٔ ضمير ساكن وي، يو په اَرْجِهْ(۳) كي او دويم په فَاَلْقِهْ كي اوهر كله چي له هاىٔ ضمير څخه مخته نه زيروي، اونه ياء ساكنه وي نو هاىٔ ضميربه مضموم وي، لكه لَهٗ، رَسُوْلُهٗ، مِنْهُ، اَخَاهُ، رَاَيْتُمُوْهُ اوپه وَيَتَّقْهِ(۴) فَاُولٰٓئِكَ كي به هاىٔ ضمير مكسور وي او كله چي له هاىٔ ضمير څخه مخته او وروسته متحرك وي نو د ضمير حركت به په اشباع(۵) سره ويل كيږي، يعني كه چيري په هاىٔ ضمير باندي پيښ وي نو له هغه وروسته به واو ساكن زائد سي او كه چيري په هاىٔ ضمير باندي زيروي نو له هغه څخه وروسته به ياىٔ ساكنه زائد سي(۶) لكه مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ، وَرَسُوْلُهٗ اَحَقُّ، خو په يو ځاى كي به اشباع نه كيږي يعني وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ(۷) لكُمْ د دي پيښ به غير موصوله ويل كيږي، او كه چيري مخته يا وروسته يي ساكن وي نو اشباع به نه كيږي، لكه مِنْهُ، وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ، خو فِيْهٖ مُهَانًا(۸) چي په سورة فرقان كي دى د هغه په هاىٔ ضمير كي به اشباع كيږي(۹)

---

حواشي: (۱) په عبادت كي چي كله ديو اسم ظاهر بيانولو څخه وروسته كه چيري بيا د هغه اعاده ذكر مقصود وي نو د طوالت څخه دځان ساتلو او اختصار په كلام كي په غرض پرځاى داسم ظاهر يوه «ه» راوري چي هغي ته هاء ضمير او هاء كنايه وايي، مثلاً ذالك الكتٰبُ لَارَيْبَ فِيهِ، او مراد له دي څخه خاص ضمير د مفرد مذكر غايب دى. (۲) په دي دواړو ځايونو كي د قاعدي مطابق هاء ضمير مكسور كيدل پكار وو ليكن څرنگه چي په هاء ضمير كي ضمه اصلي ده د دي د پاره د لته اتباعا للاصل ضمه پاته سوه څرنگه چي علامه جعبري رح د دي ذكر كړى دى (۳) اصل د دي كلمي مهموز او معتل دواړه لغتونه دي د امام حفص په روايت كي معتل دي چي د هغه په وجه سره ياء ساكنه حذف سوه او هاء ضمير د هغه قائم مقام وگرځول سوه او فَاَلْقِهْ كلمه كي هم پر دي بنا باندي هاء ضمير ساكنه ده(۴) د حفص په روايت كي كه څه هم د قاف په سكون سره دي خو څرنگه چي اصل كي قاف مكسور دى په دي وجه د قاعدي كليي مطابق هاء ضمير مكسوره ده(۵) اشباع معنى حركت دومره اوږدول چي له هغه څخه حركت پيدا سي، او كه دا اوږد والى د هاء ضمير په حركت كي وي، نو د دي نوم صله ده، نو اشباع عامه ده او صله خاصه ده چي اطلاق يي يوازي د هاء ضمير د حركت په اشباع باندي كيږي. احقر مدني (۶) د صلي واو او ياء ته زائد ويل له دي وجي دى چي دا واو او ياء په ليكلو كي نه راځي بلكه يوازي د هاء د ضمي او كسرله كشولو څخه پيدا كيږي. احقر مدني (فائده) دا فصل داسي فصل دى چي تر دي له مخه به شايد تاسو ته نه وي تير سوى، هاء ضمير له كلمي څخه زائده وي نو ځكه اعتراض نه كيږي چي په لفظ كي د اللّٰه، يَكْرَهُ، كَرِهَ او داسي نور لكه هاء سكته تَسَنَّهْ، مَاهِيَهْ، ولي چي د امذكوره قاعده د هاء ضمير ده چي هغه زائده وي. احقر مدني (۷) د دي اصل يرضاه دى، بنا بر شرط الف پريوتو په دي وجه د اصل لحاظ وكړل سوا وصله ونه كړل سوه (۸) په دي ځاى كي جمعه بين اللغتين صله وكړل سوه(۹) په هاي ضمير باندي وقف بالاسكان خو مطلقا د ټولو قرا وو په نزد ثابت دى، ليكن وقف (پاته حاشيه پر راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿شپږم فصل دادغام په بيان كي﴾

ادغام(۱)په دري قسمه دی اول مثلين،دويم متقاربين،دريم متجانسين،كه چيري په يو مكرر حرف كي ادغام سوی وي نوادغام مثلين به ورته ويل كيږي لكه اِذْهَبْ(۲)اوكه چيري ادغام په داسي دووحروفو كي سوی وي چي دهغوی مخرج (۳)يوشميرل كيږي نودي ادغام ته متجانسين ويل كيږي،لكه وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ اوكه چيري ادغام په داسي دووحروفو كي سوی وي،چي هغه دوه حروف(۴) نه مثلين وي اونه متجانسين وي نوديته ادغام متقاربين ويل كيږي،لكه اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ بيا ادغام متجانسين او متقاربين په دوه قسمه دی(۵)اول ناقص دويم تام كه چيري اولني حرف په دويم حرف سره بدل كړی (۶)وي اوادغام يي كړی وي،نوادغام تام به ورته ويل كيږي،لكه قُلْ رَّبِّ،وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ،عَمَّ،اوكه چيري داولني حرف څه صفت پاته وي نوادغام ناقص به ورته ويل كيږي،لكه مَنْ يَّقُوْلُ،مِنْ وَّالٍ(۷)اوبَسَطْتَّ،اَحَطْتُّ،اوهر

---

حواشي :پاته حاشيه: بالروم اووقف باالاشمام په هرحالت كي روادی،اودبعضو په نزدكوم وخت چي دهاء ضمير څخه ماقبل واومده اوياء مده نه وي ياضمه اوكسره نه وي نوهغه وخت وقف بالروم اووقف باالاشمام روانه دی،لكه ماعقلوه ،به،فيه، يرفعه،اوهم دامذهب معتدل اوخوبن كړی سوی دی،لكه څنګه چي علامه شاطبي بيان كړی دی،وفی الهاء للاضمار قوم ابوهما ومن قبله ضم اوالكسرمثلا اواماهما واووياء وبعضهم يری لهما فی كل حال محللا يعني په هاء ضمير كي دوقف بالروم اووقف االاشمام كولو څخه يو جماعت انكاركړی دی،هركله چي دهاء ضمير څخه ماقبل ضمه ياكسره يادديدوا ړو اصل يعني واو وياء مده وي اوبعضو مطلقا په هرحال كي وقف باالروم وقف بالاشمام جائزساتلی دی.(۱)دادغام لغوي معنی ادخال الشی فی الشی ،يعني يوشي په بل شي كي داخلول،اودادغام مطلق اصطلاحي معنی هوخلط حرف ساكن بمتحرک بحيث يصيران حرفا واحدامشددا كاالثاني ويتحرک العضوعنداداتهمامتحركا واحدا ،يعني ساكن حرف په متحرک حرف كي داسي داخلول چي دواړه يو حرف مشددورڅخه جوړسي،دادغام حكمونه كه چيري په مثلينو كي اول حرف ساكن وو،اودويم متحرک هلته ادغام واجب دی،اوكه اول ساكن دويم متحرک وو بيا ادغام منعه دی،احقرمدني(۲)يعني هرحرف چي په خپل مثل كي ادغام سي مثلا ب په ب كي ج په ج كي ديته ادغام مثلين وايي،اومتجانسين ديته وايي چي مخرجونه يي يو وي،لكه ط د،ظ ذ،احقرمدني(۳)كه څه هم حقيقتاداسي دوه حرفه نسته چي مخرجونه دي بالكل يو وي،خومخارجودنزديوالي له كبله يي مخرج يوګڼلی وي، احقرمدني(۴)دسبب په اعتبارادغام دري قسمه دی،كله چي مثلين اومتجانسين نفي سو،نودريم قسم ثابت سو،دتقارب تعريف چي يي ونه كړ څكه تقارب ډيرقسمونه لري،تقارب دمخرج،تقارب دصفاتو،تقارب په اعتباردمخرج اوصفت،نوكله چي دتقارب حقيقت معلومول ډيرګران وو چي كوم تقارب دی،نومصنف په مختصره طريقه دتقارب حقيقت بيان كړوچي كه چيري ادغام په داسي دووحروفوكي ووچي نه مثلين اونه متجانسين ووهغه ته ادغام متقاربين ويل كيږي،احقرمدني(۵)دادوه قسمه ادغام يوازي دمتجانسينواومتقاربينو دي،څكه چي داقسمونه په مثلين كي نه راځي،احقرمدني (۶)يعني داوول ادغام چي داول حرف يوصفت پاته نه سي،څكه ذات بدلول خوپه ادغام ناقص كي هم وي،بيادتام اوناقص ويلو څه معنی ده،احقرمدني (۷)مَن يَقول،اومِن وَّالٍ،مثالونه دمتقاربين ناقص دي،پاتي دوه دمتجانسين ناقص دي،څكه چي ن،ی،او ن،و،نه مثلين دي نه متجانسين.احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

کله چي دمثلین او متجانسین مخکي حرف ساکن وي نو ادغام واجب دی لکه اَنِ اضْرِبْ بِعَصَاکَ الْحَجَرَ، وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ، مَا عَبَدْتُّمْ، اِذْ ظَّلَمُوْا، اِذْ ذَّهَبَ، قَدْ تَّبَیَّنَ، قَدْ دَّخَلُوْا، قُلْ رَّبِّ، (۱) بَلْ رَّفَعَهُ اللهُ، او په یَلْهَثْ ذَّالِکَ او، یٰبُنَیَّ ارْکَبْ مَّعَنَا، کي اظهار (۲) ثابت دی او هر کله چي دوه واوه، یا دوي، یاء سره یو ځای سي او اولنی حرف مده وي لکه قَالُوْا وَهُمْ، فِیْ یَوْمٍ، (۴) نو ادغام به نه کیږي هم دا رنګه حرف حلقي په یو غیر حلقي کي لکه، لَاتُزِغْ قُلُوْبَنَا (۵) او په خپل مجانس کي لکه فَاصْفَحْ (۶) عَنْهُمْ کي به نه مدغم کیږي، او په خپل مماثل کي به مدغم کیږي، لکه یُوَجِّهْهُ، مَالِیَهْ (۷) هَلَکَ، هم دا رنګه د لام ادغام په نون کي نه کیږي لکه قُلْنَا، قُلْ نَعَمْ (۸)

﴿فائده﴾ لام تعریف که چیري د دي څوارلسو حروفو څخه مخکي راسي نو اظهار به کیږي

حواشي: (۱) دادواړه دادغام متجانسین مثالونه دي خو صرف دفراء په مذهب باندي، ځکه چي دخلیل او سیبویه په نزد دلام اوراء مخرج جلا دی، نو د دوی په نزد متقاربین دي. احقر مدني

| دادغام قسمونه په اعتبار دحکم | دادغام مطلق قسمونه | دادغام اقسام په اعتبار دعمل | ادغام په اعتبار دکیفیت |
| --- | --- | --- | --- |
| واجب،، جائز، ، ممتنع | متماثلین، متجانسین، متقاربین | ادغام کبیر، ادغام صغیر | تام، ناقص |

(۲) خو اظهار په طریقه دطیبه دی، د شاطبي په طریقه سره په دي دواړو ځایو کي ادغام ضروري دی. احقر مدني (۳) په دي ځایو کي دادغام په وجه دواو اویاء مدیت چي ذاتي صفت دی ختم سي. (۴) د حروف حلقي و وادغام په غیر حلقي وو کي نه کول ښکاره دی، داغام دپاره اتحاد مخرج او یا قرب مخرج ضروري دی، او دلته دا شرط مفقود دی، غ، حلقي دی، او ق، لساني دی د مخارجو د اصولو په اعتبار سره دهریوه اصل جلا دی (۵) له تتبع د کتابو څخه معلومه ده چي د حروف حلقي و وادغام په خپل مابین کي دا هل زبان په نزد ډیر قلیل دی، یوائي دهاء ادغام د مماثلت په صورت کی کیږي، یاد، ح، ادغام په، ع، کي دابو عمر بصري رح په نزد کیږي، یعني په مَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ کي، وجه دنه ادغام داده چي مقصود له ادغام څخه خفت فی التلفظ دی، او په حروف حلقي و وکي دادغام په وجه ثقالت راځي. (۶) په دي ځای کي اظهار هم ثابت دی، بلکه راجح دی، ځکه چي دا های سکته ده، لیکن اظهار بي له سکتي ممکن نه دی، نو د اظهار کولو طریقه به داوي، چي د وصل په حالت کي دي په های سکته باندي سکته لطیفه وکړل سي که چیري سکته و نه کړل سي نو لا محاله ادغام به کیږي یا به های سکته متحرکه سي، لکه له نهایت القول المفید او اتحاف څخه معلومیږي ،الشرط الاول ان لایکون اول المثلین هاء سکتة وهي فی قوله تعالی مالیه هلک بسورة الحاقة فان فیها لکل القراء ممن اثبت الهاء وجهین الاظهار والادغام والاول ارجح وکیفیته ان تقف علی الهاء من مالیه وقفة لطیفة حال لوصل من غیر قطع نفس لانها هاء سکت لاحظ لها فی الادغام (۷) دلته یو تعلیل د عین کلمي د حذف په صورت کي سوی دی، او په ادغام سره به لام کلمه کي هم تغیر کول راځي نو ګویا په یوي کلمي باندي به توالي اعلالات لازم راسي، هم دا وجه په قل نعم کي هم کیدای سي او په فَالْتَقَمَهُ الحوتَ کي د اظها وجه داده چي دا فعل دی او ادغام کولو کي به لام تعریف سره التباس راسي چي د هغه مصاحبت په اسما و سره خاص دی، شرح جزري.



Maktaba Tul Ishaat.com

او هغه څوارلس حروف دادي، اِبۡغِ حَجَّکَ وَخَفۡ عَقِيۡمَهٗ(۱) دیته حروف قمریه(۲) وایي، لکه اَلۡاٰنَ ،اَلۡبُخۡلُ ،اَلۡغُرُوۡرُ،اَلۡحَسَنَةُ ،بِالۡجُنُوۡدِ ،اَلۡكَوۡثَرَ،اَلۡوَاقِعَةُ،اَلۡخَآئِبِيۡنَ ، اَلۡفَآئِزُوۡنَ ،اَلۡعَلِيُّ،اَلۡقَا بِتِيۡنَ اَلۡيَوۡمَ،اَلۡمُحۡسِنَاتِ،اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ،په پاته څوارلسو حروفو کي به ادغام کیږي چي هغوته حروف شمسیه وایي، لکه وَالصّٰٓفّٰتِ، وَالذّٰرِيٰتِ ،اَلثَّاقِبُ، اَلدَّاعِيۡ ،اَلتَّآئِبُوۡنَ ،اَلزَّانِيۡ اَلسّٰلِكِيۡنَ، اَلرَّحۡمٰنُ،اَلشَّمۡسُ،وَلَا الضَّآلِّيۡنَ،اَلطَّارِقُ،اَلظّٰلِمِيۡنَ،اَللّٰهُ،اَلنَّجۡمُ ﴿فائده﴾ دنون ساکن او تنوين ادغام په ياء، او ،واو(۳) کي اود ،طاء ادغام په ،تاء، کي به ناقص وي او په اَلَمۡ نَخۡلُقۡكُّمۡ کي ادغام ناقص هم جائزدی خو ادغام تام اولی دی او په ،نٓ وَالۡقَلَمِ، او يٰسٓ وَالۡقُرۡاٰنِ کي به اظهار وي او ادغام(۴) هم ثابت دی ﴿فائده﴾ عِوَجًا قَيِّمًا، په سورة کهف کي او مَنۡ رَّاقٍ په سورة قيامه کي او ،بَلۡ رَانَ، په سورة مطففين کي به اظهار کيږي، دسکتي(۵) په وجه سره او يو ځای دحفص رح په روايت کي بله سکته هم سته يعني مِنۡ مَّرۡقَدِنَا(۶) په سورة يٰسٓ کي او څرنګه چي سکته په يو لحاظ سره دوقف حکم لري په دي وجه به دعِوَجًا تنوين په الف(۷)

---

حواشي :(۱) دابغ حجک، وخف عقيمه، ترجمه داده: دخپل حج ښه والی اوخوبي طلب کړه، او ده قبليدو دحج څخه ويريږه، يعني په ښه حلال مال سره حج وکړه، چي قبول سي، او وه ويريږه په حرام مال سره دحج کولو. احقرمدني (۲) وجه دتسمي ښکاره ده چي دسپوږمی رڼا دستورو رڼا خپل ځان کي نه جذب کوي سوا له لمره چي هغه دستورو ځليدل او رڼا په خپل ځان کي جذب کوي. (۳) بالاتفاق دټولو په نزد په دي دوو حروفو کي ادغام ناقص دی او دنون ساکن او تنوين ادغام په ميم کي مختلف فيه دی بعضي ورته ناقص وايي او بعضي ورته تام وايي ليکن دنون ادغام په نون کي داکثرو قرا وو په نزد صرف تام دی او هم داصحيح ده ولي چي په مثلين کي صرف ادغام تام کيدای سي خو بعضي خلګ دي طرف ته هم تللی دي چي ناقص دی ليکن دا مذهب ضعيف دی ولي چي نقص ادغام مقتضی دی اختلاف دصفاتو لره او په مثلين کي اختلاف له صفاتو څخه وي . والله اعلم (۴) په دي حروفو کي ادغام صرف دطيبي په طريقه دی ،دشاطبي په طريقه په دوی کي صرف اظهار دی چي هغه ضروري دی، او يٰسٓ په ياء کي اود ،نون په واو کي مد په دوارو صورتو کي ږدی يعني دادغام او عدم ادغام. احقرمدني (۵) دسکتي لغوي معنی ده امتناع ،يقال سکت الرجل عن الكلام ،ای امتنع منه، ترجمه: يعني سکوت وکړي له کلام څخه يعني منعه سو له خبرو څخه ،او په اصطلاح دقراوو کي تلاوت جاري لرلو سره په يوه کلمه باندي بې له ساه اخستلو دلږ ساعت دپاره او از بندول او بيا فورا په هم هغه ساه سره مخکي ويل دي .قطع الكلمة من غير تنفس بنية القرائت ،دسکتي دوه قسمه دي سکته لفظي او سکته معنوي په کوم ځايونو کي چي د معنوي انفصال له کبله بين الکلمتين سکته وکړل سي هغه ته سکته معنوي وايي لکه څنګه چي په دي څلورو ځايو کي حفص سکته کړي ده، او هر کله چي بتقوية الهمز يعني دهمزي صفا او محقق ادا کولو په غرض سکته کولي سي ديته سکته لفظي وايي، لکه دامام حمزه په قرائت کي او دحفص په بعض طريقو کي. (۶) څرنګه چي په دي ځای کي وقف لازم دی او په سورة کهف کي عوجا باندي هم ايت دی په دي وجه په دي دوارو ځايونو کي وقف کول په مقابله دسکتي زيات بهترا او اولی دی. (۷) داشک دی ونه کړل سي چي عوجا قيما او لکه مريضا او، چي کله دواړه منصوب منون دي او سکته دوقف په حکم (پاته حاشيه په راتلونکي صفحه)

سره بدليږي، او د حفص په روايت کي پرېښوول (۱) د سکتي هم په دي ځايونو کي ثابته ده نو په دغه وخت کي به په اول ځای کي اخفاء کيږي او په دوو ځايونو (۲) کي به ادغام کيږي.

﴿فائده﴾ په مشدد حروفو کي د دوو حروفو په (۳) اندازه سره وخت لګيږي ﴿فائده﴾ کله چي دوه حروف مثلين غير مدغم (۴) وي نو هر يو به ښکاره ويل پکار دي، لکه أَعْيُنَنَا شِرْكِكُمْ، يُحْيِ دَاوُدُ، همدارنګه که چيري متقاربين (۵) متصل يا نزدي نزدي وي او ادغام ونه کړل سي نو هم هر يو به صفاء ويل پکار دي، لکه قَدْ جَآءَكُمْ، قَدْ ضَلُّوْا، اِذْ تَقُوْلُ، اِذْ زَيَّنَ، همدارنګه چي هر کله دوه ضعيف حروف سره يو ځای سي لکه جِبَاهُهُمْ، يا قوي حرف سره نزدي ضعيف حرف وي لکه اِهْدِنَا، يا دوه حروف مفخم سره يو ځای وي لکه مُضْطَرَّ، صَلْصَالٍ، يا دوه حروف مشدد نزدي يا يو ځای وي لکه ذُرِّيَّتَهُ، مُطَّهِّرِيْنَ، مِنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى، لُجِّيٍّ يَّغْشٰهُ، وَعَلٰى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ، همدارنګه چي دوه حروف متشابه الصوت (۶) يو ځای سي لکه، صاد، سين، طا، تا، ظا، ذال، قاف، کاف، نو هر يو ممتاز (۷) يعني يو د بل څخه جلا جلا ويل پکار دي، او کوم صفت چي د کوم حرف وي هغه په ښه طريقه سره ادا کول پکار دي.

---

حواشي: پاته حاشيه: کي ده نو د دواړو د سکتي په کيفيت کي دا فرق ولي دی چي د عوجا تنوين د سکتي په حالت کي الف سره بدل سي او د مريضا او تنوين د سکتي په وخت کي په الف سره نه بدليږي. جواب دا دی چي مريضا او، کي که چيري تنوين په الف سره بدل کړو نو بيا به يو نوی ثقل پيدا سي يعني د حرف مد څخه وروسته د همزي راتلل کي چي کوم ثقل دی دا هم دی ثقل رفع کولو په غرض سره مد متصل او مد منفصل کي په قصر باندي زيا تو الی کولای سي، چي حرف مد ضعيف دی او همزه قوي دی او کوم الف چي له تنوين څخه بدل سوی وي په هغه کي توسط او طول مروي نه دی لکه څرنګه چي د ورش په روايت کي د مد با الهمز السابق له قبيلي څخه مآء، ندآء کي توسط او طول نه سي کولای که چيري دا وويلي سي چي په منفصل کي قصر هم جائز دی که صرف قصر پاته وي نو څه خرابي وه ددي جواب دا دی چي په الف کي د لينيت په وجهي سره د تقويت همزه هغه درجه نه حاصليږي کومه چي په تنوين باندي سکتي کولو سره مقصود ده. (۱) د طيبه پر طريقه. (۲) مراد له دوو ځايو څخه، مَنْ رَاقٍ، او بَلْ رَانَ، دی، احقر مدني (۳) ځکه چي حرف مشدد د دوو حروفو له يو ځای کيدلو څخه جوړيږي، که وضعاوي او که ادغام په وجه، او که د مشدد حرف په ادا کولو کي د دوو حروفو پر اندازه وخت ونه لګول سي، نو دا حرف به مخفف سي، چي له هغه څخه لحن خفي لازميږي. احقر مدني (۴) که د ادغام د شرط د نه موجوالي په وجه وي، چي مثالونه يي په متن کي موجود دي، او که د يو مانع له وجي وي، لکه قالوا وهم، في يوم، فاصفح عنهم، او نور داسي، به په دواړو صورتو کي جلا وايي. احقر مدني (۵) د متقاربينو په مثال کي دال او جيم کي د صفاتو په وجه، په دال او ضاد کي د مخرج په وجه، او ذال تاء، او ذال زاء، کي د مخرج او صفاتو په وجه تقارب دی. احقر مدني (۶) يعني هغه حروف چي او ازيي سره يو شي وي، د متشابه الصوت حروفو د يو ځای جمعه کيدو مثالونه دا دي: س، ص، اليس الصبح، ط، ت، حبطت، ت، ط، تطلع، ض، ظ، انقض ظهرک، ذ، ظ، اذ الظالمون، ق، ک، خلق کل، ک، ق، لک قصورا. احقر مدني (۷) د مشدد حروفو جمعه کيدلو په صورت کي او متشابه الصوت جمعه کيدلو په صورت کي، هر يو به جلا ويل پکار دي. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿اوم فصل (۱) د همزي په بيان كي﴾

هر كله چي دوي همزي متحركي سره يو ځاى سي، او دواړه قطعي وي(۲) نو په تحقيق سره يعني ښه صفاء طريقي سره ويل پكار دي، خو ءَاَعْجَمِيٌّ، چي كوم په سورة حٰمٓ سجده كي دى، د هغه په دويمه همزه كي به تسهيل كيږي او كله چيري اوله همزه د استفهام(۳) وي او دويمه همزه وصلي مفتوحه وي، نو جائز دى(۴) په دويمه همزه كي تسهيل(۵) او ابدال خو ابدال اولىٰ دى او دا شپږ ځايه دي، ءَآلْئٰنَ په سورة يونس كي دوه ځايه راغي، ءَآلذَّكَرَيْنِ په سورة انعام كي دوه ځايه راغي ءَآللّٰهُ، دوه ځايه دي، يو په سورة يونس كي او دويم په سورة نمل كي، او هر كله چي اوله همزه د استفهام وي، او دويمه همزه وصلي مفتوح نه وي(۶) يعني مكسوره وي نو دا دويمه همزه به حذف كيږي، اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ، اَصْطَفَى الْبَنَاتِ، اَسْتَكْبَرْتَ، او د فتحي په حالت كي چي كوم حذف نه كيږي د هغه وجه دا ده چي په دي كي التباس(۷) د انشاء له خبر سره راځي او ځرنګه چي همزه وصلي په وسط د كلام كي حذف كيږي په دي وجه سره تغير كول كيږي له دي سببه ابدال اولىٰ دى، ولي چي په دي كي تغير تام دى(۸) په خلاف د تسهيل او هر كله چي دوي همزي يو ځاى سي اوله متحركه وي او دويمه ساكنه وي نو دا واجب دى همزه ساكنه د اولي همزي د حركت موافق په حرف مده سره بدلول(۹) لكه اٰمَنُوا، اِيْمَانًا، اُوْتُمِنَ، اِيْتِ، او هر

حواشي :(۱) د همزي په باره كي دا ځلور يحثونه يادلرى، حذف، تسهيل، ابدال، د همزي قسمونه، حذف دا دى چي همزه له مينځه ولاړه سي، تسهيل ديته وايي، چي همزه د همزي او د ماقبل حركت ترمايين وي، مثلاً له زور ځخه پيدا كونكى حرف الف دى، د پيښ واو دى، او له زيره ياء دى، ابدال دا دى چي همزه په بل حرف بدله سي، لكه اٰمَنُوا. احقرمدني (۲) مثلاً ءَاَنْذَرْتَهم، ءَاَسْجُدُ، ءَاَنْتُم، په دي مثالو يو همزه وصلي نسته. (۳) د استفهام قيد د دي د پاره نه دى، چي مخكي د دوو همزو د جمعه والي صورتونه ذكر سول په هغو كي اوله همزه د استفهام نه وي، هر كله چي په يوه كلمه كي دوي همزي جمعه سي هغه دواړه به قطعي وي، لكه ءَاَنْتَ، ءَاِنَّكَ، يا اوله قطعي دويمه وصلي وي، لكه الْئٰنَ، احقرمدني (۴) نو په آللّٰهُ كي تسهيل روا دى، او په ءَاَعْجَمِيٌّ، كي واجب دى. احقرمدني
(۵) هر كله چي همزه خالص له اقصايي حلق ځخه سره له صفت د شدت ادا كړل سي نو ديته تحقيق وايي، او كه چيري همزه په الف يا په نورو حروف مده وو سره بالكل بدله كړل سي، ديته ابدال وايي، او كه چيري د دي دواړو په مينځ كي وويل سي، ديته تسهيل وايي، لكه ځرنګه چي په شاطبي كي دي، والابدال محض والمسهل بين ماهو الهمز والحرف الذي منه اشكلا. (۶) معنى دا چي مكسوروي ځكه چي د همزي قطعي ځخه وروسته دويمه همزه وصلي مضمومه نه ده راغلي نو ځكه هم دغه يو صورت پاته سو چي همزه مكسوره يعني زير والا وي، (۷) د التباس معنى ده مشتبه كيدل بدليدل، نو مطلب دا سو چي د آللّٰهُ دويمه همزه چي وصلي مفتوح ده حذف كړو نو به دا معلومه نه سي چي كومه همزه اوس موجود ده استفهامي ده كه وصلي، كه استفهامي وي نو جمله انشائيه ده او كه وصلي وي نو خبريه ده، نو يي ځكه حذف نه كيږي. احقرمدني (۸) يعني كامل (پاته په راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

کله چي اوله همزه وصلي وي نو دشروع په حالت کي به همزه ساکنه بدلیږي او هرکله چي همزه وصلي حذف(۱) سي نو بیا به ابدال نه کیږي لکه اَلَّذِي اؤْتُمِنَ(۲) فِي السَّمٰوٰتِ ائْتُوْنِيْ، فِرْعَوْنَ ائْتُوْنِيْ، د همزی وصلي څخه مخکي چي هر کله یوه کلمه زیاته(۳) سي نو دا همزه به حذف کیږي، او ثابت پاته کیدل یې صحیح نه دی البته په شروع کی ثابت پاته کیږي او که چیري د لام تعریف همزه وي نو مفتوحه به وي، او که چیري دیو اسم همزه وي نو مکسوره (۴) به وي او که چیري د فعل همزه وي نو د دریم حرف ضمه که چیري اصلي(۵) وي نو همزه به مضمومه وي که نه نو همزه به مکسوره وي، لکه اَلَّذِيْنَ(۶) اِسْمٌ، اِبْنٌ، اِنْتِقَامْ، اُجْتُثَّتْ (۷) اِضْرِبْ، اِنْفَجَرَتْ اِفْتَحْ، او اِمْشُوْا، اِتَّقُوْا، اِيْتُوْا کي چونکه ضمه عارضي(۸) ده په دي وجه به همزه مضمومه نه وي، بلکه مکسوره به وي ﴿فائده﴾ چي همزه له عین سره یا له حا، سره یا حرف مده له عین یا حاء سره یو ځای جمعه سي همدارنګه عین، حاء، یو ځای راسي یا عین حاء او هاء یو ځای راسي یا عین حاء هاء مکرر راسي یا مامشد د وي، نو هر یو بیه(۹)

---

حواشي :پاته حاشیه: او پوره، ځکه چي په ابدال ذات بدلیږي، او په تسهیل کي تضعیف ذات دی، او د ذات په بدلولو کي پوره تغیر ښکاره دی. احقرمدني(۹) اوله همزه قطعي متحرکه وي یا وصلي، خو وصلي په درج د کلام کي حذف کیږي، له دي وجي چي د داسي کلمو په شروع کي یې همزه وصلي وي، له ماقبل سره یو ځای وو ایو نو به همزه وصلي د حذف کیدلو په وجه په دغه همزه ساکنه کي ابدال نه کیږي، ځکه چي بیا دوي همزي نه سوي پاته، او ابدال خو په هغه وخت کي کیږي چي دوي همزي سره جمعه سي. احقرمدني(۱) یعني له ماقبل سره دیو ځای ویلو په صورت کي، ځکه چي په داسي صورت کي همزه وصلي هم غورځي. احقرمدني(۲) په دي مثالو کي که چیري پر اَلَّذِي، فی السَّمٰوٰتِ، او فرعونَ، باندي وقف و کړل سي، او له وروسته لفظ څخه شروع وسي، بیا د دویمي همزي ابدال کیږي، او که مذکوره کلمي له مابعد سره یو ځای وویل سي، نو لکه څنګه چي همزه وصلي غورځي له دي وجي به په همزه ساکنه کي ابدال هم نه کیږي. احقرمدني(۳) یعني د همزه وصلي لرونکي کلمي په شروع کي که یوه بله کلمه ورسره یو ځای کړل سي. احقرمدني(۴) د کومو اسمو په شروع کي چي همزه وصلي راځي، هغه اته دي، ۱ اسم، ۲ ابنٌ ۳ ابنةٌ ۴ امرءٌ ۵ امرءةٌ ۶ اثنانِ ۷ اثنتانِ ۸ دا او ه سماعي دي، اتم قسم یې قیاسی دی، هغه له باب دافعال څخه سوا، ثلاثي مزید، رباعي مزید، ملحق په رباعي، مصادر دي، لکه اِنْتِقَامٌ، او داسي نور. احقرمدني(۵) ضمه اصلي هغه ضمه ده چي د حرف په خپله وي، چي په هغه سره اداکیږي، او له بل حرف څخه نه وي را نقل سوي. احقرمدني(۶) یعنی مفتوح مضموم او مکسور په ضمه عارضي په دي ټولو صورتونو کي همزه مکسوره ده. احقرمدني(۷) په دي مثالو کي اَلَّذِي، الف مرکب له لام سره مثال دی، او اِسمٌ، اِبنٌ، اِنتِقَامٌ، دا دري مثالو نه د اسم د همزي مکسوري دي، اول دوه سماعي، او دریم قیاسي دی، او پاته ټول مثالونه د افعالو دي، په هغو کي د اُجْتُثَّتْ همزه مضمومه ده ځکه چي دریم حرف مضموم په ضمه اصلي سره دی، په دا نورو ټولو کي همزه مکسوره ده، احقرمدني(۸) د دي درو ضمه په دي وجه عارضي ده چي اِيتُوا، په اصل کي اِيتِيُوا وو، اِمشُوا په اصل کي اِمشِيُوا وو اِتَّقُوا په اصل کي اِتَّقِيُوا وو، نو پر یاء ضمه ثقیله وه نو یې د ما قبل حرف کسره لري کړه، دا ضمه یې ورنقل کړه، بیا اجتماع ساکنین په وجه یاء حذف کړه. احقرمدني. (۹) لکه په مثلین، متجانسین، متقاربین، کي د دوارو حروفو جلا والی بې له ښه اهتمامه ممکن نه وو، همدارنګه د دوو حروف حلقیه وو ښه جلا والی بې له پوره اهتمامه ممکن نه دی. احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

په صفا طريقي سره اداكول پكاردي لكه اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ، فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ، فَاعِلِيْنَ، يَدْعُوْنَ، دُعَا، سُبْحٰنَهٗ، عَلٰى اَعْقَابِكُمْ، اَحْسَنَ الْقَصَصِ، عَلٰى عَقِبَيْهِ، اَعُوْذُ، عَهِدَ، عَاهَدَ، عَامِلِيْنَ، طُبِعَ عَلٰى سَاحِرٍ، سَحَّارٌ، لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ، مَبْعُوْثُوْنَ، يٰنُوْحُ اهْبِطْ، وَمَاقَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ، لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ جِبَاهُهُمْ. ﴿فائده﴾ همزه متحرك ياساكنه چي په كوم ځاى كي وي هغه ښه صفاء طريقي سره ويل پكاردي اكثره ځايو كي داسي كيږي چي همزه په الف سره بدليږي ياحذف كيږي ياپه صفا طريقي سره نه اداكيږي بيا خاص په هغه ځاى كي چي دوي همزي وي نو هلته زيات خيال ساتل پكاردي چي دواړه همزې ښه صفا اداسي(۱) لكه ءَاَنْذَرْتَهُمْ. ﴿فائده﴾ دساكن حرف څخه وروسته چي كله همزه راسي نو ددي خيال ساتل پكاردي چي دسكون ساكن تام اداسي او همزه ښه صفا اداسي، او داسي دي نه وي چي همزه حذف سي او دهغه حركت سره ماقبل ساكن حرف متحرك سي، څنګه چي داكثر خيال نه كولو سره داسي كيږي، بلكي هغه ساكن كله مشدد هم سي لكه قَدْ اَفْلَحَ، اِنَّ الْاِنْسَانَ، په همدي وجه سره(۲) دحفص په بعضو طروقو كي(۳) ساكن باندي سكته كول كيږي ددي دپاره چي همزه ښه صفا اداسي كه هغه ساكن او همزه په يوه كلمه كي وي، اويا په دوو(۴) كلمو كي وي.

## ﴿اتم فصل(۵) دحركاتو دادا په بيان كي﴾

له فتحه سره دخلاصوالي دخولي او اواز څخه، اوكسري سره دكښته والي دخولي او اواز څخه، له ضمي سره ديو ځاى كيدو دشونډانو او اواز څخه ظاهرېږي، كه نه(۶) نو چيري په فتحه

حواشي :(۱) همزه چي قوي او سخت حرف دى نو كه له قاري څخه په تلاوت كولو كي غفلت وسي، نو يي قوت لري سي، پر ځاى يي تسهيل او كله ابدال او كله بياله سره حذف سي. احقرمدني(۲) يعني له دي غلطيانو څخه دځان ساتلو په وجه، دروايت حفص په بعضو وجوهو كي پر ساكن حرف باندي سكته كيږي، چي ساكن متحرك نه سي. احقرمدني(۳) دابعضي طريقي دطيبي له طروقو څخه دي، دشاطبي په يوه طريقه كي هم پر داسي ځايو سكته نه كيږي، نو دشاطبي پر طروقو چي چا الزام كړى وي هلته سكته كول نه دي پكار. احقرمدني(۴) يعني پر هغه ساكن حرف سكته كول چي له هغه وروسته همزه وي لكه اَلْاَرْضُ، او دواړه بيا په يوه كلمه كي وي لكه الارض، هغه ته ساكن متصل وايي، م(۵) دلته دايو څوشيان ډيرا هم او ضروري دي، دحركاتو نومونه، دحركاتو تقسيم، او دهغو دادا كيفيت، فتحه او نصب زورته ويل كيږي، كسره او جر، زيرته ويل كيږي، ضمه او رفعه، پيښ ته ويل كيږي، فرق يي صرف دومره دى چي اول نوم دحركات مبنيه وودى، او دويم نوم دمعربه وودى. او حركت مطلقا پر دوه قسمه دى، معلومه، مجهوله، كوم تعريف چي په متن كي دى هغه دمعلومه دى، له هغه سوا مجهوله دى. احقرمدني(۶) له دي ځايه تر فايدي دعبارت مطلب دادى، چي دحركت يو صحيح كيفيت دى، او دوه يي غلط دي، مثلاً په فتحه كي كه انفتاح (پاته په راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

كي څه کښته والی وسونوزوربه دزیرمشابه کیږي،اوکه چیري څه یوځایوالی وسونوزوربه دپیښ مشابه کیږي،همدارنګه که چیري په زیرکي پوره کښته والی ونه سونومشابه به دزور کیږي په دي شرط که څه خلاصوالی سوی وي،اوکه چیري څه یوځای والی پیدا سونوزیربه دپیښ سره مشابه کیږي،اوکه چیري په پیښ کي پوره یوځایوالی ونه سونوپیښ به دزیرسره مشابه کیږي،په دي شرط چي څه اندازه کښته والی سوی وي،اوکه چیري څه اندازه خلا صوالی پیدا سونودزورمشابه کیږي. ﴿فائده﴾هغه زورچي دهغه څخه وروسته(۱)الف نه وي اوپیښ چي دهغه څخه وروسته واو ساکن نه وي،اوزیرچي دهغه څخه وروسته یاء ساکنه نه وي دغه حرکات داشباع څخه ساتل(۲)پکاردی،که نه نوداحروف به پیدا کیږي، همدا رنګه دپیښ څخه وروسته چي کله واومشددوي اودزیرڅخه وروسته چي یاء مشددوي،لکه عَدُوٌّ، سَوِیٌّ لُجِّیٌّ،نودغه وخت کي هم دکشولو څخه ځان ساتل ډیرضروري دی(۳) خصوصاپه وقف کي(۴)زیات خیال ساتل پکاردی که نه نومشدد به مخفف کیږي. ﴿فائده﴾هرکله چي دزورڅخه وروسته الف وي اودپیښ څخه وروسته واوساکن غیر مشددوي،اودزیرڅخه وروسته چي یاء ساکن غیرمشددوي،نوپه دغه وخت کي دغه حرکات په کشولو سره ضروروېل پکاردي،که نه نوداحروف به نه اداکیږي(۵)خصوصاچي کله څوحروف مده(۶)نزدي نزدي

حواشي :پاته حاشیه:کامل وي نوصحیح ده،اوکه دانخفاض یاانضمام وطرفته څه میلان وي،نوغلط دی،همدادول که په کسره کي انخفاض کامل وي نوصحیح ده،اوکه انفتاح اوانضمام ته میلان وي یباغلط دی،اوکه په ضمه کي انضمام شفتین کامل وي، نوصحیح دی،که انفتاح یاانخفاض ته میلان وي نوغلط دی،نودحرکاتو دصحیح اداکیفیت ضروري دی.احقرمدني
(۱)په دي کي اشاره ودیته ده چي کوم حرکات کشیدونکي نه وي،هغه باید کش نه کړل سي،حرکات پردوه قسمه دي،یوپراته حرکات دي،لکه ،بَ،بِ،بُ،داپروت زوردی نه کشیږي،اوزیرهم لاندي کشیدونکی نه دی،اوپیښ چپه یاخنجري پیښ نه دی، او ددي مقابل ،با،بِ،بُ،چي ولاړحرکت کښته زیر،چپه پیښ دی،داتقدیرامداصلي دی،ځکه چي ولاړزوردالف مده اوازورکوي اوکښته زیرد ،یا،مده،اواوزورکوي،اوچپه پیښ دواومده اوازورکوي،عام حرکتونه بایدله کشیدلوڅخه وساتل سي.احقرمدني
(۲)یعني اوږدول اوکشول یي نه دي پکار.(۳)ځکه که مشددحرف په سختي سره ونه ویل سي،نوتشدیدبه پاته سي،دتشدیدنه پاته کول لحن جلي دی،اولحن جلي حرام دی.احقرمدني(۴)په وقف کي ساه په ختمیدلووي،اودتشدیددپاره دقوت ضرورت وي،نویي ځکه دغه حالت ته خاصه توجه وکړه چي تساهل نه سي واقع.احقرمدني(۵)داحرکات داشباع نه ویلوپه صورت کي له دوی څخه حروف مده نه ویل ښکاره خبره ده،ځکه چي داحروف دحرکاتوله اشباع څخه پیدا کیږي.احقرمدني(۶)لکه څنګه چي دمثلین،متجانسین ،متقاربین اویاد دوهمزودجمعوالي په صورت کي هریوصاف اوواضح ویل بي له پوره اهتمامه ممکن نه وو ،همدادول دوه یاله دوو څخه زیات حروف مده یوځای متصل سره راسي،نوهریوپه خپل مقدارسره اداکولوکي پوره اهتمام پکاردی.احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

جمع وي، لکه نُوْحِيْهَا نو زيات خيال ساتل پکار دي، ولي چي اکثره له خيال نه کولو سره کله کشيږي، او کله نه کشيږي ﴿فائده﴾ مَجْرِيهَا، چي کوم په سورة هود کي دی، په اصل کي لفظ دمَجْرِيهَا دی، يعني راء مفتوحه ده او دهغه څخه وروسته الف دي، په دي ځای کي اماله ده په دي وجه سره خالص زور او خالص الف به نه ويل کيږي، او نه به زير خالص او نه به ياء خالص ويل کيږي، بلکه زور به دزير و طرفته او الف به دياء و طرفته مايل کړي، او ويل کيږي چي په دي سره به زور د مجهول(۱) زير په شان کيږي، او دهغه څخه وروسته به ياء مجهول وي، او له دي څخه ما سوا بل ځای اماله (۲) نسته ﴿فائده﴾ زير او پيښ دعربو په کلام کي مجهول نه دی ،بلکه معلوم دی، او دادا صورت(۳) يي دا دی چي په زير کي پوره کښته والی سره د زير اواز باريک وځي او په پيښ کي دشونډو راټولولو سره دپيښ اواز باريک وځي. ﴿فائده﴾(۴) حرکات ښه ښکاره ويل پکار دي(۵) دا دي نه وي چي دسکون مشابه سي همدارنګه سکون پوره اداکول پکار دي دپاره ددي چي دحرکت مشابه نه سي، او ددي څخه دځان دساتلو صورت دا دی چي دساکن حرف اواز په مخرج کي بندسي او دهغه څخه وروسته دي دويم حرف وځي(۶) او که چيري ددويم حرف ښکاره کيدلو څخه مخکي په مخرج کي جټکه(۷) وسي نو خاما خا به دا سکون دحرکت مشابه کيږي، البته په حروف قلقله او ،کاف، او تاء، په مخرج کي حرکت پيدا کيږي ،فرق صرف دومره دی چي په حروف قلقله کي جټکه په سختي سره کيږي، او کاف او تاء کي جټکه په ډير نرمي سره کيږي ﴿فائده﴾ په ،ک، او ،ت، کي چي کومه جټکه کيږي، په هغه کي د ،ه، يا ،س، يا ،ث، بوی راتلل نه دی پکار.

حواشي :(۱) دمجهولي کسري، او وروسته دياء مجهولي پيدا کيدل دا اصطلاح دعربو نه دی، بلکه دا د عجمو ده، لکه اردو، پښتو فارسي، مصنف صرف دپوهني په خاطر استعمال کړي ده، ځکه چي کسره او ياء مجهوله په کلام دعربو کي نسته، احقرمدني (۲) يعني دحفص په روايت کي ددي لفظ څخه علاوه بل ځای اماله نسته. (۳) دحرکات معلومه و مثالونه ،نور، جميل، دحرکات مجهوله ومثالونه، مور، درويش، احقرمدني (۴) ددي فايدي په ضمن کي مصنف دحرف دحرکت او سکون دصحت حفاظت لار ښوونه کړي ده، ځکه چي ددواړو دکيفيت ادا حفاظت کول دتجويد له لوازمو څخه ده. احقرمدني (۵) يعني دحرکت دادا کولو په وخت کي دضرورت مطابق ددوو عضوو دانفکاک اهتمام دي وسي، ځکه که انفکاک ونه سي، نو حرکت به دسکون مشابه سي، ځکه چي حرکت له انفکاک عضوين څخه اداکيږي، او سکون له اتصال عضوين څخه. احقرمدني (۶) يعني فی الحاله، ځکه که د حرف ساکن دا واز بنديدلو څخه وروسته فی الحاله دويم حرف ادا نه سي، بلکه لږ وروسته ادا سي نو دا به سکته سي، احقرمدني (۷) دحرف ساکن په اداء کي ددوو خبرو خيال ساتل پکار دي، لومړی دا چي دهغه سکون دي تام ادا سي، يعني داتصال عضوين پوره خيال وسي، ځکه بيا دحرکت اثر په کي راځي، دويم دا چي له هغه وروسته دي دويم حرف فوراً ادا سي، ځکه بيا به سکته سي، احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دریم باب، اول فصل داجتماع ساکنین په بیان کي﴾

اجتماع ساکنین(۱) یعني د دوو ساکنو یو ځای کیدل، یو علی حده دی(۲) دویم علی غیرحده دی، علی حده دیته وایي چي اول ساکن حرف مده وي، او دادواړه ساکنه(۳) په یوه کلمه کي وي لکه دَآبَّةٌ، آٰلْئٰنَ، دا اجتماع ساکنین جائزدی، (۴) او اجتماع ساکنین علی غیرحده جائزنه دی، البته په وقف کي جائزدی(۵) او اجتماع ساکنین علی غیرحده دیته وایي چي اول ساکن حرف مده نه وي یادواړه ساکنه په یوه کلمه کي نه وي، اوس که چیري اول ساکن حرف مده وي، نو هغه به حذف کیږي، لکه وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ، عَلٰی اَنْ لَّا تَعْدِلُوْا اِعْدِلُوْا، وَقَالُوا الْاٰنَ فِی الْاَرْضِ، تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ، وَاسْتَبَقَا الْبَابَ(۶) وَقَالَا الْحَمْدُ، فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ، که چیري اول ساکن حرف مده نه وي

حواشي: (۱) که چیري دوه ساکنه سره یو ځای سي، دا په عربي کلام کي پر دوه قسمه دی، علی حده او علی غیرحده، دعلی حده معنی ده پر خپله اندازه او خپل حالت باندي، او علی حده دیته وایي، چي اول ساکن حرف مده او دویم ساکن په دغه کلمه کي وي، دا اجتماع ساکنین روا دی، او که له دي دوو شرطو څخه یو پاته سي بیا علی غیرحده دی، چي په کلام د عربو کي روانه دی، احقرمدني (۲) علی حده دا معنی چي پر خپل حالت باندي پاته وي، له خپل حالت څخه وتلی نه وي، او علی غیری حده دا معنی چي له خپله حده وتلی وي، په علی حده کي دواړه ساکنه پر خپل حالت باقي پاته وي، پر یوه حرکت نه راځي، او نه حذف کیږي، ځکه ور ته علي حده وایي، او په علی غیرحده کي په حالت دوصل کي دواړه ساکنه پر خپل حال باقي نه پاته کیږي، اول صورت لکه اَلْقَدْر، چي وقف وسي نو دال هم ساکن دی او راء هم ساکنه ده، او که وصل کو و بیا راته زیرور کول کیږي، او په دویم صورت کي چي اول حرف علت وي نو هغه حذف کیږي، لکه قَالَا الحمد، اَقیموا الصلٰوة، احقرمدني (۳) که څه هم مصنف داجتماع ساکنین علی حده په تعریف کي دا دوه شرطونه دي، نو جواب دادی چي قراءة اصل دی او طرف فرع دی نو فرع داصل تابع وي، خو دعلم صرف علماو دریم شرط هم زیات کړی دی، هغه دا چي ثاني ساکن دي مدغم هم وي، نو جواب دادی چي قراءت اصل دی او طرف فرع دی فرع داصل تابع وي، دوی په، آٰلْئٰنَ، کي اجتماع ساکنین علی حده نه وایي، بلکه علی غیرحده دی خوله دي سره سره دوی داول ساکن حذف روا بولي. احقرمدني (۴) یعني په وصل او وقف دواړو کي، که نه نو په وقف کي علی غیرحده هم روا دی، خو دمتن په دواړو مثالو کي پر دویم ساکن دوقف څه موقع نسته، ځکه چي په دوی کي دویم ساکن دکلمي منځ دی، او دعلی حده داسي مثالونه چي پر دویم ساکن وقف وکړل سي هغه مقطعات دي، چي هغه اسماء دي اوله وروسته حروفو څخه جلا دي، لکه، الم، او حم، عسق، چي داد وصل او وقف په دواړو حالاتو کي ساکن ویل کیږي. احقرمدني (۵) دعلی حده دروا والي حکم په هغه صورت کي دی، چي دوه ساکنه په یوه کلمه کي وي، او مخکي مده نه وي، لکه اَلْقَدْر، او په پاته صورتو کي وقف روانه دی ځکه چي دویم ساکن دکلمي مینځ دی، هغه خو محل دوقف نه دی، چي دجواز او نه جواز حکم پیدا سي، دا دول په، قل الحق، قل الحمد، کي دویم ساکن په مینځ دکلمي کي دی، نو وقف نه سي کیدلای. احقرمدني (۶) بعضي خلک په اجتماع ساکنین کي چي کله اول ساکن دتثنیي الف وي، نو په وجه دالتباس دواحد صیغي سره دتثنیي الف لږ را کش کړی وایي، دا طریقه او عمل دتجوید دقاعدو او دعربي اصولو څخه خلاف او غلط دی، کتاب النشر مطبوعه دمشق صفحه ـ ۱۳۸ ـ ج ۲، باب الوقف علی مرسوم الخط ومن المتفق علیه ماحذف من الیاءات والواوات والالفات لاالتقاء الساکنین وهو (پاته په راتلونکي صفحه)

نو هغه ته به حرکت د زير(۱) ورکول کيږي لکه اِنِ ارْتَبْتُمْ(۲) وَاَنْذِرِ النَّاسَ، مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ، بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوْقُ، خو چي کله اول ساکن ميم جمع وي، نو پيښ به ورکول کيږي لکه عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ، عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ، او مِنْ، کوم چي حرف جر دی، له دي څخه وروسته چي کله يو حرف ساکن راسي، نو نون به مفتوح(۳) ويل کيږي لکه مِنَ اللّٰهِ، همدا رنګه ميم د، الٓمٓ اللّٰهُ، به په

حواشي :پاته حاشيه: ثابت رسما نحو يؤتي الحكمة، الى ان قال بعد ستة سطور قريبا ونحو وقالا الحمد واستبقا الباب وادخل النار، فالوقف على جميع ذالك وما اشبه بالاثبات لثبوتها رسما وحكما وهذا ايضا مما يختلف فيه انتهى :ترجمه: د التقاء ساکنين په وجه سره د الف او ياء او واو حذف کيدل د ټولو قراوو په متفق عليه مسائلو کي وي، او دغه حروف ثلثه به په رسم خط کي ثابت وي، لکه يؤتي الحكمة او ددي عبارت شپږ ليکو څخه وروسته د امثالو نه هم دي، وقال الحمد واستبقا الباب وادخلا النار وروسته وقف به په دي ټولو ځايونو او ددوی مشابه الفاظو کي د حروف مده وو اثبات سره به وقف کولی سي په وجه د ثابتوالي ددوی رسما او حکما او ددي الفونو په وقف کي ثابت ساتل هم د مختلف فيه مسائلو څخه نه دي او په سراج القاري شرح شاطبيه مطبوعه مصر ۱۳۱ باب مذکور کي دي واما الالف فان كل الف سقطت من اللفظ الساكن لقيها فانك اذا وقفت عليها وفصلتها من الساكن اثبتها في الوقف لجميع القراء وذالك فان كانتا اثنتين ودعوا الله ربهما، وقالا الحمد، وقيل ادخلا النار، واستبقا الباب، وشبهه انتهى ترجمه: او هرچي الف دی پس هر هغه الف کوم چي په تلفظ يعني ويلو کي ساقط سوی وي، په سبب د داسي ساکن سره کوم چي ددي څخه وروسته واقع سوی دی پس بيشکه که چيري ته وقف کوي په هغه باندي او هغه د دغه ساکن څخه جلا کوي نو د ټولو قراوو د پاره به په وقف کي دا الف ثابت لري په شان د مثالو نو ذکر سوو، دا د واړه کتابونه کوم چي د تجويد او قراءت معتبرو او مستندو کتابو څخه دي ددوی د مذکوره عباراتو څخه په تصريح سره دا ثابته او معلومه سوه چي مذکوره بالا الفاظو کي به تثنيي الف مطلق نه ويل کيږي بلکي صرف په وقف کي به ويل کيږي پس په مذکوره بالا الفاظو کي د وقف په حالت کي الف ويل پکار دی هم دا عمل د عربو د تمام قراوو دی، ددي خلاف به ممنوع او غير صحيح وي، ځکه چي د قواعدو او عربي اصولو په لحاظ سره په داسي اجتماع ساکينين کي په حالت د وصل اول ساکن که چيري حرف مد وي نو غورزول کيږي، او په تلفظ کي ثابت او باقي ساتل يي روانه دي، من تحتها الانهر في الارض، قل ادعوا الله، د وصل په حالت کي حرف مد بالاتفاق ټول قراء غورزوي د همدي قاعدي مطابق به په دي مذکوره بالا کلماتو کي هم د تثنيي الف غورزولی سي، په هيڅ يو قراءت متواتره کي باقي ساتل يي ثابت نه دی، که چيري دا شک وکړل سي چي د الف حذف کولو په صورت کي به د تثنيي التباس د واحد صيغي سره راسي نو ددي جواب دا دی چي سياق او سباق سره اهل علم حضراتو باندي پخپله ښکاره کيږي او ظاهريږي چي د تثنيي صيغه ده که څه هم په مذکوره مثالو کي د حرف مد د حذف کولو سبب التقاء ساکنيين دی کوم چي د ومره عام مستعمل دی چي په بعضو صورتونکي باوجود د عدم التقاء ساکنين هم دا حروف حذف کولی سي، مثلا د ورش رح په روايت کي، من تحتها الانهر، او في الارض، او قالوا الان، دي مثالو نو کي د نقل حرکت په وجه سره له عدم التقاء ساکنين حروف مده حذف کولی سي نو بيا د التقاء ساکنين په صورت کي خو په طريق اولی حذف کيدل پکار دي، والله اعلم (۱) ځکه چي دا مشهوره مقوله ده، اساکن اذا حرک حرک بالکسر، يعني چي کله ساکن حرف ته حرکت ورکولو ضرورت پيښ سي، نو د کسري حرکت دي ورکړل سي. احقر مدني (۲) ان ار تبتم او نور مثالونه يي د قاعدي د اجراء څخه وروسته جوړ سوي دي، که نه نو دا په اصل کي، ان ارتبتم، وو بيا د همزي وصلي له حذف کولو وروسته په مثال کي د وه ساکنه جمعه سول، بيا د قاعدي مطابق اول ساکن ته د کسري حرکت ورکړل سو، احقر مدني

(۳) د من مفتوح ويلو وجه دا ده چي فتحه اخف الحرکات ده او من بيا کثير الاستعمال دی، او د کثرت استعمال دا تقاضا وي چي خفيف حرکت ورکړل سي. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

وصل كي مفتوح ويل كيږي(۱)﴿فائده﴾بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوْقُ(۲)چي په سورة حجرات كي دى
په دي كي دبِئْسَ څخه وروسته لام مكسور دى،له هغه څخه وروسته سين ساكن دى اودلام
مخته اووروسته چي كوم همزه دى هغه همزه وصلي دى،په دي وجه به حذف كيږي،ا ودلام
زيرپه سبب داجتماعِ دساكينينو دى(۳)﴿فائده﴾كلمه مُنوّنه يعني دكومي كلمي په اخري
حرف باندى چي دوه زورونه يادوه زيرونه يادوه پيښونه وي نو هلته يونون ساكن ويل كيږي
(۴)اوليكل كيږي نه،ديته نون تنوين وايي،اوداتنوين په وقف كي حذف كيږي(۵)خو كه دوه
زورونه وي نو دغه تنوين به په الف سره(۶)بدليږي لكه قَدِيْرٌ، وَبِرَسُوْلٍ،بَصِيْرًا اوپه وصل كي
چي هركله ددي څخه وروسته همزه وصلي وي نوهمزه وصلي به حذف كيږي اودا تنوين به
په سبب داجتماع ساكنين على غيرحده مكسورويل كيږي،اواكثره ځايونو كي خلاف قياس
(۷)يو كوشنى نون ليكل كيږي،لكه بِزِيْنَةِ نِ الْكَوَاكِبِ، خَيْرَانِ الْوَصِيَّةُ(۸) خَبِيْثَةِ نِ اجْتُثَّتْ طُوًى
نِ اذْهَبْ،﴿فائده﴾دتنوين څخه شروع كول يادتنوين څخه راګرځول صحيح نه دى

حواشي :(۱)دسورت ال عمران په شروع كي د،الم،وميم ته دوصل په حال كي دكسري پرځاى فتحه ددي دپاره وركوي چي اسم الجلالة تفخيم باقي پاته سى،ځكه كه مكسورويل سي بيابه دالله ج،دلام دكوالى به پاته نه سي.احقرمدني(۲)دلته اوله همزه ځكه حذف كيږي،چي داهمزه دلام تعريف ده،اودويمه داسم همزه ده،اودواړي همزي وصلي دي،داقاعده ده چي په درج د كلام كي همزه وصلي حذف كيږي،پريښوول يي نه دى روا .احقرمدني(۳)يعني داجتماع ساكنين على غيرحده په وجه،ځكه چي اَل جلا كلمه ده،اسْمْ جلا كلمه ده،لكه په قُلِ الـ... كي چي قل اوالحق جلاجلا كلمي دي،نو داَل لام اول ساكن دى،اوداسْم سين دويم ساكن دى.احقرمدني(۴)مطلب داچي دتنوين تلفظ داسي دى لكه نون ساكن،فرق يي دومره دى چي نون ساكن په ويلو او ليكلو دواړو كي وي،اوتنوين په ويلو كي وي،په ليكلو كي نه وي.احقرمدني(۵)داحكم يواځي دزيراوپيښ دتنوين دى،چي په حال د وقف كي حذفيږي،اودووزوروتنوين په الف سره بدليږي.احقرمدني(۶)داچي دزيراوپيښ تنوين حذفيږي،اودزوردا په الف بدليږي،وجه يي دارسم اتباع ده،ځكه چي دزيراوپيښ تنوين ليكل سوى نه دى،اودزورتنوين په صورة دالف ليكل سوى دى، خو دافرق يي صرف په وقف كي ملحوظ دى،په وصل كي كه ددزورپيښ زيروي،په هرصورت كي ويل كيږي،لكه بِعَذَابٍ اَلِيمٍ، وَاللهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ،فَاِنَّ اللهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا .احقرمدني(۷)له دي وجي مخالف دى چي دغه كوچنى نون ليكل له عثماني رسم الخط څخه خلاف دى،دادعامو خلكو داسانى دپاره ليكل سوى دى.احقرمدني(۸)بعضي ناواقفه په خَيْرَنِ الْوَصِيَّةُ كي له كوچني نون څخه مخكي الف په حالت دوصل كي وايي،داغلط دى،ځكه هغه الف دنصبي تنوين صورت دى،نو كله چي تنوين دنون مكسوره په صورت كي اداسي،نو دالف ويلو هيڅ معنى نسته.احقرمدني(۹)ځكه چي دشروع اوبيرته راګرځيدلو محل اول دكلمي دى، او تنوين دكلمي په اول كي نه راځي،بلكه په اخركي وي،نو ځكه له تنوين څخه نه شروع صحيح ده اونه
اعاده.احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دويم فصل د مد(۱) په بيان كي﴾

مد پر دوه قسمه دى يو مد اصلي، او دويم مد فرعي، مد اصلي ديته وايي چي د حروف مده وو ځخه وروسته نه سكون وي، او نه همزه وي(۲) مد فرعي ديته وايي چي له حروف مده وو ځخه وروسته سكون يا همزه وي(۳) او دا پر څلور قسمه دى(۴) اول متصل دويم منفصل، دريم لازم، څلورم عارض، يعني د حرف مده ځخه وروسته كه چيري همزه راسي، او په يوه كلمه كي وي نو هغه ته مد متصل وايي او كه چيري همزه په دويمه كلمه كي وي، نو هغه ته مد منفصل وايي ،مثال د مد متصل لكه(۵) جَآءَ، جِيْٓءَ، سُوْٓءَ، مثال د مد منفصل لكه فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ، قَالُوْٓا اٰمَنَّا مَآ اُنْزِلَ، د حرف مده ځخه وروسته چي كله سكون وقفي(۶) وي، لكه رَحِيْمْ، تَعْلَمُوْنَ، تُكَذِّبٰانِ، نو ديته مد عارض وايي، او په دي كي طول، توسط، قصر، دري سره جائز دي(۷) او كله چي له حرف مده ځخه وروسته داسي سكون وي، چي په هيڅ(۸) حالت كي له حرف ځخه جلا كيداى نه سي، هغه ته مد لازم وايي، او دا په څلور قسمه دى، له دي سببه كه چيري حرف مده په حروف مقطعاتو كي وي، نو حرفي ورته وايي، او كه نه وي كلمي ورته وايي، بيا هر يو كلمي او حرفي په دوه قسمه دى، مثقل، او مخفف، كه چيري له حرف مده ځخه وروسته مشدد حرف وي، نو مثقل به ورته وايي، او كه چيري خالص سكون(۹) وي نو مخفف به وي، د مد لازم حرفي مثقل او مد لازم حرفي مخفف مثالونه(۱۰) الٓمّٓ، الٓرٰ، الٓمّٓرٰ، كٓهٰيٰعٓصٓ، حٰمٓ، عٓسٓقٓ، حٰمٓ، طٰسٓ، طٰسٓمّٓ

---

حواشي: (۱) د مد لغوي معنى مطلقا زياتوالى دى، يمدد كم باموالٍ وّبنين، اى يزد كم او د مجودينو په اصطلاح كي اطالة الصوت على حرف المد خاص په حروف مده باندي اوازاوږدول كه چيري په بل يو حرف باندي اوازاكشولى سي نو په هغه باندي به د مد اطلاق نه كيږي(۲) يعني د مد فرعي له دوو سببو ځخه يو سبب هم موجود نه وي، ځكه چي سكون همزه دا دواړه د مد فرعي سببونه دي. احقرمدني(۳) يعني د مد فرعي له اسبابو ځخه يو سبب له حرف مد وروسته راسي، نو كله چي محل مد وي او سبب مد نه وي، لكه اُوتِينا، هلته به صرف مد اصلي كيږي، چي مقدار يي يو الف دى، او كوم ځاى چي محل مد او سبب دواړه وي، لكه جآءَ، مآ اُنزِلَ ،يَعلمونَ، مِن خوفٍ، په حالت د وقف كي هلته به د مد اصلي ځخه متجاوزسي، مد فرعي به هم كيږي. احقرمدني(۴) په دي څلوروكي د مد سببونه صرف دوه دي، ځكه چي په دوى كي د دوو دوو قسمو د پاره سبب جوړيږي، هغه په دي ډول چي په مد متصل او منفصل كي سبب مد همزه دى، او په لازم او عارض كي سكون دى. احقرمدني(۵) په دي مثالوكي اول دري مثالونه د مد متصل دي، او نور دري د مد منفصل دي. احقرمدني(۶) يعني داسي سكون چي د وقف په وجه راغلى وي، او په وصل كي هغه حرف متحرك ويل كيږي، دا ډول په تولو مثالوكي دا خبره سته چي كه چيري په دوى باندي وقف وسي، بيا دا حروف ساكن ويل كيږي، او كه نه وي بيا متحرك دي. احقرمدني(۷) دلته دا دري سره له دي وجي جائز دي، چي د رحِيمْ، تعلمون، او تُكذِّبان، دوه حالته دي، يو يي موجوده حالت چي د وقف په وجه له حرف مد ځخه وروسته سكون عارض سوى دى، او (پاته په راتلونكي صفحه)

نٓ، صٓ، قٓ، او د مدلازم کلمي مثقل مثال لکه، دآبۃ، او د مدلازم کلمي مخفف مثال لکه، آلْئٰنَ، او هر کله چي د، واو، او یاء، ساکنه څخه مخکي زور وي(۱) او له هغه څخه وروسته ساکن حرف وي نو هغه ته مدلین (۲) وایي، لکه، مِنْ خَوْفٍ، وَالصَّیْفِ، او په دي کي قصر، توسط(۳) طول، دري سره جائز دي، او عین مریم او عین شورٰی کي قصر ډیر ضعیف دی(۴) او طول افضل او اولٰی دی(۵) ﴿فائده﴾ د سورة آل عمران الٓمٓ اللّٰهُ، د وصل په حالت کي به میم ساکن د اجتماع ساکنین علی غیر حده په وجه مفتوح ویل کیږي، او د الله همزه به نه ویل کیږي، او په میم کي مدلازم دی، له دي سببه په وصل کي طول او قصر دواړه جائز دي(۶) ﴿فائده﴾ حروف مده چي هر کله موقوف وي نو د دي خبري خیال ساتل پکار دي، چي دیوه

حواشي :پاته حاشیه: دویم اصلي او وصلي چي پر اخري حرف یي حرکت وو، نو موجوده حالت په اعتبار په ده کي مد فرعي جائز سوی دی او د اصلي حالت په اعتبار سره د هغه ترک دی، د مد فرعي مقدار دوه دی، طول، توسط، سیبونه یي هم دوه دي، یو د هغه وجود، دویم د عارض کیدلو په وجه د هغه ضعیف کیدل، او دلته جائز هم دا دوه مقداره دي. احقر مدني(۸) یعني نه په وصل او نه په وقف کي، د اسي سکون چي په دواړو حالو کي باقي وي، سکون لازم وایي، د امقابل د سکون وقفي دی، ځکه چي هغه صرف په وقف کي ثابت وي، او دا په وقف او وصل دواړو کي ثابت وي. احقر مدني(۹) یعني له وروسته حرف سره یو ځای مشدد نه ویل کیږي، له سکون محض څخه هم مراد دغه دی. احقر مدني (۱۰) که څه هم مصنف د حرف مثقل او مخفف مثالونه یو ځای درج کړي دي، نو کوم ځای چي له حرف مده څخه وروسته حرف مشدد وي، هغه مثقل دی، او چي غیر مشدد وي هغه مخفف دی. احقر مدني

(۱) مطلب دا چي که له حرف لین څخه وروسته سکون وي، ځکه چي د واو او یاء ساکني څخه مخکي فتحه وي، هغه ته واو او یاء لین وایي، مصنف چي دا پری ایښی او تطویل یي مختاره کړی دي، وجه یي دا ده چي مصنف په دي رساله کي نه د مخارجو په بیان کي د خلیل مذهب اختیار کړی دی، چي واو او یاء په مده او لین کي د تقسیمولو ضرورت پیښ سوی وای، او نه یي د صفاتو په بیان کي د لین ذکر کړی دی. احقر مدني(۲) نو څنګه چي سبب مد دوه دي یعني همزه او سکون، دا د ول محل مده هم دوه دي، حرف مد او لین د سکون په نسبت د همزي قوي سبب دی، له دي وجي دا په دواړو ځایو کي سبب جوړیږي، په حرف مد کي هم او په لین کي هم، او د همزي درجي قوي نه دي، نو په حرف مد کي سبب جوړیږي، او په لین کي نه جوړیږي، ځکه چي حرف لین د مد ضعیف محل دی، په دي کي د سبب مدیت هغه جوړیږي چي قوي وي. احقر مدني(۳) په مدلین عارض کي دلته اوله درجه د قصر، بیا د توسط، بیا د طول، دی، او په مد عارض کي یي بیان دا د ول دی، اول طول، بیا توسط، بیا قصر، نو په دي فرق سره یي د هر دوو مدونو په ترتیب او مراتبو سره پوهول مقصود دي، احقر مدني (۴) په عین مریم او عین شورٰی کي قصر له دي وجي ضعیف دی، چي دلته مد عارضی دی، نو د قوي سبب په حالت کي د مد فرعي ترک یعني قصر ضعیف وو، او د سبب د ضعیف کیدلو په صورت کي د دي ادا کول ضعیف وګرځول سو. احقر مدني (۵) مطلب دا دی چي په عین مریم او عین شوری کي قصر ضعیف دی، او په طول، قصر کي هم طول اولی دی، احقر مدني (۶) د سورة ال عمران د شروع په الم، کي په حالت د وصل کي طول له دي وجي روا دی، چي د دي کلمي په اخر کي سکون د نورو حروفو مقطعاتو په د ول اصلي او لازم دی، او قصر ځکه روا دی چي د اجتماع ساکنین علی غیر حده په وجه حرکت راغلی دی، او د مد اصلي په حکم کي سوی دی، نو طول یي د اصل په لحاظ، او قصر د موجوده صورت په لحاظ، او توسط نه دی روا ځکه دا مدلازم دی، توسط نه کیږي. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

الف ځخه زيات نه سي دويمه خبره دا چي له حرف مده ځخه وروسته،هاء،ياء،همزه،زائده نه
سي لکه قَالُوْا،فِيْ،مَالاً،لکه ځنګه چي اکثر له خيال نه کولو ځخه کيږي.

## ﴿دريم فصل،د مد (۱) مقدار ونه او د مد کولو په وجوهاتو کي﴾

په مد عارض اولين عارض کي دري وجهي دي،طول،توسط،قصر،فرق يي دو مره دی(۲) چي
په مد عارض کي طول اولٰی دی،له هغه ځخه وروسته توسط،له هغه ځخه وروسته د قصر
مرتبه ده،په خلاف د مد لين عارض چي په دي کي اولنی مرتبه د قصر ده له هغه ځخه وروسته
توسط له هغه ځخه وروسته د طول مرتبه ده،اوس دا معلومول پکار دي،چي مقدار د طول ځو
نه دی،د طول مقدار دري الفه دی،او د توسط مقدار دوه الفه دی،او په يو (۳) قول کي د طول
مقدار پنځه الفه دی،او د توسط مقدار دري الفه دی،او د قصر مقدار په (۴) دواړو قولونو کي
هم يو الف دی ﴿فائده﴾ د مد لازم په ځلور وسره قسمو نو کي به طول علی التساوی (۵) يعني
برابر کيږي،او د بعضو په نزد په مثقل کي زيات مد دی(۶) او د بعضو په نزد په مخفف کي زيات
مد دی خو د جمهورو په نزد تساوٰی دی(۷) ﴿فائده﴾ د حرف موقوف مفتوح ځخه مخکي چي

---

حواشي : (۱) مقدار يعنی اندازه،يعني په کوم حرف مد کي ځومره اندازه کشول پکار دي،يو الف،دوه الفه،دري الفه،او جُه جمعه د وجه دی،مراد له اوجه ځخه د حروف مده وو د مقدار نومونه دي،لکه طول،توسط،قصر،نو طول د مد يوه وجه ده،توسط يي بله،قصر يي بله وجه ده،دي ته اوجه مد وايي،په دويم فصل مصنف د مد قسمونه بيان کړل،په دي دريم فصل کی دا بيان کوي چي په مدو تو کي ځومره وجوه دي.احقر مدني (۲) وجه د فرق يي دا ده چي په حروف مده وو کي مد اصالتًا کيږي،سو اله حروف لين چي په دوی کي مد تشبيه له وجي کيږي،په ذات کي يي مد نه وي،نو د سبب مد پيدا کيدلو په صورت کي اولنی درجه د مد عيّ مقدار طول ته ورکړل سو،بيا يي کوچنی مقدار چي توسط دی،او بيا اخرينی مقدار چي قصر دی.او په لين کي د سبب پيدا کيدلو وروسته اولنی درجه ترک مد ته ورکړل سوي ده،احقر مدني (۳) عمل په اول قول وسي،او يا دويم قول وسي،د طول مقدار له توسط ځخه په هر حال کي زيات وي،ځکه په کوم قول کي چي د توسط مقدار دري الفه دي،هلته به د طول مقدار پنځه الفه دي،او چي د توسط مقدار دوه الفه دي،د طول مقدار دري الفه دی.احقر مدني (۴) مطلب دا چي په طول او توسط کي دوه دوه قوله دي،او د قصر مقدار په قطعي ډول معلوم دی،هيڅ اختلاف په کی نسته،وجه دا ده چي د قصر نوم دی د حروف مده وو هغه مقدار چي پر هغه باندي د دوی ذات موقوف دی،نو ځکه کموالی زياتوالی په کي نسته،سو اله طول توسط ځخه چي دا د مد زيات مقدارونه دي.احقر مدني (۵) يعني د مد لازم ځلور قسمونه ۱ کلمي مثقل ۲ کلمي مخفف ۳ حرفي مثقّل ۴ حرفي مخفف.احقر مدني (۶) بهتره هغه ده چي په متن کي ذکر سوه،چي په دوی کي طول علی التساوٰی دي،نه په يوه کي زياتوالی نه کموالی.احقر مدني (۷) يعني برابر لکه ځکه جمهورو دي
باريک فرق ته اعتبار نه دی ورکړی،او د واړه قسمه سکون ته يي يو حيثيت
ورکړی دی،د مد مقدار يي پر خپل حال
ساتلی دی.احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

كله حرف مده يا حرف لين وي لكه عَالَمِيْنَ، لَاضَيْرَ، نو دري وجهي(۱) به په وقف كي وي، طول مع الاسكان، توسط مع الاسكان، قصر مع الاسكان، او كه چيري حرف موقوف مكسور وي نو عقلي وجهي شپږ او ځي(۲) په هغو كي ځلور جائز دي، طول، توسط، قصر مع الاسكان، قصر مع الروم، او طول، او توسط مع الروم جائز نه دي، ځكه چي د مد د پاره(۳) د حرف مد څخه ورو سته سكون پكار دى، او د روم په حالت كي سكون نه وي بلكي حرف متحرك وي، او كه چيري حرف موقوف مضموم وي لكه نَسْتَعِيْنُ، نو عقلي ضربي وجهي(۴) نه۹، دي طول، توسط قصر مع الاسكان، طول، توسط قصر مع الاشمام، قصر مع الروم، دا اوه وجي جائزدي، او طول توسط مع الروم جائز نه دي، لكه مخكي چي مغلومه سوه ﴿فائده﴾ هر كله چي مد عارض يا مد لين څو ځايه وي، نو په هغه كي د تساوٰى(۵) او توافق خيال ساتل پكار دي، يعني كه چيري په يو ځاى كي په مد عارض كي طول كړى وى، نو په بل ځاى كي دي هم طول وكړل سي، او كه چيري يي توسط كړى وي، نو بل ځاى هم توسط كول پكار دى، كه چيري يو ځاى يي قصر كړى وي، نو بل ځاى هم قصر كول پكار دى، همدا رنګه مدلين چي هر كله څو ځايه وي، نو توافق كيدل پكار دى، او څنګه چي په طول توسط كي توافق كيدل پكار دى(۶) همدا رنګه په مدلين كي هم چي كله څو ځايه وي، نو توافق كيدل پكار دى، مثلاً دا عُوْذُ بِاللّٰهِ، او بِسْمِ اللّٰهِ، څخه تر رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، پوري د فصل كل په حالت كي ضربي وجهي اته څلويښت جوړيږي(۷)

---

حواشي : (۱) ځكه چي دلته موقوف عليه حرف مفتوح دى، په دي صورت كي وقف په يوه كيفيت سره كيداى سي، چي هغه بالاسكان دى، احقر مدني (۲) ځكه چي دلته وقف په دوو طريقو سره كيدلاى سي، يو وقف بالاسكان، او بل وقف بالروم، له هر يوه سره د مد دري دري وجي ويل كيدلاى سي، احقر مدني (۳) يعني مد فرعي، او طول، توسط د هغو دوو اندازو نوم دى، چي د هغه د پاره د سكون ضرورت وي. احقر مدني (۴) ځكه دلته وقف په دري طريقو سره كيدلاى سي، له هري طريقي سره د مد دري دري و جوه ويل كيږي، دري چي په دروكي ضرب كړي نه وجي جوړيږي. احقر مدني (۵) د تساوٰى او توافق يوه معنى ده، يعني برابر والى چي ديوه مقدار له بل څخه زيات او كم نه وي. احقر مدني (۶) يعني دا دول د مد په وجوهو كي هم د برابري خيال ساتل پكار دى، كه يي په اولني ځايو كي پنځه الفه طول كړى وي، په پاته ځايو كي به هم پنځه الفه مد كول پكار وي، او كه يي دري الفه كړى وي، په پاته كي به هم دري الفه مد وي. احقر مدني (۷) دا ته څلويښت عدد په اوريدلو سره به د طالبانو ذهنونه خاما خا مشوش سوي وي، ځكه چي موقوف عليه وجي خو يوا ځي دري وي، او وجوهات اته څلويښت سو، د دي لوي وجه دا ده چي دوى د ضرب له قاعدو څخه نا خبره دي، نو دلته اول د ضرب مطلب بيانيږي، وروسته ديو جدول په شكل دا وجوه بيانيږي، طالبان دي بنه ورته متوجه سي چي بيا به يي دا تشويش ختم سي، او كه بيا هم څه مشكل طالبان ويني، نو معلومه ده چي دوى د جمعي او ضرب فرق نه سي كولاى، نو دوى دي بيا په فرق پوه سي، چي جمعه وايي ديو عدد جمعه كول له بل عدد سره (پاته حاشيه به راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

دغه رنګه چي د ،اَلرّجیۡمِ،او جه ثلاثه (۱)مع الاسکان،او قصرمع الروم ته د ،اَلرّحیۡمِ،په مدود ثلاثه او قصرمع الروم کي په ضرب ورکولو سره شپاړس وجهي کيږي،او دغه شپاړس ته د اَلۡعٰلَمِیۡنَ په او جه ثلاثه کي ضرب ورکولو سره اته څلويښت وجهي جوړيږي،چي په هغو کي

| | اول څلور | شکلونه |
|---|---|---|
| شماره | دالرجیۡم | اوالرحیۡم |
| ۱ | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان |
| ۲ | = | توسط مع الاسکان |
| ۳ | = | قصرمع الاسکان |
| ۴ | = | قصرمع الروم |

| | دويم څلور | شکلونه |
|---|---|---|
| شماره | دالرجیۡم | اوالرحیۡم |
| ۱ | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان |
| ۲ | = | توسط مع الاسکان |
| ۳ | = | قصرمع الاسکان |
| ۴ | = | قصرمع الروم |

| | دريم څلور | شکلونه |
|---|---|---|
| شماره | دااَلرجیۡم | اواَلرّحیۡم |
| ۱ | قصرمع الاسکان | طول مع الاسکان |
| ۲ | = | توسط مع الاسکان |
| ۳ | = | قصرمع الاسکان |
| ۴ | = | قصرمع الروم |

| | څلورم قسم | شکلونه |
|---|---|---|
| شماره | دااَلرّجیۡم | اواَلرّحیۡم |
| ۱ | قصرمع الروم | طول مع الاسکان |
| ۲ | = | توسط مع الاسکان |
| ۳ | = | قصرمع الاسکان |
| ۴ | = | قصرمع الروم |

---

حواشي :پاته حاشیه: مثلاً ۳ له ۴ سره جمعه کړی ۷ کيږي،او ۸ له ۹ سره جمعه کړی ۱۷ کيږي،دیته جمعه وايي،ضرب دیته وايي چي يو عدد په بل عدد کي ضرب کړي،لکه ۲ چي په ۴ کي ضرب کړي نو مطلب يی دادی چي ۲ څلور چنده کړه،حاصل به يي ۸ راووځي،او يا ۳ په ۳ کي ضرب کړه،معنی ۳ دري چنده کړه،او ۴ په ۴ کي حاصل يي شپاړس راوځي،نو فرق به يي ډيرزر درته ښکاره سي،او په دي پوه سي چي دالرجیم،الرحیم،او العٰلمین،ددي دروسره وضربي وجوهات اته څلويښت داسي جوړ کړی،اول دالرجیم څلور جائزو جوه دالرحیم په څلورو جائزو کي ضرب کړی،حاصل به يي شپاړس سي،بیا دا شپاړس د العٰلمین په درو وجوهو کي ضرب کړی نو به اته څلويښت وجوه جوړ سي.احقرمدني (۱) يعني دري وجوه،چي دمد دري وجوه دي،طول، توسط،قصر،او له مدود ثلاثه څخه هم دادري وجوه دي،مدود جمعه دمدده.احقرمدنی



Maktaba Tul Ishaat.com

## ﴿د اَلرَّجِيمِ، اَلرَّحِيمِ، او اَلْعٰلَمِينَ، د ۴۸ وجوهو نقشه﴾

| شماره | اَلرَّجِيمِ | اَلرَّحِيمِ | اَلْعٰلَمِينَ | کیفیت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | جائز باالاتفاق |
| ۲ | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۳ | طول مع الاسکان | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۴ | طول مع الاسکان | قصر مع الروم | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۵ | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۶ | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۷ | توسط مع الاسکان | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۸ | توسط مع الاسکان | قصر مع الروم | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۹ | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۰ | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۱ | قصر مع الاسکان | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۲ | قصر مع الاسکان | قصر مع الروم | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۳ | قصر مع الروم | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۴ | قصر مع الروم | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۵ | قصر مع الروم | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۶ | قصر مع الروم | قصر مع الروم | طول مع الاسکان | مختلف فیه |
| ۱۷ | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۸ | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۱۹ | طول مع الاسکان | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۰ | طول مع الاسکان | قصر مع الروم | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۱ | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۲ | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | جائز باالاتفاق |
| ۲۳ | توسط مع الاسکان | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۴ | توسط مع الاسکان | قصر مع الروم | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۵ | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۶ | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۷ | قصر مع الاسکان | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۸ | قصر مع الاسکان | قصر مع الروم | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۲۹ | قصر مع الروم | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۳۰ | قصر مع الروم | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |



Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | توسط مع الاسكان | ناجائز |
| ۳۲ | قصرمع الروم | قصرمع الروم | توسط مع الاسكان | مختلف فيه |
| ۳۳ | طول مع الاسكان | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۳۴ | طول مع الاسكان | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۳۵ | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۳۶ | طول مع الاسكان | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۳۷ | توسط مع الاسكان | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۳۸ | توسط مع الاسكان | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۳۹ | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۰ | توسط مع الاسكان | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۱ | قصرمع الاسكان | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۲ | قصرمع الاسكان | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۳ | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | جائزبالاتفاق |
| ۴۴ | قصرمع الاسكان | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۵ | قصرمع الروم | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۶ | قصرمع الروم | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۷ | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴۸ | قصرمع الروم | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | جائزبالاتفاق |

وجهي (۱) بالاتفاق جائزدي، يعني په اَلرَّجِيْمِ، اَلرَّحِيْمِ، الْعٰلَمِيْنَ، كي طول مع الاسكان، توسط مع الاسكان، قصرمع الاسكان، په اَلرَّجِيْمِ، الرَّحِيْمِ، كي د قصرمع الروم په حالت كي په اَلْعٰلَمِيْنَ كي قصرمع الاسكان، او بعضو د الرَّجِيْمِ، الرَّحِيْمِ، قصرمع الروم په حالت كي اَلْعٰلَمِيْنَ، كي طول، توسط، جائزګڼلي دی(۲) پاته د وڅلويښت وجهي بالاتفاق غيرجائزدي

حواشي :(۱) ددي څلورو د رواوالي وجه ښكاره ده، ځكه چي په دوی كي د وجوه مد په اعتبار سره تساوی او برابروالی دی، چي په اوله وجه كي په درو سره وو كي قصردی، او په څلورمه وجه كه څه هم دومره فرق سته چي په الرجيم، او الرحيم كي روم دی، او په العليمن، كي اسكان دی، خو داڅه تاوان نه دی، احقرمدني (۲) ددي د پاره چي په الرجيم او الرحيم كي د روم په وجه طول او توسط كيدای نه سي، نو د مساوات د نه پاتي كيد و سره هم دا دوي وجي د بعضو په نزد جائزګڼلي سوي دي، او بعضي د نه مساوات له وجي ناجائزګڼلي دي. احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

او د فصل اول وصل ثاني په صورت كي عقلي وجهي دوولس راوځي،په دي شان سره چي د اَلرَّحِيۡمِ په مدود ثلاثه او قصرمع الروم لره د اَلۡعٰلَمِيۡنَ په اوجه ثلاثه كي ضرب وركولو سره (۱) دوولس وجهي كيږي،په هغو كي څلور وجهي بالاتفاق جائزدي،طول مع الطول مع الاسكان (۲) توسط مع التوسط مع الاسكان،قصرمع القصرمع الاسكان،قصرمع الروم مع القصر بالاسكان ،او قصرمع الروم مع التوسط بالاسكان،او قصرمع الروم مع الطول بالاسكان، دا دوي وجهي مختلف فيه دي(۳)پاته وجهي باالاتفاق غيرجائزدي،او په وصل اول فصل ثاني كي هم دوولس وجهي عقلي جوړيږي،او په هغو كي څلور وجهي صحيح دي،او دوي وجهي مختلف فيه دي،او په دي صورت كي چي كومي وجهي جوړيږي،هغه بعينه په شان د فصل اول وصل ثاني دي،په دي وجه بيان كړل سوي نه دي،او دوصل كل په حالت كي د العلمين مدود ثلاثه (۴)دي خلاصه دا سوه چي په استعاذه او بسمله كي پنځلس يا يويشت (۵)وجهي صحيح دي

حواشي : (۱) ځكه چي په دي صورت كي موقوف عليه صرف دوه پاته كيږي،الرحيم،او العلمين،نو د مخكيني څلور هر يو سره په العلمين، كي دري وجوه ويل كيږي،نو د څلور وضرب په دروكي دوولس جوړيږي،او وصل اول فصل ثاني،همدا ول كتړل پكار دي،ځكه په دي كي هم موقوف عليه صرف دوه دي،او په دواړو كي مخكيني حالت هم يو دی.احقرمدني (۲) له مخكني طول څخه مراد د الرجيم طول دی،او له دويم څخه د العلمين،او اسكان د واړو ته شامل دی،طول مع الاسكان مع الطول مع الاسكان،او په پاته دووكي ،يعني توسط او قصركي هم دا ډول دی،او په څلورم كي له روم څخه مراد د الرجيم روم دی،او له اسكان څخه د العلمين اسكان دی،احقرمدني (۳) د مختلف والي وجه يي په دي مخ تفشي كي حاشيه كي ذكرده.احقرمدني (پاته حاشيي په راتلونكي صفحه

| شماره | اَلرَّجِيۡم | اَلۡعٰلَمِيۡنَ | كيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | طول مع الاسكان | طول مع الاسكان | جائز |
| ۲ | طول مع الاسكان | توسط مع الاسكان | ناجائز |
| ۳ | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴ | توسط مع الاسكان | طول مع الاسكان | ناجائز |
| ۵ | توسط مع الاسكان | توسط مع الاسكان | جائز |
| ۶ | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۷ | قصرمع الاسكان | طول مع الاسكان | ناجائز |
| ۸ | قصرمع الاسكان | توسط مع الاسكان | ناجائز |
| ۹ | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | جائز |
| ۱۰ | قصرمع الروم | طول مع الاسكان | مختلف |
| ۱۱ | قصرمع الروم | توسط مع الاسكان | مختلف |
| ۱۲ | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | جائز |

| شماره | الرحيم | العٰلمينَ | كيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | طول مع الاسكان | طول مع الاسكان | جائز |
| ۲ | طول مع الاسكان | توسط مع الاسكان | ناجائز |
| ۳ | طول مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۴ | توسط مع الاسكان | طول مع الاسكان | ناجائز |
| ۵ | توسط مع الاسكان | توسط مع الاسكان | جائز |
| ۶ | توسط مع الاسكان | قصرمع الاسكان | ناجائز |
| ۷ | قصرمع الاسكان | طول مع الاسكان | ناجائز |
| ۸ | قصرمع الاسكان | توسط مع الاسكان | ناجائز |
| ۹ | قصرمع الاسكان | قصرمع الاسكان | جائز |
| ۱۰ | قصرمع الروم | طول مع الاسكان | مختلف |
| ۱۱ | قصرمع الروم | توسط مع الاسكان | مختلف |
| ۱۲ | قصرمع الروم | قصرمع الاسكان | جائز |



Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده﴾ داکومي وجهي چي بيان کړل سوي، هغه وخت دي چي په اَلْعٰلَمِيْنَ، باندي وقف وکړل سي(۱) او که چيري په اَلرَّحْمٰنِ، اَلرَّحِيْمِ، باندي يا په، يَوْمِ الدِّيْنِ، يا نَسْتَعِيْنُ، باندي وقف وکړل سي، کله وصل او کله وقف(۲) وکړل سي، نو ډيري(۳) ضربي وجهي راوځي، او په هغو کي د صحيح وجهي رايستلو طريقه(۴) داده چي په کومه وجه کي د ضعيف په قوي باندي ترجيح راسي، يا مساوات پاته نه سي، يا اقوال مختلفه کي گډوالی وسي، نو بيا به دغه وجه صحيح نه وي ﴿فائده﴾ که چيري مدعارض او مدلين عارض يوځای جمع سي نو دغه وخت عقلي وجهي کم از کم نهه(۵) راوځي، او س که چيري مدعارض په مدلين باندي مخته وي مثلا، لکه

حواشي :پاته حاشيه: (۴) يعني د وصل کل په حالت کي به وقف نه پر، اَلرَّجِيم، باندي کيږي، او نه پر، اَلرَّحِيم، او په اَلعلمين کي ،طول ،توسط، قصر مع الاسکان دي ،له مد و ځخه هم دا مراد دی. احقر مدني (۵) پنځلس وجهي داسي جوړيږي، چي څلور د فصل کل په صورت کي څلور د فصل اول وصل ثاني په صورت کي، څلور د وصل اول فصل ثاني په صورت کي، او دري د وصل کل په صورت کي دي، دا سوي پنځلس، او يويشت داسي جوړيږي، چي د مخکيني دري صورتو نو هر صورت کي دوي دوي وجوهات مختلفه دي، دا شپږ چي ورسره يوځای کړي، نو يويشت کيږي. احقر مدني (۱) دلته له وقف ځخه مراد قطع ده، يعني چي قرائت دلته ختم سي، که نه نو وقف خو پر الرَّجيم، او الرَّحيم هم کيږي، د وقف او قطع فرق له استاذ ځخه معلوم کړی. احقر مدني (۲) دلته وقف پر خپله معنی باندي دی، د قطع په معنی نه دی، ځکه چي دلته يي د وقف په مقابله کي وصل راوړی دی، د وصل مقابل وقف دی، قطع نه ده، احقر مدني (۳) ځکه چي د موقوف عليه د زياتوالي په وجه وجوهات هم زياتيږي، ځکه پر الرحيم باندي په قطع قرائت سره شپارس وجوه جوړيږي، او چي قطع پر العلمين باندي وسي، په مينځ کي موقوف عليه دوه سول، چي الرجيم او الرحيم دی، نو وجوهات زيات سول ۴۸ څلويښت ته ورسيدل، او که پر العلمين قطع ونه کړو، بلکه پر الرحمٰن الرحيم باندي وقف وکړو، نو اول ۴۸ ته په دويم الرحيم په څلورو کي ضرب ورکولو سره وجوهات ۱۹۲ سوي، او که دلته هم قطع ونه کړو بلکه پر يوم الدين باندي وسي، بيا هغه ۱۹۲ په څلورو د اَلدِّين کي ضرب کولو سره ۷۶۸ وجوهات سي، احقر مدني (۴) طرقه په معنی د قاعدي ده، دا دري اصول لري ،اول، دا چي د ضعيف ترجيح دي پر قوي نه راسي، دويم، عدم مساوات لازم نه سي، دريم، په اقوال مختلفه و کي دي گډوالی رانه سي، په کومه وجه کي چي له دي دريو خبره نه وي هغه وجه صحيح ده، او که له دي درو ځخه يوه خبره پيدا نه سي ،مثلا د قوي ترجيح پر قوي راغله ،يا مساوات نه سو لحاظ، او يا په اقوال مختلف کي خلط راغلی، بيا په دي درو سره صورتو کي هغه وجه غير صحيح ده، تفصيل يي دا دی، چي د مد فرعي په څلور سره قسمو کي لازم، عارض کي خو د مد سبب سکون جوړيږي' او په متصل منفصل کي د مد سبب همزه وي، بيا په متصل او منفصل کي متصل قوي دي، او منفصل ضعيف دی، او په لازم او عارض کی لازم قوي دی، عارض ضعيف دی، وجه د فرق يي دا ده، چي په متصل کي د سبب مد حرف مد سره اتصال مستقل او دايمي وي، چي په يوه حالت کی هم له دي ځخه جلا کيدا لای نه سي، سو اله منفصل چي په دي کي پر اول کلمه د وقف کولو په صورت کی سبب مد د حرف مد ځخه جلا سي، احقر مدني (۵) ځکه چي دري وجي په مد عارض کي دي، طول، توسط، قصر، دري وجي په لين کي دي، قصر، توسط، طول، نو درو ته په درو کي ضرب ورکولو سره نه وجي سوي، دا د وقف بالاسکان په صورت کي' او که روم هم وکړل سي، بيا شپاړس کيږي، ځکه چي بيا به له دواړو ځخه په هريوه کي څلور څلور وي. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ جُوْعٍ، مِنْ خَوْفٍ، نو شپږ وجهي (۱) جائز دي يعني طول مع الطول (۲) طول مع التوسط، طول مع القصر، توسط مع التوسط، توسط مع القصر، قصر مع القصر، او دري وجهي غير جائز دي، يعني توسط مع الطول، قصر مع التوسط، قصر مع الطول، او هركله چي مدلين مخته وي، لکه لَا رَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ، نو دغه وخت هم نهه وجهي راوځي په هغو کي شپږ وجهي جائز دي، يعني قصر مع القصر، قصر مع التوسط، قصر مع الطول، توسط مع الطول، توسط مع التوسط طول مع الطول، طول مع التوسط، طول مع القصر، توسط مع القصر، دا دري وجهي غير جائز دي، او دا وجهي غير جائز په دي وجه دي، چي په حروف مده کي مد اصل او قوي دی، او حرف لين کي چي کوم مد کيږي، هغه د تشبيه په وجه سره کيږي، په دي وجه حرف لين کي مد ضعيف دی، او په دي صورتونو کي ترجيح د ضعيف پر قوي باندي راځي، او دا جائز نه ده او که چيري موقوف عليه کي د حرکاتو د اختلاف په وجه روم او اشمام جائزوی نو په هغو کي به نوري وجهي زائد پيدا سي، په هغو کي هم د مساوات او ترجيح خيال ساتل پکار دی لکه مِنْ جُوْعٍ (۳)

حواشي: (۱) په دي شپږو کي دري د مساوات دي، او دري د عارض په لين باندي د ترجيح دي، نو نمبر ۱، ۴، ۶، دا دري د مساوات دي، او پاته دري، نمبر ۵، ۳، ۲، د ترجيح دي، احقر مدني (۲) يعني د مخکني طول له دويم طول سره، يعني په دواړو کي طول، اصل عبارت يی دا دی دي طول اول مع طول ثاني، له مع څخه مخکي وجه مراد ده، او له مع څخه وروسته دويم مد. احقر مدني (۳) په من جوع او من خوف کي خو اشمام کيدای نه سي، له دي وجي په دي کي ضربي وجوهات شپاړس جوړيږي، په دي کي يوولس جائز او پنځه غير جائز دي، يوولس جائز دا دي، له ۱ څخه بيا تر ۴ پوري د من جوع، له طول مع الاسکان سره په من خوف کي څلور، يعني طول، توسط، قصر مع الاسکان، او قصر مع الروم، له ۵ تر ۷ پوري د من جوع، توسط مع الاسکان سره په من خوف کي دري يعني توسط، او قصر مع الاسکان، او قصر مع الروم، له ۸ بيا تر ۹ د من جوع، قصر مع الاسکان سره من خوف، کي دوه يعني قصر مع الاسکان، او قصر مع الروم، له ۱۰ بيا تر ۱۱ د من جوع د قصر مع الروم سره په من خوف کي بيا هغه دوي قصر مع الاسکان، او قصر مع الروم، شپږ د مساوات دي، پنځه د ترجيح او هغه پنځه چي غير جائز دي، هغه دا دي، ۱ د من جوع له توسط سره په من خوف کي طول ۲ ۳ د من جوع، قصر مع الاسکان سره من خوف کي توسط او طول ۴ ۵ له من جوع، قصر مع الروم سره په من خوف کي هغه دوي يعني توسط، او طول مع الاسکان، د نه جواز وجه يي ضعيف له ترجيح پر قوي باندي دی. احقر مدني

| شماره | مِنْ جُوْعٍ | مِنْ خَوْفٍ | كيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | جائز |
| ۲ | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | جائز |
| ۳ | طول مع الاسکان | قصر مع الاسکان | جائز |
| ۴ | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۵ | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | جائز |
| ۶ | توسط مع الاسکان | قصر مع الاسکان | جائز |
| ۷ | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | ناجائز |
| ۸ | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۹ | قصر مع الاسکان | قصر مع الاسکان | جائز |

| شماره | لَارَيْبَ | لِلْمُتَّقِيْنَ | كيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | طول مع الاسکان | طول مع الاسکان | جائز |
| ۲ | طول مع الاسکان | توسط مع الاسکان | ناجائز |
| ۳ | طول مع الاسکان | قصر مع الاسکان | ناجائز |
| ۴ | توسط مع الاسکان | طول مع الاسکان | جائز |
| ۵ | توسط مع الاسکان | توسط مع الاسکان | جائز |
| ۶ | توسط مع الاسکان | قصر مع الاسکان | ناجائز |
| ۷ | قصر مع الاسکان | طول مع الاسکان | جائز |
| ۸ | قصر مع الاسکان | توسط مع الاسکان | جائز |
| ۹ | قصر مع الاسکان | قصر مع الاسکان | جائز |



Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ خَوْفٍ ﴿فائده﴾ د مد متصل او منفصل په مقدار کي څو قولونه دي، دوه الفه دوه نيم الفه (۱) څلور الفه او په منفصل کي قصر هم جائز دی، په دي اقوالو کي چي په کوم باندي دي زړه غواړي، عمل دي وکړل سي، خو دا خيال ساتل پکار دي، چي کله مد متصل څو ځايه وي، نو کوم قول يي چي مخکي ځای کي ويلی وي، هم هغه دي په دويم او دريم ځای کي وي، لکه وَالسَّمَآءَ بِنَآءً، کي که څيري اقوالو له ضرب ور کول سي نو نهه (۲) وجهي جوړيږي، او په هغو کي دري (۳) وجهي کومي چي د مساوات دي، هغه صحيح دي پاته شپږ وجهي (۴) صحيح نه دي همدا رنګه کله چي مد منفصل څو ځايه جمع وي، نو په هغو کي دي هم اقوال نه ګډه وي، لکه لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ او (۵) او په دي کي هم دا سي کول نه دي پکار چي په اول ځای کي خو يو قول وا خلی او په دويم ځای کي دويم قول واخستل سي، بلکه د مساوات خيال ساتل پکار دی ﴿فائده﴾ (۶) کله چي مد منفصل او متصل جمع سي او مثلاً منفصل مخته وي په متصل باندي لکه هٰٓؤُلَآءِ، نو جائز دي په منفصل کي قصر او دوه الفه او په متصل کي دوه الفه دوه نيم الفه، څلور الفه، او هر کله چي په منفصل کي دوه نيم الفه مد وکړل سي، نو په مد متصل کي

حواشي: (۱) د مد په مقدار کي د اختلاف وجه دا ده چي د بعضو په نزد په دوه الفه مد کولو سره ثقل پوره کيږي، او د بعضو په نزد په څلور الفه سره. احقر مدني (۲) ځکه چي په دواړو کي د هريوه د مقدار په باره کي دري قوله دي، ۱ دوه الفه، ۲ دوه نيم الفه ۳ څلور الفه، دري په دري کي نهه کيږي. احقر مدني (۳) يعني په دواړو کي يا دوه الفه، يا دوه نيم، يا څلور الفه. احقر مدني (۴) يعني په ۱ او ۲، په اول کي څلور الفه او په دويم کي دوه نيم يا دوه الفه په ۳ او ۴ کي، په اول کي دوه نيم الفه، او په دويم کي څلور يا دوه الفه، ۵، او ۶، په اول کي دوه الفه، او دويم کي دوه نيم يا څلور الفه. احقر مدني (۵) د لا تؤاخذنا ان نسينا په دي ډول مثالو کي ضربي وجوه شپاړس دي، ځکه چي له دواړو څخه په هريوه کي څلور څلور دي، دري د متصل او يوه د قصر، څلور په څلور کي ضربولو سره شپاړس جوړيږي، احقر مدني (۶) د دي فايدي په ضمن کي چي مصنف کوم څه ليکلي دي خلاصه يي دا ده چي کله دد دوو حيثيتونو مدونه جمع وي په هغوی کي د مساوات او ترجيح قوي وجوه خو جائز دي، خو هغه وجوه جائز نه دي، چي په هغو کي د ضعيف ترجيح پر قوي وي. احقر مدني

| شماره | وَالسَّمَآءَ | بِنَآءً | کيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | دوه الفه | دوه الفه | جائز |
| ۲ | دوه الفه | دوه نيم الفه | ناجائز |
| ۳ | دوه الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۴ | دوه نيم الفه | دوه الفه | ناجائز |
| ۵ | دوه نيم الفه | دوه نيم الفه | جائز |
| ۶ | دوه نيم الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۷ | څلور الفه | دوه الفه | ناجائز |
| ۸ | څلور الفه | دوه نيم الفه | ناجائز |
| ۹ | څلور الفه | څلور الفه | جائز |

| شماره | هٰٓؤُ | لَآءِ | کيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | دوه الفه | دوه الفه | جائز |
| ۲ | دوه الفه | دوه نيم الفه | جائز |
| ۳ | دوه الفه | څلور الفه | جائز |
| ۴ | دوه نيم الفه | دوه الفه | ناجائز |
| ۵ | دوه نيم الفه | دوه نيم الفه | جائز |
| ۶ | دوه نيم الفه | څلور الفه | جائز |
| ۷ | څلور الفه | دوه الفه | ناجائز |
| ۸ | څلور الفه | دوه نيم الفه | ناجائز |
| ۹ | څلور الفه | څلور الفه | جائز |



Maktaba Tul Ishaat.com

دوه نيم الفه څلور الفه، مد جائز دي، او دوه الفه غير جائز دی، ځکه چي متصل د منفصل څخه اقوی دی، او ترجيح د ضعيف په قوي باندي غير جائز ده، او هر کله چي په مد منفصل کي يي څلور الفه مد وکړی نو په مد متصل کي صرف څلور الفه مد کيږي، نو دوه نيم الفه دوه الفه به په دي صورت کي غير جائز وي، وجه هم هغه د ترجيح (۱) ورکول دہ او هر کله چي متصل په منفصل باندي مخته وي لکه جَآءُوآ آبَاهُم، نو کله چي په متصل کي يي څلور الفه مد کړی وي، نو منفصل کي څلور الفه، دوه نيم الفه، دوه الفه، او قصر جائز دی، او که چيري دوه نيم الفه مد يي کړی وي، نو په منفصل کي دوه نيم الفه، دوه الفه، او قصر جائز دی، او څلور الفه غير جائز دی، همدا رنګه که چيري په متصل کي دوه الفه مد وکړل سي، نو په مد منفصل کي به صرف دوه الفه او قصر وي، او دوه نيم الفه څلور الفه مد به نه کيږي ﴿فائده﴾ هر کله چي مد متصل او مد منفصل يو ځای جمع سي لکه بِأَسمَآءِ هَٓؤُلَآءِ نو په همدي

---

حواشي: (۱) د رجحان مقصد دا دی چي په دي صورتونو کي د منفصل مقدار تر متصل زيات سي نو جائز دی، ځکه چي دا معلومه ده چي په مديت کي متصل قوي او منفصل ضعيف دی، ځکه چي د متصل مد پر وقف او وصل موقوف نه دی، په دواړو صورتو کي وي، سوا له مد منفصل هغه ديو عارض له وجي پر اوله کلمه باندي
وقف وسي، بيا وقف د مد له
سبب نه کيږي احقر مدني

| شماره | جآءُو | وآبَاهُم | كيفيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | دوه الفه | دوه الفه | جائز |
| ۲ | دوه الفه | دوه نيم الفه | ناجائز |
| ۳ | دوه الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۴ | دوه الفه | قصر | جائز |
| ۵ | دوه نيم الفه | دوه الفه | جائز |
| ۶ | دوه نيم الفه | دوه نيم الفه | جائز |
| ۷ | دوه نيم الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۸ | دوه نيم الفه | قصر | جائز |
| ۹ | څلور الفه | دوه الفه | جائز |
| ۱۰ | څلور الفه | دوه نيم الفه | جائز |
| ۱۱ | څلور الفه | څلور الفه | جائز |
| ۱۲ | څلور الفه | قصر | جائز |

| شماره | بِأَسمآءِ | هٰٓؤُ | لَآءِ | كيفيت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دوه الفه | دوه الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۲ | دوه الفه | دوه نيم الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۳ | دوه الفه | څلور الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۴ | دوه الفه | قصر | څلور الفه | ناجائز |
| ۵ | دوه نيم الفه | دوه الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۶ | دوه نيم الفه | دوه نيم الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۷ | دوه نيم الفه | څلور الفه | څلور الفه | ناجائز |
| ۸ | دوه نيم الفه | قصر | څلور الفه | ناجائز |
| ۹ | څلور الفه | دوه الفه | څلور الفه | جائز |
| ۱۰ | څلور الفه | دوه نيم الفه | څلور الفه | جائز |
| ۱۱ | څلور الفه | څلور الفه | څلور الفه | جائز |
| ۱۲ | څلور الفه | قصر | څلور الفه | جائز |



Maktaba Tul Ishaat.com

قواعدو دي قياس(۱)وكړل سي،صحيح او غيرصحيح وجه دي راوئيستل سي ﴿فائده﴾(۲) هر كله چي دمدمتصل همزه دكلمي په اخركي واقع وي،اوپه هغه باندي وقف اسكان يا اشمام سره وكړل سي لكه قُرُوْٓءٍ،نَسِيْٓئٌ،يشآء،نوپه دي وخت كي(۳)طول (۴)هم جائزدى اودسكون په وجه سره به قصر(۵)جائزنه وي،ځكه چي په دي صورت كي دسبب اصلي الغاء اودسبب عارضي اعتبارلازم راځي،اوداجائزنه دى،اوكه چيري وقف باالروم يي كړى وي،نوصرف توسط به كيږي. ﴿فائده﴾له خلاف جائزڅخه چي كومي وجهي راوځي لكه دبِسمِ اللّٰهِ،وغيره په هغوكي دټولووجهوځاى ويل معيوب دى،دغه قسم وجهوكي ديوي وجهي ويل كافي دى البته دافادي په لحاظ سره دټولووجهويوځاى جمع كول معيوب نه دى ﴿فائده﴾په دي فصل كي چي كوم غيرجائزاوغيرصحيح ويل سوي دي،له هغه څخه مرادغيراولى دى(۶)دماهر

---

حواشي : (۱)له دي قواعدو مومراددادي،چي نه دضعيف ترجيح پرقوي راسي،اونه په اقوال مختلفه ووكي خلط راسي،او پاته دعدم مساوات دويم صورت يعني دقوي ترجيح پرضعيف باندي،هغه دلته ځكه جائزده چي دلته ددووحيثيتونومدونوجمع كيدلوحكم بيانيږي،په هغوكي داصورت جائزوي،نوپه بِاسمآء،اولآءِ،مقدارداهاء دمقدارمدبرابرول ياله هغه څخه زياتول دواړه صورتونه جائزدي،ځكه چي اول دمساوات ده اودويم دترجيح.احقرمدني(۲)په دي فائده كي په يوه كلمه يايوه حرف مدكي د دوو قسمونومدونوجمع كيدلوحكم بيان كړى دى.احقرمدني(۳)دشروع مدپه فصل كى معلومه سويده چي دزيادت على القصريعني مدفرعي دوه سببه ديواول دحرف مدڅخه وروسته سكون راتلل اجتماع ساكنين سوه چي كوم ثقل پيداسي،دهغه پورته كولودپاره مدكولى بي،دويم دحرف مدڅخه وروسته همزه راتلل حرف مدضعيف دى،اوهمزه قوي دى،اوچي ضعيف څخه وروسته قوي راسي،نوداتلفظ داهل زبان په نزدثقيل دى،په دي وجه مدكولى سي،اودلته په مدمتصل باندي دوقف كولو په صورت كي دواړه سببه يوځاى سول نوداجتماع سببين په وجه نورزيات ثقالت پيداسو،په دي وجه طول هم جائزوساتل سو. (۴)مطلب دادى چي په مدمتصل كي توسط كيږي،ليكن كه چيري دهغي همزه دكلمي په اخركي واقع وي،اوپه هغه باندي وقف په اسكان يااشمام سره وكړل سي،نوپه دي صورت كي په يوه مده كي دمددوه سببه په يوه وارسره جمع كيږي،يوه همزه دويم سكون وقفي،چي دهغه په وجه سبب دقوي څخه اقوىٰ ګرځي،احقرمدنى (۵)لكه څنګه چي په مدمتصل كي مستقل اواصلي سبب همزه ده،اودوقف په وجه سكون هم عارض سو،له دي عارضي سبب لحاظ كولوسره به په شان دمدعارضي وقفي قصرجائزنه وي ولي چي په دي صورت كي به په قوي سبب باندي دضعيف سبب ترجيح راسيءِ : (۶)مطلب دادى چي په دي فصل كي كومي وجي چي ناجائزويل سوي لكه د،الرحيم،الرحيم،اوالعٰلمين،اته څلو يښت ضربي وجهوكي له څلورويا شپږوجائزووجهوڅخه سواپاته څلويښت ياڅلورڅلويښت وجوه ياپه،السّمآء كي څلور الفه اوپه بنآء كي دوه الفه توسط ياپه من جوع كي توسط اوپه من خوف كي طول وغيره،دوى ته ناجائزپه دي معنٰى سره ويلي دي،چي داخلاف له اولى دى،ماهرقاري ته مناسب نه دي،كه نه نوشرعانه حرام دي نه مكروه،نودلهجي دتحسين دپاره بعضي پرځاى دتساولى توافق،اوپرځاى دطول توسط اختياركړي،خودلهجي درعايت په وجه دونه افراط ياتفريط كول،چي حرف مدله سره حذف سي،يايي مقدارپوره نه سي،ياپه طول كي دونه تطويل كول سي چي ترخپل مقدارزيات سي،

داقطعاغيرجائزدي. احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

قاري دپاره معيوب دی ﴿فائده﴾ په اختلاف مرتب کي خلط کول يعني چي ديوه لفظ اختلاف په بل باندي موقوف(۱) وي مثلا فَتَلَقّٰى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمَاتٍ، په دي کي چي اٰدَمُ مرفوع وايو نو كَلِمَاتٍ منصوب(۲) ويل ضروري دی همدارنګه برعکس(۳) د داسي اختلاف په ځای باندي خلط کول بالکل حرام دی او که چيري ديو روايت د ويلو(۴) التزام يي وکړو او په هغه کي يي بل روايت خلط کړو نو کذب في الرواية به لازم راسي، او على حسب(۵)

---

حواشي : (۱) اختلاف مرتب ديته وايي، چي ديوي کلمي په دوو وجوهو کي دهري وجهي اختيارولو دپاره ددوهمي کلمي وجوهو ته کتل پکاروي، لکه د متن مثال . فتلقى اٰدم، کي دوي وجهي په الفظ د ادم کي دي، يعني دميم رفع او نصب، او دوي وجهي په لفظ د کلمات کي دي، دتاء رفع او نصب، او د قرائت ترتيب داسي دی چي که چيري پر لفظ د اٰدم، پيښ وويل سي، نو کلمات به په نصب سره وويل سي، او که پر اٰدَم، زور وويل سي، پر کلمات به په پيښ سره ويل کيږي، دا دوه مستقل قرائتونه دي، اول يعني چي پر اٰدم، پيښ او پر کلمات نصب دا د اکثرو قراوو قرائت دی، او دويم يعني چي اٰدم، ته زور ور کړي، او کلمات په پيښ سره ووايي، دا د ابن کثير مکي قرائت دی، نو که اٰدم په رفع او کلمات په نصب سره ووايي دا حرام دی، ځکه چي بيا کلام صحيح نه پاته کيږي، معنی يي غلطيږي، احقر مدني (۲) کلمات چي په نصب سره ووايي ديته طالبان حيران سي، چي دا خو مجرور ده بيا نصب څنګه ورسره وايي، نو وايي چي داد کاتب غلطي ده، دا ځکه چي دوی په نحوي قاعده خبر نه وي، حال دا چي دا صحيح دی، غلط نه دی، ځکه چي دا جمع مونث ده د جمعي مونث حالت نصبي او جري دواړه په جر سره دی نصب يي تابع د جر دی. احقر مدني (۳) د عکس مطلب دا دي چي په روايت حفص کي په عامه توګه دا اٰدَمُ پيښ او د کلمات زير دی، او عکس يي دا دی چي اٰدم منصوب او کلمات مرفوع وويل سي. احقر مدني (۴) يعني که ديو راوي د قرائت له التزام او پابندي ور وسته، د دويم قرائت د راوي موافقت وکړي، نو دا به له روايت څخه غلط بيان او کذب راسي، او دروغوالی وي، ځکه د يو خاص قرائت له التزام ور وسته د دويم روايت عمل څخه دا ظاهره کيږي، چي دا هم له هغه راوي څخه منقول دی چي ده يي التزام کړی دی، او حال دا چي داسي نه دی، مثلا لکه د سورة بقره رکوع ۲۳ کي لفظ د . وَلِتُكْمِلُوا ، دوه راويته دي، يو وَلِتُكْمِلُوا، دويم وَلِتُكَمِّلُوا ، دا دواړه له امام عاصم څخه مروي دي، ليکن اول له حفص څخه مروي دی، او دويم له شعبة څخه، نو د روايت حفص التزام کونکي دپاره دا روانه دی چي هغه دا خيال وکړي، چي وَلِتُكْمِلُوا ، د وَلِتُكَمِّلُوا په ډول له امام عاصم څخه مروي دی، پر ځای ده وَلِتُكْمِلُوا ، وَلِتُكَمِّلُوا و وايي، ځکه چي دا که څه هم له امام عاصم څخه مروي دی، خو په روايت د شعبه نه په روايت د حفص، او د وَلِتُكَمِّلُوا ، له قرائت دا معلو ميږي چي دا هم د حفص څخه مروي دی، دا کذب في الرواية دی، احقر مدني (۵) يعني که ديو راوي روايت د هغه له طريقي له التزام کولو څخه سوا وويل سي، په دي صورت کي د حفص په روايت کي په طرق شاطبيه صرف مد دی، او د جزري په طريقه هم د حفص په روايت کي مد او قصر دواړه روا دي، نو که قاري د شاطبي د طريقي التزام نه وي کړی، بيا په منفصل کي قصر هم کولای سي، په دي وجه چي قصر هم له حضرت حفص څخه مروي دی،

احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

التلاوة خلط جائزدی مثلاً دحفص رح په روایت کي دوي طریقي(۱)مشهوره دي یوامام شا طبي رح دویم امام جزري رح نوپه دوی کي خلط کول په دي لحاظ سره چي دواړه وجهي د حفص رح څخه ثابتي دي هیڅ حرج نسته خصوصاهرکله چي یوه وجه په عواموکي شائع سوي وي دویمه وجه مشهوره ثابته عند القراء متروکه سوي وي،نوپه داسي صورت کي لیکل ویل اوښوول یي ډیرضروري دی دمتأخرینو په اقوالو کي خلط کول دومره بدوالی نه لري

## ﴿څلورم فصل دوقف(۲)په احکاموکي(۳)﴾

دوقف معنی ده(۴)په اخرد کلمي غیرموصولي(۵)باندي ساه اخستل،اوس که چیري هلته کوم یوایت وي(۶)یاکوم وقف داوقافو معتبره(۷)وڅخه وي نودوروسته کلمي څخه دي شروع وکړي،اوکه نوپه کومه کلمه باندي چي ساه واخلي هغه دي بیرته راوګرځوي،اوپه مینځ دکلمي باندي اودغه رنګه کومه کلمه چي دبلي کلمي سره موصوله وي،په هغه باندي وقف جائزنه دی،دغه رنګه شروع اوراګرځول هم جائزنه دي،اوس معلومول پکاردي،چي په کومه

---

حواشي : (۱)مثلادنون ساکن اوتنوین ادغام په لام اوراء کي دټولوقراوودپاره بلاغنه په طریق دشطبي دی،کماقال الشاطبي صفحه ۲۰ وکلهم التنوین والنون ادغموابلاغنه فی الام والراءلیجملا،اودعلامه جزري په طریق کي علاوه دهمزه کسائي اوشعبه نه باقي قراوودپاره ادغام بالغنه هم ثابت دی،کمافی الطیبه صفحه ۱۱۲ وادغم لاغنه فی لام وراء،وهی لغیرصحبة ایضاتری،خلاصه داسوچي دحفص په روایت کي ددواړوطریقوپه لاحظ سره دنون ادغام په لام اراءکي بلاغنه اوباغنه دواړه شان ته ثابت دی،لیکن په عواموکي صرف ادغام بلاغنه مشهوراومعروف دی،اوادغام باغنه متروک سوی دی،یاخوده هم له یوکتاب څخه دیوقاري یاراوي دپاره دوي وجهي راوځي اوثابتي سي مثلادسورة روم په اخره کي چي دري ځایه کوم لفظ ضعفًا راغلی دی په هغه کي دشاطبي په طریق کي دحفص دپاره دضاضمه یعني پیښ اوفتحه یعني زور دواړه سره ثابت دي لیکن ضمه مشهوره اومعروفه سوه اوفتحه متروکه ده کماقال الشاطبي صفحه ۴۶ وفی الروم صف عن خلف فصل الخ.(۲)دوقف معرفت اودابتداءضرورت اواهمیت کي چي دیوذمه دارقاري مقري دپاره علم اوقاف اوابتداءڅومره ضروري دی هغه دتجوید لاندینیومعتبروکتابوڅخه ښکاره ده،قول المفید صفحه ۱۴۰ لغایه ۱۴۱،اعلم ان هذا الباب مماینبغي للقاري ان یهتم بمعرفته ویصرف فی اتقانه اکبرهمته حتی ان بعضهم جعل تعلم الوقف واجبالماوردان علیا رضی الله عنه سئل عن قوله تعالی وَرَتِّلِ الْقُرآنَ تَرْتِیلا،فقال الترتیل هوتجوید الحروف ومعرفة الوقوف اوپه همدي صفحه کي لږ مخکي وایي ومن ثم اشترط کثیرمن الائمة الخلف علی المجیزان لایجیزاحداًالابعدمعرفة الوقف والابتداء،اوله دي څخه مخکي دادي قال بعضهم ان معرفة الوقف تظهرمذهب اهل السنة من مذهب المعتزلة لنفی اختیارالخلق لااختیارالحق فلیس لاحد ان یختاربل الخیرة لله تعالی اخرج هذاالاثرالبیهقي فی سننه په صفحه ۱۴۲ کي دي وقال الهذلي فی کامله الوقف حلیة التلاوة وزینة القاري وبلاغ التالي وفهم المستمع وفخرالعالم وبه یعرف الفرق بین المعنیین المختلفین والنقیضین المتنافیین والحکم المتغایرین وقال ابوحاتم من لم یعرف الوقف لم یعرف القرآن وقال ابن الانباري من تمام معرفة القرآن معرفة الوقف والابتداءاذلایتاتي لاحدبمعرفة معانی



Maktaba Tul Ishaat.com

القرآن الابمعرفة الفواصل فهذا ادل دليل على وجوب تعلمه وتعليمه ،اوقول ابن عمر لقد عشنا برهه من دهرنا الخ،اوهمدا دول عبارتونه په كتاب النشر صفحه ۲۲۴ لغايه صفحه ۲۲۵ ،اوشرح جزري ملاعلى قاري صفحه ۶۰ كي موجود دي چي له هغه څخه دعلمي اوقاف او ابتداء سخت ضرورت ښكاره كيږي،ليكن دبعضوايا تواو مضامينو داوږدوالي په بنا باندي كه چيري دمضمون ختميدلو څخه مخكي بحسب المعنى دساه دتنګوالي په وجهي سره وقف وكړی سي، چي هغه ته وقف اضطراري وايي،نوبيا له ماقبل څخه اعاده ځنګه چي اختياري دی دهغي خيال اولحاظ ساتل ضروري دی،چي كلام مفيد او مربوط وسي،او سامع ته دمعنى پوهيدلو كي دڅه جملي انتظار پاته نه سي،لكه ځنګه چي په نشر جزء اول صفحه ۲۲۹ كي دي واما الابتداء فلا فيكون الا اختياريا لانه ليس كالوقف اليه ضرورة فلا يجوز الا بمستقل بالمعنى موقوف باالمقصود او قول مفيد صفحه ۲۴۳ كي دي فان عرض له للقاري عجز بعطاس او قطع نفس او نحوه عند مايكره الوقف عليه عاد من اول الكلام ليكون الكلام متصلا بعضه ببعض ،اوشرح جزري ملاعلي قاري صفحه ۵۸ كي دي الا ان يكون القاري مضطرا فانه يجوز الوقف حال اضطراره كانقطاع نفس ونحوه لكن اذا وقف يبتدي من الكلمة التي وقف عليها يعني اذا احسن الابتداء بها،اوپه قول المفيد صفحه ۱۴۴ كي داعبارت دي،واضطراري وهو مايعرض بسبب ضيق النفس ونحوه كعجز ونسيان فحينئذ يجوز الوقف على اى كلمة وان لم يتم المعنى كما ان وقف على شرط دون جوابه او على موصول دون صله لكن يجب الابتداء من الكلمة التي وقف عليها ان صلح الابتدا بها (فائده) اوقول المفيد صفحه ۱۰۱ كي دي،قبح الابتداء لايخص باالمجرور بل الابتداء بكل تابع قبيح الخ،نو ددي مرقومه بالاعبارتونو څخه صفا معلومه سوه چي وقف خو اختياري كيدای سي،ليكن اعاده او ابتداء چي ځنګه يقيني اختياري ده،ددي دپاره په اعاده كي ددي لحاظ ضروري دی،چي كلام دمربوط او مركب مفيد په درجه كي وي،لهذا ددي قاعدي كليي مطابق جار مجرور څخه اعاده كول بغير دمتعلق څخه يا محض دمفعول څخه بغير دفعل او فاعل څخه ،يا صرف دجزا څخه بغير دشرط څخه ،يا له صلي څخه بغير دموصول څخه ،داعرفا مكروه او قبيح دی(اوله تنبيه)په قراء سبعه وو كي امام نافع او امام عاصم او امام كسائي ،ددي دري قاريانو مسلک او مذهب دوقف او ابتداء په باره كي دادي نشر جزء اول صفحه ۱۳۷ لغايته صفحه ۱۳۸ فنافع كان يراعي محاسن الوقف والابتداء بحسب المعنى كما ورد عنه النص بذالک وعاصم ذكر عنه ابو الفضل الرزي انه كان يراعي حسن الابتداء وذكر الخزاعي ان عاصما والكسائي كانا يطلبان الوقف من حيث يتم الكلا م ،هركله چي دامام عاصم مذهب معلوم سو ،نو اوس په روايت حفص كي تلاوت كونكو ته اتباعا للامام په وقف او ابتداء كي داتمام كلام بحسب المعنى لحاظ ساتل ډير ضروري دی خصوصا ديو قاري مقري ذمه دار دپاره،او ددي التزام څخه كولو سره او ددي خلاف كولو سره به دانقصان او خرابي وسي چي كوم طالبان له ده څخه اخذ كوي او ويل كوي،دهغوی په نظر كي به ددي شي اهميت او ضرورت پاته نه سي،او دوقف او ابتداء په مسئله كي به عملا هغوی دبي مهاره اوښ په شان ازاد سي او ددي كوتاهی سلسله به مخته دهغه فارغينو په شاګردانو كي هم جاري او ساري پاته سي،چي دهغه تول ذمه داري به په قاري مقري باندي عايده كيږي.(تنبيه دويمه)له دي څخه داهم معلومه سوه چي هركله په اعاده او ابتداء كي قاري مقري ته دكلام دربط وغيره خيال ساتل ضروري دی نو بيا د تلاوت شروع كولو په وخت كي خاص بيا په مجالسو كي له يوداسي ځای څخه شروع كول نه دي پكار چي اوريدونكو ته په معنى پوهيدلو كي دكوم ماقل متعلقه مضمون انتظار پيښ سي مثلا ان تعذبهم فانهم عبادک ،اويا لهم فيها زفير وهم فيها لايسمعون، او ذالک عيسى ابن مريم ،څخه تلاوت شروع كول چي په اولو دوو ځايو كي به اوريدونكو ته دضمايرو دمرجع معلومول ،او په دريم ځای كي دذالک مشار اليه معلومول دي.

احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

کلمه باندي ساه اخستل غواړي، که چیري هغه داول څخه ساکنه وي، نو هلته به صرف(۱) ساه وا خلي او که چیري هغه کلمه په اصل کي ساکنه وي، خو حرکت په هغه کي عارضي وي، نو بیا به هم وقف صرف(۲) په اسکان سره کیږي، لکه عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ(۳) وَاَنۡذِرِ النَّاسَ، او که چیري هغه حرف موقوف متحرک وي نو د هغه په اخر کي به تا په صورت (۴) د ها وي، یا به نه وي، که چیري تا په صورت د ها وي نو په وقف کي به د غه تا، په ها، (۵) ساکني سره بدلو و لکه رَحۡمَةٌ، نِعۡمَةٌ، او که چیري (۶) داسي نه وي نو که په اخري حرف باندي دوه زورونه وي نو دا تنوین به په الف سره بدل کړو لکه سَوَآءً، هُدًى، او که چیري حرف موقوف باندي یو زور وي نو وقف به صرف (۷) په اسکان سره کیږي، لکه یَعۡلَمُوۡنَ، او که چیري اخري حرف باندي یو پیښ یا دوه پیښونه وي لکه بَرۡقٌ، یَفۡعَلُ، نو وقف به په اسکان او اشمام او روم دري سره جائز وي، د اشمام معنی ده حرف ساکنول او په شونډو سره د پیښ طرفته اشاره کول، او د روم معنی ده حرکت په پټ(۸)

---

حواشي :(۱) یعني قاري به په دي صورت کي له قطع څخه د ساه اخستلو ما سوا بل څه عمل نه وي، ځکه چي موقوف علیه حرف له اوله ساکن دی، یا ته سو د انقطاع صورت هغه به په انقطاع نفس سره پخپله وسي، احقر مدني (۲) دا اشاره ودیته ده چي په حرکت عارض کي وقف بالروم او اشمام جائز نه دی، په داسي ځای کي یوائي وقف بالاسکان کیدای سي، نو په فلا تقهر، او فحدث دول کلماتو کي یوائي وقف بالسکون کیږي، همدا دول په حرکت عارض کي یوائي وقف بالاسکان کیږي. احقر مدني (۳) په علیهم الذلة کي میم او په انذر الناس کي را، په حالت د وصل کي که څه هم متحرکه ادا کیږي، او حرکت یي که څه هم عارضي دی، ځکه چي داصل په اعتبار دوی ساکن وو، بیا د اجتماع ساکنین علی غیر حده په وجه پر میم باندي ضمه او پر راء باندي د کسري حرکت راغلی لهذا د علیهم پر میم وقف بالروم، یا وقف بالاشمام او د انذر په راء کي وقف بالروم روا دی. احقر مدني (۴) یعني کله د ګول ،ة، په صورت د ،ها، لیکل کیږي، او کله د ،ت، په صورت کي، اولي ته مدوره وایي، او دویمه تا مجروره یا مطوله ویل کیږي، مثالونه یي په سورة ابراهیم کي نمبر ۱ ،۵، ایت دی، په اول کي مدوره او په دویم کي مطوله دی. احقر مدني (۵) د وقف مشهور تعریف عند القراء دا دی، قطع الصوت مع النفس و اسکان المتحرک ان کان متحرک یعني ساه او اواز د واړه قطع کول او د متحرک حرف ساکنول لیکن څرنګه د ساه انقطاع د اواز انقطاع لره مستلزم ده په دي وجه مؤلف صرف د ساه په انقطاع باندي اکتفاء وکړه، سبحان الله په څو مره لطیف انداز کي حضرت مؤلف دا بیان کړه چي په تاء مربوطه باندي به صرف وقف بالاسکان وي، او روم اشمام وریاندي جائز نه دي. (۶) یعني د کلمي موقوف علیه اخري حرف تاء مدوره نه ي، بلکه حرف وي، او که پر بل حرف باندي حرکت عارضي وي نو وقف یوائي په سکون سره کیږي، بیا روم او اشمام روانه دي، ځکه چي د روم او اشمام د پاره دا ضروري دی، چي حرکت به یي عارضي نه وي، احقر مدني (۷) یعني روم او اشمام به نه وي، د روم د منعه کیدلو وجه دا ده چي فتحه خفیف حرکت دی، او که چیري زور ادا کیږي نو کامل ادا کیږي، او روم دی د حرکت یو څه حصه ادا کول، او اشمام له دي وجی نه دی روا، چي اشمام وایي په شونډ و سره اشاري کولو ته، دا ښکاره ده چي یو حرکت ته اشاره کول په هغه صورت کي کیدلای سي، چي هغه حرکت په اصل کي موجود وي. احقر مدني (۸) د روم تعریف دوه دول سوی دی، یو هغه چي تاسو په معلم التجوید کي ویلی دی، چي د حرف موقوف علیه دریمه حصه ادا کول، دویم تعریف هغه چي دلته لیکلی دی، چي د حرف موقوف حرکت په خفي صوت سره ادا کول، دا دواړه تعریفونه صحیح دي، محل یي یو دی. احقر مدني

او ازسره اداكول، او كه چيري پر اخري حرف باندي يو زيريا ده زيرونه وي لكه ذُوْ انْتِقَامٍ، وَلَا فِي السَّمَآءِ نو په وقف كي اسكان او روم دواړه سره جائز وي(۱) ﴿فائده﴾ روم او اشمام به صرف په هغه حركت كي كيږي، كوم حركت چي اصلي وي، او كه چيري حركت عارضي وي نو روم اشمام به جائز نه وي(۲) لكه اَنْذِرِ النَّاسَ، عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴿فائده﴾ د روم په حالت كي به تنوين حذف سي، څنګه چي د ،ها، ضمير صله په وقف با الروم او با الاسكان كي(۳) حذف كيږي لكه ،بِهٖ، لَهٗ ﴿فائده﴾ اَلظُّنُوْنَا(۴) او الرَّسُوْلَا، او اَلسَّبِيْلَا، كوم چي په سورة احزاب كي دي، او اول قَوَارِيْرَا(۵) كوم چي په سورة دهر كي دي، او اَنَا، كوم چي ضمير د مرفوع منفصل دی، د غه رنګه لٰكِنَّا، كوم چي په سورة كهف كي دی، د دوی اخري الف به په وقف كي ويل كيږي، او په وصل كي به نه ويل كيږي، او سَلَاسِلَا، كوم چي په سورة دهر كي دی جائز دي، د وقف په حالت كي اثبات د الف او حذف د الف دواړه جائز دي ﴿فائده﴾ په اياتونو باندي وقف كول زيات احب(۶) او مستحسن دی، او د هغه څخه وروسته كوم ځاى چي ،م، ليكلى وي او د هغه وروسته چي كوم ځاى، ط، ليكلي وي، او له هغه وروسته چي كوم ځاى، ج، ليكلى وي او له هغه وروسته كوم ځاى چي، ز، ليكلي وي، او اولىٰ ته پر غير اولىٰ باندي ترجيح وركول نه دي پكار، يعني ايت پريښول او په غير ايت باندي وقف كول ياد، م، پر ځاى وصل كول، او

حواشي : (۱) نو دلته اشمام جائز نه دی، وجه يي دلته هم هغه ده چي هغه په فتحه كي ده، چي په اشمام سره كوم حركت طرفته اشاره كيږي، هغه حركت دلته موجود نه دی. احقرمدني (۲) په حركت عارضي كي د روم، اشمام د نه روا والي وجه د حرف اصلي حالت مد نظر ساتل دي، ځكه چي په داسي ځايونو كي حرف د اصل په وجه سره ساكن وي، او حركت د اجتماع ساكنين په وجه سره عارض سوی وي. احقرمدني (۳) د هاء ضمير صله لكه څنګه چي په اسكان او روم كي حذف كيږي، دا د ول په اشمام كي هم حذف كيږي، خو كله چي اسكان او اشمام دواړه د ژبي په حركت سره په نه اداكيدلو كي شريك او برابر دي، او صله ثوم دی د اشباع حركت ،له دي وجي مصنف له اسكان سره د اشمام د ذكر كولو ضرورت و نه ګڼڅلو. احقرمدني (۴) د الظنونا، او الرسولا په اخر كي وقفاً د الف ويلو ظاهري وجه د رسم اتباع ده، ځكه دا معلومه ده چي وقف د رسم تابع وي، او د دي ټولو په اخر كي الف ليكل سوی دی، تفصيل د دي دا دی چي الظنونا، الرسولا، السبيلا، او اول قواريرا، دا څلور سره د اياتو سرونه دي، او د دوی په دواړو طرفو كي چي كوم اياتونه واقع دي د هغوی ختم پر الف دی، له دي وجي د دوی په اخر كي هم الف ويل كيږي، چي د دي اياتونو تمام او اخر په يوه دول الفاظو سره ختم سي، احقرمدني (۵) څنګه چي رأس ايت دی د سجعي د رعايت په وجه پر الف باندي وقف كيږي، كه څه هم د حفص په نزد غير منون دی، ليكن دويم قواريرا چي له رأس ايت څخه دی، د غير منون كيدلو په وجه سره په وصل او وقف دواړو كي به الف نه ويل كيږي. (۶) پر اياتو باندي وقف كول ډير خوښ كړل سوی دی، ځكه چي دا په سنت سره ثابت دی، سوا د وقف له علامو ځكه چي هغه علماوو لګولي دي، احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

ط، وغيره باندي وقف كول، بلكه داسي اندازدي وساتي چي هركله ساه اخلي نوپه ايت با
ندي ياپه،م ،ط، باندي دبعضوپه نزددكوم ايت چي له مابعدسره تعلق لفظي وي(۱)نوهلته
كي وصل اولى دى دفصل ځنځه اودوصل(۲)په ځاى صرف(۳)وقف يادوقف(۴)په ځاى
صرف وصل كولوسره معنى نه بدليږي، اودمحققينوپه نزدنه ګناه ده، اونه كفردى البته له
قواعدوعرفيه(۵)ووځنځه خلاف دى چي دكوموا تباع كول ډيرضروري دى، دپاره ددي چي
ايهام د معنى غيرمرادلازم رانه سي، هم دارنګه(۶)لحاظ په اعاده كي هم ساتل پكاردى
بعض ځاى كي اعاده ډيره قبيحه وي، ځنګه چي وقف كله حسن اوكله احسن اوكله قبيح او
كله اقبح وي، دغه رنګه اعاده هم په ځلورقسمه ده نودكوم ځاى ځنځه چي اعاده حسن(۷)يا
احسن وي، له هغه ځاى ځنځه كول پكاردي، كه نه نوقبيحي اعادي ځنځه شروع بهتره ده مثلا
قَالُوْا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ ځنځه اعاده حسن ده، اواِنَّ اللّٰهَ ځنځه قبيحه ده ﴿فائده﴾ په تماموو قفونو با
ندي ساه اخستلوسره ددي چي ساه وي، داسي نه دى پكاردقاري مثال په شان دمسافردى
اوداوقافومثال دمنازلوليكي نوكله چي په هرمنزل باندي بي ضرورته دريدل فضول اووخت
ضايع كول دي، نوهمدارنګه هرځاى كي وقف كول فعل عبث دى، چي ځومره وخت كي وقف
كوي نوپه دومره وخت كي به يوه يادوي كلمي وويلي سي، البته په لازم مطلق باندي اودغه
رنګه دكوم ايت چي له مابعدسره تعلق لفظي (۸)نه وي په داسي ځاى كي وقف كول ضروري

---

حواشي :(۱)دكوم ايات چي له مابعدسره تعلق لفظي وي، پرهغه ايت باندي ،لا، ليكلي وي، پرداسي ځايونو باندي دبعضوپه نزدترفصل وصل ځكه اولى دى، چي دلته كلام نه پوره كيږي، خوكه وقف وكړل سي، دارګرځيدلوضرورت نسته، له وروسته شروع كولاى سي. احقرمدني(۲)مثلا ومامن الٰهٍ، يااِنّي كفرتُ باندي وقف(۳)مصنف په يوباريک اندازكي داخبره وكړه چي دوقف پرځاى وصل، يادوصل پرځاى وقف دګناه ياكفرسبب نه دى، ترڅوچي دګناه ياكفرموجب نه وي پيداسوى، موجب يي دادى چي قاري هغه غلطه اوقبيحه معنى په قصدسره ووايي، نوپه داسي حال كي بيادګناه اوياكفرسبب دى، اوپه اوس وخت كي چي عام خلګ دقرآن په معنى نه پوهيږي، كه دوقف پرځاى وصل، يادوصل پرځاى وقف وكړي، دګناه اوكفرسبب نه دى، اوڅوک چي دوقف لازم پرځاى نه دريدل، مطلقاكفربولي داغلط دى، احقرمدني(۴)مثلا وَلَايَحزُنكَ قَولُهُم وصل كول له اِنَّ العِزَّةَ سره. (۵)له قواعدوعرفيه ووځنځه مرادهغه قواعددي، چي دهغواتباع په نزدقراووضروري وي. احقرمدني(۶)يعني دوقف په ډول په اعاده كي هم ددي خبري لحاظ پكاردى چي داسي ځاى دي نه وي، چي داعادي په صورت كي يي دغلطي معنى توهم كيږي، داهم داسي دى لكه يي ځايه وقف كول. احقرمدني(۷)دحسن اواحسن دوقف داقسمونه يي دلغوي معنى په وجه بيان كړي دي، اصطلاحي نومونه يي دادي، تام، كافي، حسن، صحيح، قبيح، اقبح، احقرمدني(۸)يعني كوم ايت باندي چي ،لا، ليكي نه وي، داسي ايت
ته عامه اصطلاح كي پوخ ايت وايي. احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

او مستحسن دی(۱) او کلمه صرف ساکن کول یانور کوم احکام چي(۲) د وقف دي هغه کول بي
له ساه اخستلو څخه ديته وقف نه وايي دا سخته غلطي ده ﴿فائده﴾ په کلماتو کي تقطيع
او سکتي نه دي کول پکار بيا خاص په سکون باندي(۳) البته کوم ځای چي سکته روايتا ثابته
وي، نو هلته سکته کول پکار دي(۴) او دا سکته څلور ځايه ده لکه څنګه چي مخکي بيان سوي
ده، که په اياتونو باندي سکته وکړي، نو هيڅ(۵) بد والی نسته(۶) او په عوامو کي مشهور ده
چي په سورة فاتحه کي اوه ځايه سکته کول ډير ضروري دی، که چيري سکته ونه کړل سي، نو
د شيطان نوم به څني جوړ سي، دا سخته غلطي ده(۷) هغه اوه ځايونه دا دي، دُلِل، هِرَب، کِيَو،
کَنَع، کَنَس، تَعَل، بِعَل، که چيري همدا رنګه ديوي کلمي اول او دبلي کلمي دا خر سره يو ځای
کړل سي، او کلمات څني جوړ کړل سي، نو نوري به هم ډيري سکتي را ووځي، لکه څنګه چي
ملا علي قاري په شرحه کي د مقدمه جزريه فرمايي، وَمَا(۸) اُشْتُهِرَ عَلٰى لِسَانِ بَعْضِ الْجَهَلَةِ
مِنَ الْقُرَّآنِ فِی سُوْرَةِ الْفَاتِحَةِ لِلشَّيْطٰنِ كَذَا مِنَ الْاَسْمَآءِ فِیْ مِثْلِ هٰذِهِ التَّرَاكِيْبِ مِنَ الْبِنَآءِ
فَخَطَاءٌ فَاحِشٌ وَاَطْلَاقٌ قَبِيْحٌ ثُمَّ سَكْتُهُمْ عَلٰى نَحْوِ دَالِ الْحَمْدُ وَ كَافِ اِيَّاكَ وَاَمْثَالِهَا غَلَطٌ صَرِيْحٌ
﴿فائده﴾ په كَاَيِّنْ کي چي کوم نون ساکن دی دا نون د تنوين دی(۹) او مرسوم دی د دي لفظ
څخه سوا په مصحف عثماني کي کله تنوين په شکل د نون نه

---

حواشي :(۱) پر لازم مطلق باندي دريدلو ته ضروري په دي وجه وايي، چي ښه خو داده چي پر يو څو ځايو باندي وقف وکړل سي، بايد بيا پر داسي ځای وسي چي د کلام لفظ او معنی دواړه پوره وي، دا ځايونه صرف دا دري دي، که پر دي ځايونه وسي نو لازما پر يو بله علامه باندي کوي، يا په مينځ کي، د هغو به داسي حيثيت نه وي لکه د هغه دري ځايونو. احقر مدني(۲) مثلاً په وقف بالابدال کي د دوو زورو تنوين الف سره بدلول يا په بالاشمام کي شونډي راټولول. احقر مدني(۳) د محل وقف له پيانولو وروسته بي ياد کيفيت وقف د صحت و خواته توجه کړي ده، احقر مدني(۴) سکته او تقطيع د کيفيت په اعتبار دواړه يو دي، او د محل په اعتبار سره په دوی دواړو کي فرق سته، هغه دا چي د کلمي پر اخري له ساه اخستلو د لږ ساعت د پاره او ازماتول سکته ده، او هم دا عمل که په ما بين کي وسي، ديته تقطيع وايي، دا دول چي د الحمد دال، يا د لِلّٰهِ پر ها که له ساه اخستلو بغير او ازمات سي، دا به سکته وي، او که په الحمد کي پر ميم باندي او ازمات سي، ديته تقطيع وايي، احقر مدني(۵) د تقطيع او سکتو ډير احتمال پر سکون باندي وي، ځکه چي په طبعه کي د قطع صوت تقاضا پر حرف ساکن پيدا کيږي، احقر مدني(۷) دا اشاره و ديته ده چي تقطيع يو ځای هم روا نه دی، البته سکته په يو څو ځايو کي ثابته ده هلته يي کول ضروري دی. احقر مدني(۸) د بعضو ناخبره خلکو په ژبه چي مشهوره سوي ده چي په قرآن مجيد کي د سورة فاتحي له ترکيبو سره، دُلِل، هِرَب، کِيَو، کَنَع، کَنَس، تَعَل، بِعَل، د شيطان نومونه دي، دا لويه غلطي ده يا د دي ناخبره خلکو سکته کول لکه د الحمد په دال باندي او د اياک په کاف باندي ښکاره غلط دی. (۹) د شمايل ترمذي په يو روايت کي له ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضی الله عنها څخه د جناب نبي کريم صلی الله عليه وسلم د قرائت کيفيت دا دول منقول دی، چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د تلاوت په وخت کي پر اياتونو باندي وقف کاوی، همدا دول له ام المؤمنين رض د سورة فاتحي يو څو ابتدايي اياتونه په دي کيفيت باندي وا ورول نو د علماوو يو جماعت دا وايي چي د لته له وقف څخه مراد سکته ده، احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

ليكل كيږي، او د قاعدي په لحاظ سره دلته تنوين د وقف په حالت كي حذف كيدل پكار دى، خو څرنګه چي وقف تابع د رسم الخط وي، او دلته تنوين مرسوم دى، نو په دي وجه به په وقف كي ثابت وي ﴿فائده﴾ اخر د كلمي حرف علت(۱) چي هر كله غير مرسوم وي، هغه به په وقف كي هم ثابت وي، د ثابت فى الرسم مثالونه وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ، تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ، لَاتَسْقِى الْحَرْثَ، او د محذوف فى الرسم مثالونه فَارْهَبُوْنِ، وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ، په سورة نسآء كي نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ په سورة يونس كي مَتَابِ، عِقَابِ، په سورة رعد كي خو په سورة نمل كي چي كوم فَمَآ اٰتٰنِ ِۦ اللّٰهُ، دى د دغه ياء سره د دي چي غير مرسوم(۲) ده په وقف كي يي جائز دى اثبات او حذف له دي سببه چي په وصل كي د احفص مفتوح وايي(۳) وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ، په سورة اسراء كي وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ په سورة شورٰى كي يَدْعُ الدَّاعِ، په سورة قمر كي سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ، په سورة علق كي اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ، په سورة مؤمنون كي اَيُّهَ السّٰحِرُ، په سورة زخرف كي اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ، په سورة رحمٰن كي البته كه چيري د تماثل فى الرسم(۴) په وجهي سره غير مرسوم وي، نو د دي قسم محذوف به په وقف كي ثابت وي، د دي مثال يُحْيِ، وَيَسْتَحْيِ، وَاَنْ تَلْوُا، وَلِتَسْتَوُا(۵) جَآءَ، مَآءَ(۶) سَوَآءَ، تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ(۷) ﴿فائده﴾ لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ په اصل كي لَا تَاْمَنُنَا وو دوه نونه(۸) دي او اول

---

حواشي :(۱) د دي فايدي په ضمن كي يي له كيفيت وقف سره متعلق يو عامه ضابطه بيان كړي ده، خلاصه يي دا ده چي وقف د رسم تابع دى، د اصل او وصل تابع نه دى، په دا ډول چي كه يو حرف ليكل سوى نه وي، هغه به په وقف كي هم نه ويل كيږي، كه څه هم د اصل په اعتبار موجود وي، همدا ډول كه يو حرف په وصل سره نه ويل كيږي، او ليكل سوى وي هغه به په وقف كي ثابت وي، احقر مدني (۲) په مصاحف عثمانيه و وكى غير مرسوم ده كه نه نو په اوسني قرآنو كي ليكل سوى ده، او د دي خبري ښكاره كولو د پاره چي دا يا په عثماني مصاحفو كي مرسوم نه وه بلكه د حركاتو او نقطو په شان د عوام الناس د اساني د پاره وروسته زمانه كي ليكل سوى ده د دا دنون سره يو ځاى نه ليكي بلكه جلا يي ليكي.م (۳) مطلب دا دى چي ، فما اٰتٰنِ ِۦ ، د ياء د رسم تقاضا دا ده چي وقف دي يو اځي په حذف يا سره وي، ځكه چي دا ياء ليكلي نه ده او وقف د رسم الخط تابع دى، خو څرنګه حضرت حفص دا په وصل كي مفتوحه وايي له دي وجي د وصل په لحاظ په وقف كي دا ثابت لرل هم جائز دى. احقر مدني (۴) د تماثل فى الرسم مطلب دا دى چي په ليكلو كي يو ډول وي، لكه د مثلين يا متجانسين د جمع كولو په صورت كي، دا ډول د اهل رسم دا قانون دى چي په كومه كلمه كي دوي ياء، يا دوه واوه، يا دوه الفه، يو ځاى راسي، هلته د تخفيف له وجي يو حرف ليكي دويم نه ليكي، او كه دري وو دوه حذف كوي، نو مطلب دا سو چي كه ديوي كلمي له اخر څخه يو حرف علت حذف د تماثل فى الرسم له وجي وي، هلته به پورته ذكر سوي قاعده چي وقف د رسم تابع دى نه جاري كوو، بلكه سره له دي چي رسما محذوف دى په وقف كي به دا سي حرف علت ثابت ساتو، احقر مدني (۵) د محذوف في الرسم په وجه د تماثل ثابت فى الوقف د مثالونو په سلسله كي مؤلف كلمه جآء هم راوړي ده او حال دا چي د همزه د رسم چي كوم اصول دي د هغه په اعتبار سره په جآء كي همزه متطرفه ما قبل ساكن لره د ضوابطو مطابق محذوف الشكل كيدل پكار دي، څرنګه چي پخپله حضرت مؤلف په شرح رأيه مسمى بدر العقليه مطبوع (پاته پر راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

نون مضموم دی او دویم مفتوح دی، اولانافیه ده په دي کي صرف(۱) اظهار او صرف ادغام جا یزنه دي، بلکه دادغام سره اشمام ضرور کول پکادی او داظهار په حالت کي روم ضروري (۲) دی ﴿فائده﴾ د حرف مبدأ (۳) او موقوف خیال ساتل پکاردي، چي په کامل طور باندي ادا سي، بیا خاص چي کله همزه یا عین موقوف له یو حرف ساکن څخه وروسته وي، لکه شَيْءٍ سُوْءٍ جُزْءٍ، داکثر خیال نه کولو سره داسي ځای باندي حرف بالکل نه ادا کیږي، یا ناقص ادا کیږي

---

حواشي : پاته حاشیه: اله آباد صفحه ۶۸ کي جَآء شَآء وغیره محذوف الشکل بنوول سوي دي، دتطبیق صورت یي دادی چي کلمه جآء په اصل کي جیاء اجوف یایي دی او همزه متحرکه په حقیقت کي د متحرک څخه وروسته په شان د بدا، او قرا، دالف په شکل کي وه، لیکن کله چي دقاعدي مطابق تعلیل وکړل سو متحرکه ماقبل مفتوح دغه ی، په الف سره بدله سوه، او س تماثل وسو چي دهغه په وجه دهمزي شکل حذف کړل سو، نو ګویا فواید مکیه کي د کلمي داصل په اعتبار سره یي جآء په دي قبیل کي داخل کړ او په شرحه رأیه کي د کلمي اصل او تعلیل وغیره څخه قطع نظر وکړی سوا و دهغه ظاهري شکل یعني همزه متطرفه متحرکه بعدیي ساکن یي په هغه امثله وو کي شامله کړه په کوموکي چي دتماثل په وجه سره حذف نسته بلکي وضعاهمزه محذوف ده په شان دسفهآء او یشآء او من مآء وغیره (۶) مآء او سوآء دا دواړه منصوب منون مراد دي ولي چي ددي دواړو کلمو باقي صو رتونو کي دهمزي شکل وضعا محذوف دی دتماثل په وجي سره نه دی البته دمنصوب منون کیدلو په حالت کي همزه متوسط متحرک ماقبل الف دخپل حرکت موافق دالف په شکل کي کیدل پکاردي او چونکه دتنوین نصبي رسم خط په الف سره وي ددي دپاره الف شکل همزه او الف تنوین او الف ماقبل همزه په دوی کي دتماثل کیدلو په وجه سره به داخر دوه الفونه حذف کیږي. (۷) ددي کلمي اصل تَرَاءَیَ بروزن تخاصم دی په دي کي دالف بنایي څخه علاوه دوه الفه نور کیدل پکادي یو الف شکل همزه متوسط دویم الف مبدل عن الیاء دتماثل په وجه به دوه الفه محذوف کیږي، څنګه چي په شرح رأیه مسمی بدور العقلیه مطبوعه ۵۲ دویم بیت واکتب تَرَاء، وجآء انابو احدة، تبوءا، ملجاء، مآء، مع النظرا، او ددي دشرح څخه ښکاره دی شرح داده، ای اذا کان فی اخر الکلمة الفان او ثلثة فلم ترسم الاواحدة نحو تراء من قوله تعالی فلماتراء الجمعان وهو علی وزن تقابل الف بعد الراء وبعدها همزة اذا رسمت بصورة الالف والف لام الفعل فلم ترسم الاواحدة، اوچي مخکي ولاړسي نوو ایي، ملجا و مآء حالة النصب فیه الفان صورة الهمزه والف التنوین. (۸) چي هغه نون اول نون دلام کلمي دی، او دویم دجمع متکلم دضمیر، او وزن یي لَاتَفْعَلْنَا دی. احقر مدني (۱) یعني داول نون ضمه داډول کامله ادا کړل سي لکه څنګه چي په ینصرنا کي دراء ضمه ادا کوي، او ادغام په دا ډول وي، چي اول نون په دویم نون کي داسي ادغام کړل سي، چي دمدغم حرکت ته هیڅ اشاره ونه سي، دادواړه صورتونه جائز دي. احقر مدني (۲) دادغام په حالت کي اشمام له دي وجي ضروري دی، چي دکلمي داصل و طرفته اشاره راسي، او داظهار په حالت کي روم ددي دپاره ضروري دی، چي ثقل رفعه سي، دلاتأمنّا اصل لاتَأْمُنُنَا دی اول نون مضموم دی، بیا دمثلینو جمع کیدلو له وجي تولو قراوو دلته ادغام کړی دی. احقر مدني (۳) له کوم حرف څخه چي تلاوت شروع کیږي هغه ته حرف مبدوء، او پر کوم لفظ چي وقف کیږي هغه حرف موقوف ویل کیږي، دادواړه کله دخیال نه کولو له وجي له سره ادانه سي، او یا ناقص ادا سي، او داغلطي ولي وي، داځکه چي د حرف مبدوء په شروع کي کله ساه په صوت کي متکیفه سي، نو کله ددي ماهیت پوره بدل سوی نه وي قاري قرائت شروع کړي، نو دا صورت پیښ سي. او په موقوف کي دا احتمال ځکه سته چي کله ساه ده تنګی یا عجلت په وجه د حرف اخر او ازپه ښه توګه ښکاره سوی نه وي، ساه قطع سي، احقر مدني

﴿فائده﴾ نون خفيفه په قرآن شريف کي دوه ځايه(۱) دی، يو وَلَيَكُونًا مِّنَ الصّٰغِرِينَ، په سورة يوسف کي، دويم لَنَسْفَعًا په سورة اقراء کي، دا نون به په وقف کي په الف سره بدليږي، په دي وجهي سره چي ددي رسم په الف سره دی،

## ﴿خاتمه(۲) اول فصل﴾

دا پيژندل پکار دي چي د قاري مقري(۳) د پاره د څلورو علمونو(۴) پيژندل ضروري دی، يو خو علم تجويد يعني د حروفو مخرجونه او د هغه صفتونه پيژندل، دويم دوقفونو علم دی، يعني دا خبره پيژندل چي په دي کلمي باندي څرنګه وقف کول پکار دی او څرنګه نه دی کول پکار او کوم ځای د معنی په اعتبار سره قبيح او حسن دی، او کوم ځای لازم او غير لازم دی، د تجويد اکثره مسائل بيان سوي دي، او اوقاف چي دا داء(۵) له قبيلي څخه دي هغه هم بيان کړل سول، او کوم چي د معانيو(۶) له قبيلي څخه دي هغه په مختصر طور سره د هغه رموزو هم بيان وسو، او کوم چي په معنی(۷) باندي دلالت کونکي دي، هغه بيان کړل سول، او په تفصيل بيانو لو سره کتاب درازيږي، او مقصود اختصار دی، او دريم رسم خط عثماني دی ددي پيژندل هم ډير ضروري دی يعني کومه کلمه په کوم ځای کي څرنګه ليکل پکار دی، ولي چي کله خو رسم د تلفظ مطابق وي، او کله غير مطابق(۸) وي او س که چيري په داسي ځايونو باندي

حواشي : (۱) د کَأَيِّن د جر تنوين د رسم عثماني له عامي قاعدي څخه خلاف په صورت د نون مرسوم دی، همدا د ول دليکونا، او لنسفعًا نون له عامي قاعدي څخه خلاف د نصبي الف دصورت په شان ليکل سوی دی، لکه څنګه چي هلته د اصل دلحاظ په وجه تنوين نه حذف کوي، بلکه د رسم لحاظ کوي وقف وربانډي کوي، دا د ول دلته هم د اصل دلحاظ په وجه وقف پر نون نه کوي، بلکه د رسم اعتبار کو او په الف سره وقف کوي. احقر مدني (۲) له اصل مقصود وروسته هغه مسائل چي پر هغو د کتاب ختميدل مقصود وي، د هغه د پاره يي د خاتمي عنوان راوور، تر دي مخکي مصنف په دروبابو کي د تجويد او وقف متعلق اهمي او ضروري مسائلي بيان کړي، او د خاتمي تر عنوان لاندي په دوو فصلو کي د قران مجيد جمع، ترتيب، د رسم عثماني ارزښت، د هغه حکم، د علم قرائت حيثيت، د قرائت قسمونه، او قرآن مجيد په ښه اواز سره ويل، دا ټول بيانوي. احقر مدني (۳) يعني مُعَلِّم (۴) يعني علم تجويد، علم اوقاف، علم رسم خط عثماني، او د قرائت علم (۵) مثلا وقف بالروم وقف بالاشمام (۶) مثلا وقف حسن، يا احسن، يا قبيح، او اقبح او لازم وغيره (۷) د مصنف مطلب دا دی چي په دي رساله کي کيفيات وقف يعني اسکان، اشمام، او د روم تعريفات خو بيان سوي دي، او د تام کافي تعريفونه او حکمونه يي بيان نه کړل، او يوا ځي هغه رموز چي د اوقافو طرفته اشاره ورته سوي، لکه ،م، ط، ج بيان سوي دي، احقر مدني (۸) او داسي ځايونه چي په هغو کي رسم د تلفظ مطابق نه وي، ډير کم دي، په اکثره ځايو کي رسم د تلفظ مطابق دی، په دي کمو ځايو کي چي مطابقت نسته دا اتفاقي دي. احقر مدني



Maktaba Tul Ishaat.com

چي په کوم ځای کي مطابقت نه وي، هلته دلفظ تلفظ درسم مطابق وکړل سي، نو ډيره لويه غلطي به وسي(۱) مثلاً رَحْمٰنَ، بي الفه ليکل کيږي، او بأَيۡدٍ، په سورة ذاريات کي دوو ،ي، سره ليکل کيږي، او لَاۡاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ، لَاۡ اَوْضَعُوْا، لَاۡ اَذْبَحَنَّهٗ، لَاۡ اَنْتُمْ، په دي ځلورو ځايونو کي(۲) لام د تاکيد دی، او په ليکلو کي لام د الف دی، او س په دي ځايونو کي درسم مطابقت سره لفظ مهمل(۳) او مثبت به منفي کيږي، او دا رسم توقيفي او سماعي(۴) دی د دي خلاف ليکل جائز نه دی، د دي د پاره چي جناب رسول(۵) الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کي کوم وخت چي به قرآن شريف نازليدلو نو په هغه وخت به ليکل کيدی صحابه کرامو رض سره متفرق طور با ندي ليکل سوی وو له هغه ځخه وروسته حضرت ابوبکر رض په زمانه کي ټول په يو ځای جمع کړل سو بيا د حضرت عثمان رض په زمانه کي په ډير اهتمام او اجماع د صحابه رض کرامو ځو متعدد د قرآن شريفو نه وليکل سول، او مختلفو ځايونه واستول سول، په جمع اول او جمع ثاني کي دو مره فرق دی(۶) چي په اول وار کي جمع غير مرتب وه، او په دويم(۷) وار کي د سورتونو د ترتيب

---

حواشي : (۱) يعني کلمه به پر ځای د مثبت منفي سي، او کله بيا مهمله سي. احقر مدنی (۲) دا کلمه او په سورة صافات کي لَاۡاِلَى الجحيم، د دي دوا ړو رسم خط په بعضو مصاحفو کي د الف زياتوالی سره دی، او په بعضو کي بي له الفه دی، او وَلَاۡاَوْضَعُوْا، په سورة توبه کي د اهل رسمو په نزد بالالف دی، او کلمه لَاۡاَذْبَحَنَّ چي په سورة نمل کي ده د ټولو اهل رسمو په اتفاق سره بالالف ده ليکن کلمه لَاۡاَنْتُمْ، چي په سورة حشر کي ده په دي کي د الف زياتوالی په ځه معتبري طريقي سره ثابت نه دی، صرف په مورد الظمان کتاب کي يي بالالف بيان کړی ده، د دي ځخه معلومه سوه چي په دي کلمه کي د الف زياتوالی په ضعيفه درجه کي دی علامه داني په خپل کتاب مقنع کي او علامه شاطبي به هم په خپل کتاب رأيه کي دا کلمه بيان کړي نه ده کما قال الشاطبي وزاد اللام لف الفالاوضعوا اجلهم واجمعوا زمرا لاذبحن وعن خلف معالاالی، رأيه مطبوعه مصر صفحه ۵-۲۰ او س په ظاهره دا شبه کيږي چي مؤلف کلمه لاانتم با وجود د ضعف ځخه بيان وفرمايله نو جواب د دي دادی چي په په دي موقعه باندي مؤلف يو ځو مثالونه ور کول غوښتل د کومو د رسم خط چي بالالف وي، او تلفظ يي الف ځخه بغير وي، په دي سلسله کي يي چي کوم کلمات په ذهن کي را غلل هغه يي بيان کړل قطع نظر د دي ځخه چي په کومه کلمه کي د الف زياتوالی راجع او قوي دی، او په کومه کي ضعيف دی په بعضو مصاحفو کي کلمه لانفضوا من حولک ،ال عمران، د الف په زياتوالي سره د کومه چي بالکل بي اصله ده درسم خط په معتبرو کتابونو کي د دي هيڅ تذکره نسته. (۳) همدا د ول رحمٰن او بايدٍ، کي که تلفظ مطابق د رسم سي، نو کلمه به مهمله سي، او که په لاانتم کي داسي سي، نو کلمه به د مثبت پر ځای منفي سي، احقر مدني (۴) د توقيف معنی ده ښوول، يعني د قرآن دا رسم صحابه وو په خپله رأيه سره اختيار کړی نه وو بلکه جناب نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ښوولو سره يي اختيار کړی دی، يعني د قرآن کريم دا رسم له نبي کريم صلي الله عليه وسلم ځخه او ريدل سوی دی، او د هغه په امر او املاء سره ثابت او منقول دی. احقر مدني (۵) او س د قرآن کريم د کتابت او جمع والي وتاريخ ته مصنف اشاره کړی ده، چي د قرآن کريم ليکل د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کي هم کيدی، او بيا د خلفاء راشدينو په زمانه کي هم وسو. احقر مدني (۶) له اولي جمعي ځخه صديقي رض جمعه ده، او له دويمي ځخه عثماني رض جمعه ده. احقر مدي (۷) يعني په اوله جمعه کي او سني ترتيب سورتونه وو، او په دويمه جمعه کي دا وسني ترتيب سورتونو ترتيب قائم سوی دی، احقر مدني

لحاظ هم ساتل سوی وو او حضرت ابوبکر صدیق رض او حضرت عثمان رض دا کار حضرت زید
بن ثابت رض ته وسپارلو ولي چي دی کاتب الوحی(۱) وو او دا خري(۲) زماني مشاهد وو، او
دهمدغه په اخروخت موافق يي وجناب رسول مقبول صلی الله عليه وسلم ته قرآن شريف وا
رولو، او دټول کلام مجيد له سبعه(۳) احرف حفظ کولو سره يي، بيا هم دا احتياط او اهتمام وو
چي تمامو صحابه کرامو رض ته دا حکم وو چي څو مره د چا سره قرآن شريف ليکل سوی وي هغه
دي راوړي، او پيش دي کړي، او کم از کم دوه ګواهان دي هم ولري چي د جناب رسول اکرم ص
په مخکي دا ليکل سوی دی، او څنګه چي صحابه کرامو رض د جناب رسول مقبول صلی الله
عليه وسلم په مخکي ليکلی وو هم هغه رنګه حضرت ابوبکر صديق رض او حضرت عثمان رض
ليکلی وو، بلکه بعضي اما مانو دا هل رسم د دي قايل دي چي دا رسم عثماني رض د جناب رسو
ل الله ص په امر او املاء(۴) سره ثابت سوی دی، دغه رنګه قرآن شريف د صحابه کرامو رض په
اجماع سره په دي خاص(۵) رسم باندي غير معرب(۶) او غير منقط وليکل سو، له هغه څخه ورو
سته په قرن ثاني کي دا سانی په غرض سره اعراب او نقطي هم په حروفو کي ولګول سوي، او
س معلو مه سوه چي دا رسم توقيفي دی که نه نو څرنګه چي د دين اما مانو اعراب او نقطي د
اسانی د پاره ورکړي دي، دغه رنګه به يي رسم غير مطابق هم مطابق کړی وو، او دا خبره له قيا
س څخه لري ده چي حضرت ابوبکر صديق رض يا حضرت عثمان رض او ټولو صحابه کرامو رض
دا غير مطابق او زوايد يي ليدل، او بيا يي هم د دي اصلاح نه کوله بيا خاص په قرآن مجيد کي
د دي وجهي څخه ټولو خلفاوو او صحابه کرامو رض او تابعينو او تبع تابعينو او ائمة اربعه وو
وغيره هم دا رسم تسليم کړی دی، او د دی خلاف يي(۷) د خلاف پر ځای جائز و نه ويلو او بعضو

حواشي : (۱) يعني د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کي به يي قرآن شريف ليکی، له وحي څخه مراد قرآن کريم دی، که څه هم کتابت د قران نورو صحابه کرامو هم کاوی، خو دی رض تر ټولو زيات کي ماهر وو، ځکه يي دی مقرر کړو د دي کار د پاره. احقر مدني (۲) يعني په اخره روژه کي چي له هغه څخه وروسته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم وصال کيدی، په هغه روژه کي چي جبراييل عليه السلام ده مبارک کوم دور ورته کړی وو. احقر مدني (۳) يعني د عربو ټول هغه لغات چي په وحي الهي کي يي د قرآن د تلاوت اجازه ورکړل سوي وي، هغو لغاتو ته سبعه احرف وايي، احقر مدني (۴) يعني د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په حکم او ليکلو سره، احقر مدني (۵) يعني موجوده رسم چي په ځينو ځايونو کي د تلفظ مطابق نه وي، احقر مدني (۶) يعني بي له اعرابه او نقطو يعني نه حرکتونه وو او نه ټکي، يو اځي شکلونه يي وو، دا چي صحابه کرامو ولي اعراب او نقطي نه ورکولي، وجه دا ده چي دوی بي له اعراب او نقطو پوهيدل. احقر مدني (۷) مطلب دا چي غير مطابق رسم يي د تلفظ مطابق روا و نه بللو، ځکه چي غير مطابق خلاف له مطابق څخه دی، احقر مدني

اهل كشفو(۱)په دي خاص رسم كي لوى لوى اسرار بيان كړي دي، چي د هغو خلاصه داده چي دا رسم په منزله د حروفو مقطعاتو او اياتو مشابهاتو دى، وَمَا يَعْلَمُ(۲) تَأْوِيْلَهُ اِلَّا اللّٰهُ وَالرّٰسِخُوْنَ(۳) فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا او څلورم علم قرائت دى او دا هغه علم دى چي په دي سره دوحى(۴) د الفاظو اختلاف معلوميږي، او قرائت په دوه قسمه دى، يو هغه قرائت دى چي د هغه ويل صحيح دي، او د هغه د قرائيت عقيده ساتل ضروري او لازمي دى، او انكار او استهزاء يي گناه او كفر دى او دا هغه قرائت دى كوم چي د قراوو عشره(۵) وو څخه په طريقي د تواتر(۶) او شهرت سره ثابت سوى(۷) دى، او كوم قرائتونه چي له هغوى څخه په طريقي د تواتر او شهرت سره ثابت سوي نه دي، يا د هغوى څخه ما سوا روايت سوي دي، هغه ټول شاذه(۸) دي، او د شاذه حكم دادى چي د هغو ويل د قرائت په اعتقاد سره يا دا رنگه چي اوريدونكي ته د قران شريف ويلو كيدلو وهم پيدا سي حرام او ممنوع دى. نن صبا دا بلا ډيره پرمخ تللي ده چي څوك قرائت متواتره وايي نو خلك ورباندي خاندي او كوږ وږ قرائت سره يي تعبير كوي، او بعضي حافظان د قاري صاحب د جوړو لو د پاره تفسير و غيره و گوري او په اختلاف د قرائت سره تلاوت شروع كړي، او دا تميز نه وي، چي دا كوم يو قرائت دى، ايا تلاوت يي صحيح دى او كه نه دى، او شاذ دى كه متواتر دى، د دواړو حضراتو حكم له ما قبل څخه معلوم سوى دى، چي څو مره بد كوي.

---

حواشي :(۱) دا د اولياءالله وويوه ډله ده، چي دوى ته په بعضي وختو كي پټ شيان ښكاره كيږي، احقرمدني (۲) اسرار جمعه د سر ده، معنى پټ راز او پټه خبره، يعني دوى په غير مطابق رسم كي لوى لوى رازونه بيان كړي دي. احقرمدني (۳) دوما يعلم مطلب دادى چي د دي حقيقت له الله پاك څخه سوا بل يو چاته نه دى معلوم، او څوك چي په علم كي مظبوط دي، هغوى وايي زمونږ پر دي باندي ايمان دى، دا ټول د الله پاك له طرپه څخه دي. احقرمدني (۴) يعني د قرآن كريم ډيري كلمي داسي دي چي وحى الٰهي په څو دوله ويلو سره اجازت ور كړى دى، لكه د سورة بقره په ۶ ركوع كي ولايُقبل، ولاتُقبلُ، په تذكير او تانيث دواړو سره ويل كيداى سي او داَلقُدس، لفظ په ضمه د دال او سكون د دواړو سره ويل كيږي، خو په دي دواړو قرائتو سره ويل تر هغه وخته روانه دي تر څو چي دا معلوم كړي، چي د تذكير قرائت د كوم قاري څخه منقول دى، او د تانيث دا له كوم څخه. احقرمدني (۵) هغه لس قاريان دادي، ۱ امام نافع مدني ۲ امام ابن كثير مكي ۳ امام ابو عمرو بصري ۴ امام ابن عامر شامي ۵ امام عاصم كوفي ۶ امام حمزه كوفي ۷ امام كسايي كوفي ۸ امام ابو جعفر مدني ۹ امام يعقوب حضرمي ۱۰ امام خلف كوفي، دا هغه مختاره امامان دي. احقرمدني (۶) د تواتر معنى داده چي دا قرائتونه له دوى څخه په دا دول رارسيدلي دي چي په هغه كي د دروغ او غلط والي هيڅ امكان نه وي، ديته متواتره او مشهور وايي، احقرمدني (۷) دي حضراتو ته د قرائت نسبت كول دا معنى نه لري چي نعوذبالله دوى يي موجدين دي، بلكه دويته له ډيرو معتبرو شيو خو څخه چي هغوى ته بيا له نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه رارسيدلي دي، احقرمدني (۸) شاذ مقابل د متواتر دى، او شاذه هغه قرائت ته ويل كيږي چي په كثرة سره نه وي رارسيدلى. احقرمدني



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دويم فصل﴾

قرآن شريف په الحانو(۱) او انغامو سره په ويلو كي اختلاف دى، بعضي ورته حرام او بعضي مكروه او بعضي مباح(۲) او بعضي مستحب وايي، بيا په اطلاق(۳) او تقليد كي هم اختلاف دى خو قول محقق او معتبر دا دي، كه چيري د قواعدو موسيقيه(۴) و په لحاظ سره د تجويد قواعد خراب(۵) سي بيا خو به مكروه يا حرام وي، كه نه نو مباح يا مستحب دى، او مطلقا(۶) په خوش اوازى سره تلاوت كول د رعايت د قواعدو د تجويد مستحب او مستحسن دى، لكه څرنګه چي اهل عرب عموما په خوش اوازى سره بيله څه تكليفه او بيله رعايت د قواعدو موسيقيه و ويو ذره خبر هم نه وي، او په ډير خوش اوازى تلاوت كوي، او دا خوش اوازي د دوى طبعي او خوى يي دى، په همدي وجه د هريوه لهجه جلا جلا او له يو بل څخه ممتازوي، هريو خپله لهجه هر وخت ويلى سي، په خلاف د انغامو چي د دوى وختونه مقرر دى، چي په بل وخت كي نه جوړيږي، او نه ښه معلوميږي، له دي ځاى څخه معلومه سوه چي په نغم او لهجه كي څه فرق دى، طرز طبعي ته لهجه وايي، په خلاف د نغم، او س دا معلومول هم ضروري دى چي انغام(۷) ته څه نه وايي هغه داده چي د ښائست صوت د پاره چي كوم خاص قواعد مقرر كړي

---

حواشي :(۱) الحان معنى لب او لهجه، انغام معنى سور، د دوى دواړو كيفيت يو دى، لكه څنګه چي له متنه معلوميږي، او د اختلاف تعلق له دواړو سره دى، دواړه تر يوه حكم لاندي راځي، خو حقيقت داسي نه دى بلكه د دوى په مينځ كي فرق سته، هغه دا چي الحان د عربو د طبعي طرز نوم دى، او انغام دا و از كښته پورته والى چي هغه تر قواعدو موسيقيه لاندي پيدا كيږي، او الحان ما موربه دى لكه په حديث كي چي راځي، اقرؤا القرآنَ بِلحون العرب واَصواتِها، نو د دواړو حقيقت او حكم جلا جلا دى، لكه مصنف چي وروسته د دواړو فرق بيان كړى دى. احقر مدني (۲) د استحباب او اباحت حكم يوا ځي له الحان او لهجي سره متعلق دى، او انغام تر قواعدو موسقيه و لاندي قرآن ويل قطعا ناجائز دى، خو كه چيري بي له اختياره د قاري د موسيقي څه قاعده اداسي، پر هغه انشآءالله څه ماخذه نسته. احقر مدني (۳) اطلاق معنى بي له څه شرطه، تقيدي مقابل دى، نو معنى يي دا سوه چي بعضي خلګ مطلقا يي له حرامو الي، يا مكروه، يا مباح، يا مستحب، حكم كوي، او بعضي يي مقيد كوي، كه چيري له الحان څخه لحن جلي راتلى نو حرام دى، او كه خفي راتلاى بيا مكروه دى، او كه دواړه نه وي بيا مباح دى، او كه په لهجه ويلو سره لحن نه راتلاى بيا مستحب دى، احقر مدني (۴) علم مٔوسيقي د هغه علم نوم دى چي په هغه كي د سرود، غزلو، لنډيو، په هكله بحث كيږي. احقر مدني (۵) خو په قواعدو موسيقيه و سره د تجويد قواعد په هغه صورت كى خرابيږي، چي قاري د حروفو و صحت ته نظر نه كوي، يوا ځي په لهجه كي يي فكروي، او كه لهجه د ننه په تجويد كي وي بيا څه تاوان نه لري بلكه مشق كولو ته نوره فائده رسوي، احقر مدني (۶) د مصنف مطلب دا دى چي په الحان سره تلاوت كولو كي څه اختلاف سته، خو په ښه اواز سره د قرآن تلاوت كولو كي اختلاف نسته، بلكه مستحب او ماموربه دى، خو ښه داده چي حسن صوت او لهجه په حدر، ترتيل، تدوير، په ټولو كي راځي، نو بايد په هغه معيار سره چي مصنف په متن كي ذكر كړو چي د تجويد قواعد خراب نه سي، د هغو (پاته په راتلونكي صفحه)



Maktaba Tul Ishaat.com

سوي دي، دهغه لحاظ کولو سره ویل یعني یو ځای کمول یو ځای زیاتول یو ځای ژرویل بل ځای بیاژرنه ویل یو ځای اوازکښته کول او بل ځای پروته کول بعضي کلمي په سختي سره اداکول، بعضي په نرمي سره ویل بل ځای بیادژراغوندي(۱) اوازرا ایستل، یو ځای څه، او بل ځای څه، کوم څوک چي په پوهیږي، هغه یي بیانوَلی سي، البته کوم چي لوی لوی ددي فن ماهرین دي، دهغوی داخبري اوریدل سوي دي، چي ددي څخه هیڅ یواواز خالي نه وي، خاما خاڅه ناڅه قاعده دموسیقي به پیدا کیږي، خصوصاهر کله چي انسان په ذوق او شوق سره یو شی وایي، سره ددي چي هغه هیڅ هم ددي فن څخه خبرنه وي، خوڅه ناڅه به ښائست(۲) پیدا کیږي، په همدي وجه بعضو محتاطو خلګو داسي تلاوت کول شروع کړی دی، چي دښائست صوت سره یوذره هم نوم رانه سي، ولي چي ددتحسین صوت سره لازم دی نغم ددي څخه احتیاط دی، او هم دابعض خلګ اهل احتیاط اهل عربو ته وایي چي دغه خلګ خوپه ښه وزن سره ویل کوي، سره له دی چي داسي تحسین په هیڅ شان سره هم ممنوع نه دی، او نه ددي څخه خلاصي سته، خلاصه او ماحصل زموږ دادي چي قرآن شریف په تجوید سره ویل پکار دی، او فی الجمله په خوش اوازی سره دي وایي، اودقواعدوموسیقیه و وخیال دي نه کوي، چي موافق دی، یامخالف(۳) اودصحت حروف او معاني خیال دي کوي، او که په معنی نه پوهیږي، نوبس دومره خیال کافي دی چي دمالک الملک عزّوجلّ کلام وایم او هغه یي اوري، اودتلاوت کولو ادب خو مشهوردی. تمّتْ بِالْخَیر

(اَلْفَهُ عبدالرحمٰن بن محمد بشیرخان عفی اللّٰه عنه وعن والِدیه)

---

حواشي :پاته حاشیه:لحاظ وساتل سي. احقرمدني(۷) خودهرچادطرزطبعي نوم لهجه نه دی، بلکه یواځي دعربوهغه طرز طبعي ته لهجه وایو، اوعجموته ضروردلهجي دزده کړي دمشق کولوضرورت سته، که نه نودهرقوم قاري به هغه خپله لهجه په قرآني لهجه سره مسمی کړي، اوددی غلط والی ښکاره دی. احقرمدني(۱) که چیري دژرااوازدالله پاک له ویري، اودعذاب له تصوره څخه وي، بیا داکیفیت مذموم نه دی بلکه حسن دی. احقرمدني(۲) نوکله چي یوااوازهم له نغمي څخه خالي نه دی، نود شوق اوذوق په وخت کي په اوازکي دنغمي پیدا کیدل لازم دی، اوپه شوق ویلوسره دقرآن ممانعت نه دی راغلی، نوبیالهجي ته ناجائزویل اونورځني منعه کول هیڅ وجه نه لري، نوښه داده چي تجوید دتلاوت قرآن حسن دی، همدا ول لهجه دتجوید حسن دی. احقرمدني(۳) نوکله چي یوااوازهم له قواعدوموسیقیه و وڅخه وتلای نه سي، بیاداویل چي دموسیقی یو اثرهم په کي رانسي، یوبي فایدي کوشش دی، قاري ته داپکاردی چي دتجویدد قواعدوپابندسي، اودعربي لهجي اهتمام دي کوي. احقرمدني

# ﴿ضَمِيْمَه، بَابُ التَّكْبِيْر، فوايد مكيه﴾

دختمِ القرآن په وخت كي له سورة وَالضُّحٰى څخه دقرآن كريم تراخره پوري دهرسورة په اخركي تكبير، يعني اَللهُ اَكْبَرُ ويل استحبابًا على وجه التخير بناءً على ذكر جليل، او مسنون كيدلو دټولو قراء مكه وو معمول دى، كه څه هم دتكبير حديث مرفوعًا مسلسل بالامر يوائي له احمد بزّي څخه بي له اختلافه منقول دى، چي هغه دابن كثيرر راوي دى، ليكن په سبب دمسنون كيدلو قولًا او فعلًا دټولو قراوو دپاره مشايخو خوښ كړى دى، لكه څنګه چي په كتاب غيث النفع فى القرائات السبع مطبوعه مصر صفحه ٢٨٧ كي دي وقد اتفقت الحفاظ الذهبي وغيره بان حديث التكبير لم يرفعه الى النبي صلى الله عليه وسلم الا البزي فروينا عنه باسانيدٍ متعددةٍ انه قال سمعت عكرمة ابن سليمان يقول قرأت على اسماعيل بن عبد الله المكي فلما بلغت والضحٰى قال لي كبِّر عند خاتمة كل سورة حتى تختم واخبره انه قرأ على مجاهد فامره بذالك واخبره مجاهد ان ابن عباس امره بذالك واخبره ابن عباس رض ان اُبى ابن كعب امره النبي صلى الله عليه وسلم بذالك ورواه ابو عبد الله الحاكم فى مستدركه على الصحيحين عن ابن يحيٰى محمد بن عبد الله بن يزيد الامام بمكة عن محمد على ابن زيد الصائغ عن البزي وقال هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجه البخاري ولا مسلم واما غير البزي فانما رووه موقوفا عن ابن عباس رض ومجاهد انتهى، ترجمه: يعني بيشكه حافظ ذهبي وغيره په دي باندي اتفاق كړى دى، چي حديث دتكبير سوا له بزي څخه بل چا تر نبي صلى الله عليه وسلم پوري نه دى رسولى، نو موږ روايت كوو له بزي څخه په ډيرو سندونو سره، ويلي دي بزي چي ما له سليمان ابن عكرمه څخه اوريدلي دي، هغه وايي چي ما د اسماعيل ابن عبد الله مكي څخه قرآن ويلو، كله چي زه سورة وَالضُّحٰى ته ورسيدم نو ماته يي وويل دهر سورة پر ختميدلو باندي تكبير وايه دقرآن تر ختميدلو پوري، او عبد الله ابن كثير رح وويل چي ما قرآن اوروَلو مجاهد رح ته نو مجاهد رح راته دتكبير ويلو حكم وكړو، او اُبى ابن كعب رح وايي چي زه نبي كريم صلى الله عليه وسلم په تكبير ويلو سره امر كړم، او ددي حديث روايت ابو عبد الله الحاكم په خپل كتاب مستدرك كي كړى دى، او له بزي څخه سوا چي دكومو نورو خلكو څخه دتكبير روايت دى، هغه تر ابن عباس رح او مجاهد رح پوري موقوف دى، او دتكبير سبب دبعضو په نزد دا دى چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه تر يو څه مودي پوري وحي قطعه سوه، دهغي له وجي منافقانو په طعن ويلو سره شروع وكړه، چي محمد صلى الله عليه وسلم خپل رب پري ايښى دى، او ور څخه ناراضه دى، كله چي له انتظار څخه وروسته و الضّحٰى نازل سو، نو نبى صلى الله عليه وسلم دسورة له ختميدلو وروسته دشكر په طور اَللهُ اَكْبَرُ وويلو، او يو قول دا دى، چي په دي سورة كي د الله پاك له طرف څخه دبعضو داسي خاصو نعمتونو تذكره او وعده سوي ده چي دهغوى شان ډير لوى دى، خاص بيا دا اٰيت ،وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى، په دي اٰيت كي دداسي نعمت وعده سوي چي

ترتيولو نعمتونو زيات دى رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته، ځکه چي سبب د رضا او سلو ۱۰۰ خوشحاليو دى نو د دي نعمتونو په شکريه کي له ډيري خوشحالى څخه هغوى ص د سورة په ختميد لو کي اَللهُ اَکبَرُ وايو، همدا ډول د وحيِ د تاخير په اسبابو کي مختلف او متعدد اقوال دي، چي د هغو تفصيل په لويو کتابو کي مو جود دى، د لته هم دومره اختصار کافي دى، او لکه څنګه چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم و جبرآئيل عليه السلام ته د قرائت په اخير او اول کي تکبير ويلى وو، له دي وجي د تکبير تعلق د سورة له اول او اخر دواړو سره دى، نو په دي وجه د قراوو يو جماعت وايي چي د تکبير ابتداء د وَالضُّحٰى له اخر څخه ده، او انتهٰى يي د سورة الناس په اخر باندي ده، او يو څه خلګو د اَلَمْ نَشْرَحْ له اول څخه، او يو څه خلګو بيا د وَالضُّحٰى له اول څخه د تکبير ابتداء منلي ده، همدا ډول د تکبير انتهاء د بعضو په قول د اَلنَّاسِ پر اول باندي، او د بعضو په قول د النّاس پر اخر باندي ده، او پر طريقه د ابن حباب له تهليل يعني لا اِله الا الله سره هم تکبير زيات کړى سوى دى، او د ابو طاهر عبد الواحد او ابن صباح په طريق سره د تحميد يعني وَلِلّٰه الحمد زياتوالى هم د تکبير په اخر کي ثابت دى، يعني لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ، د تهليل زياتوالى بي له تحميد څخه هم درست دى، ليکن يوازي د تحميد زياتوالى بي له تهليل څخه روانه دى، نو د تکبير او بِسْمِ اللهِ د وصل او فصل په اعتبار سره ضربي وجي اته راوځي، چي هغه لاندي ليکلي دي، (۱) د اول سورة له اخري اٰيت څخه د تکبير جلا والى، او له بسم الله سره د تکبير وصل او د بسم الله وصل له دويم سورة سره، مثلا وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ، اَللهُ اَكْبَرُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَمْ نَشْرَحْ، (۲) د اول سورة پر اخري اٰيت باندي وقف او له بِسْمِ الله سره د تکبير وصل، او د بِسْمِ الله فصل له دويم سورة څخه، مثلا فَحَدِّثْ، اَللهُ اَكْبَرُ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، اَلَمْ نَشْرَحْ، دا دواړه وجي د دي احتمال لري چي تکبير د سورة د شروع د پاره دى (۳) د اول سورة له اخري اٰيت سره د تکبير وصل، او له بِسْمِ الله څخه د تکبير فصل، او د بِسْمِ اللهِ وصل له دويم سورة سره، مثلا فَحَدِّثْ اللهُ اَكْبَرُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَمْ نَشْرَحْ (۴) دا دواړه وجي پر دي تقدير باندي دي چي د تکبير تعلق د سورة له اخر سره دى (۵) له اول د سورة سره د تکبير وصل او د تکبير وصل له بسم الله سره او د بسم الله وصل له دويم سورة سره مثلا فَحَدِّثْ اللهُ اَكْبَرُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَمْ نَشْرَحْ (۶) د اول سورة قطع له تکبير څخه او د تکبير قطعه له بسم الله څخه او د بسم الله وصل له دويم سورة سره مثلا فَحَدِّثْ، اَللهُ اَكْبَرُ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلَمْ نَشْرَحْ (۷) د اول سورة قطع له تکبير څخه او د تکبير قطع له بِسْمِ الله څخه او د بِسْمِ الله قطع له دويم سورة څخه مثلا فَحَدِّثْ، اللهُ اَكْبَرُ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، اَلَمْ نَشْرَحْ په دي دري وجو يعني ۷، ۶، ۵، کي د تکبير د تعلق احتمال له دواړو سورتونو سره کيداى سي (۸) د اول سورة وصل له تکبير سره او د تکبير وصل له بِسْمِ الله سره او د بِسْمِ الله فصل له دويم سورة سره مثلا فَحَدِّثْ الله اَكْبَرُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، اَلَمْ نَشْرَحْ، دا اتمه وجه نه دى روا، ځکه چي په دي کي د بِسْمِ الله تعلق په اول سورة سره معلوم سي، له سورة وَالضُّحٰى څخه تر سورة ناس پوري چي د کومو سورتونو په اخر کي حرف ساکن دى، نو نمبر ۳، ۵، په دي دريو وجو کي

به دغه ساکن حرف ته کسره ورکوو، او د اسم الجلاله له لام سره به يي يو ځای وايو، او همزه وصلي به د درج کلام په وجه غورزول کيږي، مثلاً فَحَدِّثْ اللهُ اَكْبَرُ، فَارْغَبِ اللهُ اَكْبَرُ كُفُوًا اَحَدُنِ اللهُ اَكْبَرُ، تَوَّابَانِ اللهُ اَكْبَرُ، او که چيري د سورة په اخر کي متحرک حرف وي، نو هغه به له هم هغه حرکت سره د تکبير په اسم الجلاله کي يو ځای کړی سي، مثلاً بِاَحْكَمِ الحَاكِمِينَ اللهُ اكبر، ليکن که چيري اخري حرف های ضمير موصوله وي، نو د هغي صله به حذف کړي سي، مثلاً لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ اللهُ اَكْبَرُ، شَرًّا يَّرَهُ اللهُ اَكْبَرُ، او که چيري د بعضو په قول تهليل او تحميد هم له تکبير سره زيات کړل سي، نو بيا د اولي سورة اخري حرف که چيري تنوين وي، نو د تنوين ادغام به په لام نافيه کي وکړل سي، مثلاً كُفُوًا اَحَدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ، او په باقي سورتونو کي به ساکن پر سکون وي، او متحرک پر هغه حرکت، هيڅ تغير به نه کي کيږي، او د های ضمير صله به هم باقي وي، او څنګه چي د سورة ليل په اخر باندي د يو چا په نزد تکبير نسته، د دي د پاره د سورة ليل او سورة ضحٰی په مينځ کي به صرف پنځه وجي جائز وي، او دوي وجي نمبر ۳، او ۴، چي د سورة د اخر د پاره د تکبير احتمال دی دا به نا جائز وي، او همدا د اول د سورة الناس او سورة فاتحي په مينځ کي به پنځه وجي وي، او دوي وجي نمبر ۱، او ۲، به يي نه وي جائز، ځکه چي دا د واړه له اول سورة سره احتمال لري، او د سورة فاتحي په اول کي د يو چا په قول سره تکبير ثابت نه دی، علامه شاطبي رح چي د سورة ليل اخر ويلی دی له هغه څخه هم د سورة والضحٰی اول مراد دی، لکه څنګه چي سراج القاري شرح شاطبيه صفحه ۱۵۳ کي دی، او بعضي اهل الاداء وصل د تکبير په اخر سورة د والليل يعني له اوله د سورة والضحٰی، او د تهليل په اول کي چي کله مد منفصل دی، نو د کومو په روايت کي چي صرف قصر دی، د هغو د پاره توسط هم کيدای سي، مبالغة للنفي، که چيري په تکبير والا سورتو کي په کوم سورة باندي د قرائت قطع کولو اراده وي، نو د سورة په اخره کي دي هم تکبير و وايي، او که چيري بيا د را تلونکي سورة څخه ابتداء کوي نو صرف استعاذه او بسمله دي و وايي، تکبير دي نه وايي، په دي شرط چي د سورة د اخر په احتمال باندي يي تکبير ويلی وي، او که چيري د سورة د اول په احتمال يي تکبير ويلي وي، نو د قرائت قطع کولو په وخت دي په اخر د سورة باندي تکبير نه وايي، او که چيري بيا د را تلونکي سورة څخه ابتداء کوي نو د استعاذي او بِسْمِ اللهِ په مينځ کي دي تکبير وايي.

## ﴿الحال المرتحل﴾

يعني ديوه قرآن مجيد له ختمولو څخه وروسته في الحاله بل قرآن مجيد بي له فصله شروع کول، په غيث النفع في القرءٰت السبع مطبوعه مصر صفحه ۳۰۲ کي داسی راغلي دي، فقد روي عن المكي من طريق درباس مولیٰ ابن عباس رض عن عبد الله ابن عباس رض عن أبي ابن كعب رض عن النّبي ص انه كان اذا قرأ قل اعوذُ بِربِّ النّاس افتتح من الْحَمْدُ هم قرأ من البقرة الى وَاولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ثم دعاهم ثم قام، وروي مسند او مرسلا ان رجلا قال للنّبي ص اَيّ العمل احب الى الله تعالى قال الحال المرتحل وهو على حذف مضاف اى

عمل الحال ،وروي مسندا ومفسرا عن ابن عباس رض بلفظ ان رجلا قال یارسول اللہ ص اَیّ الاعمال افضل قال علیک بالحال المرتحل قال صاحب القرآن کلما حل ارتحل ای کلما فرغ من ختمه شرع فی اخرٰی شبه بمسافر اذا فرغ من سفره وحل منزله ثم ارتحل بسرعة لسفر اٰخر ،ترجمه :بیشکه روایت سوی دی له عبد الله ابن کثیر مکي څخه په طریق د درباس چي د ابن عباس رض ازاد کړی سوی غلام دی،له عبد الله ابن عباس څخه رٔوایت کوي هغه بیا له اُبی ابن کعب رض څخه چي کله به نبي کریم ص قرآن ختمولو وسورة ناس به یی ویلو نو بیا به یي فاتحه او سورة بقره تر مفلحون پوري افتتاح اویله،بیا یي دعاء وغوښتله او ولاړسو ،او مسند په مر سل طریقي سره روایت کړی دی چي یو چا له رسول الله ص څخه پوښتنه وکړه چي الله پاک ته کوم یو عمل محبوب دی نو هغوی وویل چي حال مرتحل یعني عمل د حال مرتحل،او په مسنده او مفسره طریقه سره له ابن عباس رض څخه روایت کړل سوی دی،چي یو سړي وویل یا رسول الله ص کوم یو عمل غوره دی هغوی وویل چي لازم دی پر تا باندي حال مرتحل هغه سړي وویل چي حال مرتحل څه شی دی،هغوی وویل چي د قرآن مجید ویونکی چي کله یو قرآن ختم کړي نو د ویم قرآن شروع کړي د دي مثال د هغه مسافر په شان دی چي هغه له خپل سفر ختمولو او د قیام په ځای کي له کښته کیدلو او رسیدلو څخه وروسته فی الحاله د بل سفر تیاری وکړي،او روان سي،او په کتاب اتحاف فی القرائات الاربعة عشر مطبوعه مصر صفحه ۲۹۷ کي دي، واصل هذا الحدیث فی جامع الترمذي من حدیث صالح المري عن قتادة عن زرارة عن ابن عباس قیل یا رسو ل الله ص ای العمل احب الی الله تعالی قال الحال المرتحل ،ورواه ابو الحسن ابن غلبون وزاد فیه یارسول الله ما الحال المرتحل قال فتح القرآن وختمه صاحب القرآن یضرب من اوله الی اخره ومن اخره الی اوله کلما حل ارتحل الخ،ترجمه :او د دي حدیث اصل په جامع ترمذي کي د صالح مري حدیث دی،چي هغه روایت کوي له قتاده څخه او قتاده له زراره څخه هغه له ابن عباس رض څخه هغه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه چي یو چا پوښتنه وکړه له نبي ص څخه چي ای د الله پاک رسوله کوم یو عمل الله پاک ته محبوب دی،هغوی ص وویل چي حال مرتحل ،او همدا حدیث له ابو الحسن ابن غلبون څخه روایت سوی دی سره له زیادته د دي لفظ چي ای نبي کریم ص حال مرتحل څه شی دی،هغوی ص وویل چي د صاحب القرآن قرآن شروع کول او ختمول اوله اوله څخه تر اخره پوري اوله اخره تر اوله پوري ،کوم عبارات چي پورته بیان سول د هغو خلاصه داده چي له قرآن مجید ختمولو څخه وروسته فوراً په هم دغه جلسه کي بي له قطعي کولو د قرائت بل قرآن شریف شروع کړل سي ،یعني سورة فاتحه او د سورة بقري یو څو ایاتونه دي تر اُولٰٓئِکَ ھُمُ الْمُفْلِحُوْنَ پوري وویل سي،دیته احب الاعمال او افضل الاعمال ویل سوي دي،د اهم پر طریقه د استحباب دی،واجب نه دی،او په دي باندي عمل کول افضل او بهتر دی.

## ﴿تکرار سورة اخلاص فی التراویح﴾

په اوس وخت کي د هندوستان او پاکستان او نورو اکثرو ښارو کي د ارواج جوړسوی دی،چي په تراویحو کي د ختم قرآن پر ځای باندي سورة اخلاص دري واره ویل کیږي،او حال دا چي د تجوید او قرائت له اکثرو کتابو



Maktaba Tul Ishaat.com

ښخه ددي ترک بهترا واولی معلومیږي، لکه څنګه چي په اتحاف مطبوعه مصر صفحه ۲۷۹ کي دي، واماما اعتید من تکرار سورة اخلاص ثلاث مرات فقال فی النشر انه لم یقرأبه ولانعلم احدا نص علیه من القراء والفقهاء سوی ابی الفخر حامد ابن علی ابن حسنویه القزوینی فی کتاب حلیة القراء فانه قال فیه القراء کلهم قرؤا سورة الاخلاص مرة واحدة الا الهروانی بفتح الهاء والراء عن الاعشی فانه اخذ باعادتها ثلاثا والماثور مرة واحدة قال اعنی صاحب النشر والظاهر ان ذالک کان اختیارا من الهروانی فان هذا لم یعرف فی روایت الاعشی ولاذکره احد من علمائنا وقد صار العمل علي هذا في کثیر البلاد عند الختم والصواب ماعلیه السلف لئلا یعتقد ان ذالک سنة ولهٰذا نص ائمة الحنابله علی انه لاتکرار سورة الصمد قالوا وعنه یعنون احمد لایجوز انتهی کلام النشر، قیل والحکمة فیه ماورد انها تعتدل ثلث القرآن فیحصل به ثواب ختمه فان قیل کان ینبغي ان تقرأ اربعا لیحصل ختمان والجواب ان المراد ان یکون علی یقین من حصول ختمة لما التي قرأها اماالتي حصل ثوابها بتکریر السورة فهو جبر لما لعله حصل فی القرآن من خلل انتهی، ترجمه: یعني داکوم چي دسورة اخلاص ددري واره ویل عادت جوړسوي دي، نو دهغي متعلق یې په نشر کي ویلي دي، چي داسي نه دي ویل سوي او نه کوم قاري یا فقیه، په دي سره یو چا تصریح نه دی کړي، سواله ابو الفخر حامد ابن علي حسنویه قزویني ښخه چي هغوی په کتاب حلیة القراء کي ویلي دي چي ټولو قاریانو سورة الاخلاص یو واروېلی دی، سواله هرواني ښخه چي هغه په روایت داعشی په دري واره ویلو سره اخذ کړی دی، حال داچي منقول هم یو واردی، اوصاحب دنشر ویلي دي، داښکاره ده چي دا طریقه یو اخي هرواني خوښه کړي ده، ځکه چي دا داعشی په روایت کي مشهوره نه سوه او نه زموږ په عالمانو کي داچا ذکر کړي ده، او په ډیرو ښارونو کي دختم قرآن په وخت کي په دي باندي عمل جاري دی، خو صواب هغه ده چي هغه دسلفو عمل دی، له دي وجي چي ددي دسنت والي اعتقاد و نه سي، نو له دي وجي دحنابله وو ائمه وو تصریح کړي ده چي سورة اخلاص دي مکرر نه وایي هغوی ویلي دي چي دا امام احمد رح ښخه روایت دی چي دا جائز نه دی. دنشر کلام ختم سو. بعضو ویلی دي چي په دي کي حکمت دادی چي دا سورة دقرآن دیو ثلث برابر دی لکه څنګه چي داسی راغلي دي، او په دي سره دیوه ختم ثواب میلاویږي، که څوک دا و وایی چي بیا دي څلور واره وویل سي چي ددوو ختمو ثواب ملاو سي، ددي جواب دادی چي دیوه ختم ثواب یقیني دی هغه لره چي ویلي یې دی، او دسورة مکرر ویلو چي کوم ثواب حاصل سوی دی، هغه دهغه نقصان دپاره جبیره ده چي دقرآن په ویلو کي څه خلل راغلی وي انتهی، نو له پورته عباراتو ښخه دا ښکاره سوه چي په تراویحو کي دختم قرآن په وخت کي سورة اخلاص هم یو وار ویل بهترا و اولی دی، دپاره ددي چي دا شبه و نه سي چي دري واره ویل یې سنت دي. والله اعلم

## ﴿هدایة العباد الی حقیقة النطق بالضاد﴾

څه فرمایي علماء کرام او قراء عظام په دي مسئله کي چي دحرف ضاد صحیح تلفظ څه دی او ددي دادا کولو معتبره طریقه څه ده، او دصحیح ضاد په اواز کي له ظاء سره مشابهت پیدا کیږي او که له دال مهمله سره، او که



Maktaba Tul Ishaat.com

په ځای د مشابهت بالظاء خالصه ظاء یا خالص دال مهمله مرققه یا مفخمه وویل سي، نو په کوم صورة کي به لمونځ فاسدیږي، او دعوامو دپاره کوم یو تلفظ دلمانځه دصحت دپاره ضروري یا بهتره او مناسب دی، او ضاد له ظاء څخه ممتاز اداکول دعوامو دپاره محل دتکلیف دی او که نه، بیّنوا وتوجّروا.

## ﴿الجواب وهو الموفق للحق والصواب﴾

له جواب څخه مخکي تمهیداً اول دیو څو ضروري خبرو پیژندل پکار دي، ددي دپاره چي دجواب په پوهیدلو کي سهولت او اساني وسي، (۱) د اهل فن حضراتو څخه دا خبره پټه نه ده چي په دوو حرفو کي دتشابه سبب دمخرج اشتراک وي، یا دصفاتو اشتراک، نو چي کوم حرف له بل حرف سره ذاتاً او وصفاً څومره متحد وي هغو مره به سره نژدي او مشابه وي، وروسته ددي مسلمه قاعده داده چي دضاد تقابل حروف، او تشبیه صوت له ظاء، ذ، ز، او له دال مهمله سره کول پکار دي، نو په دي څلورو حروفو کي چي کوم یو حرف له، ض، سره په اکثرو صفاتو کي متحد او شریک وي، هغه به په صحیح معنی کي دضاد مشابه منل کیږي، دلاندیني نقشي له ملاحظي کولو وروسته دا مسئله په صفا ډول سره په پوه کي راتلای سي.

(نقشه)

| حروف | مخارج | صفات |
|---|---|---|
| ض | دژبي بغلي کناره او دژبي پورتني غاښونه | جهر، رخاوت، استعلاء، اطباق، استطالت |
| ظ | دژبي څوکه او دثنایا علیا غاړه | = = = = = = = |
| ذ | = = = = = = = | جهر، رخاوت، استفال، انفتاح |
| ز | دژبي څوکه او دثنایا علیا لاندیني غاړه سره له اتصال دثنایا علیا | جهر، رخاوت، استفال، انفتاح، صفیره |
| د | دژبي څوکه او دثنایا علیا بیخ | جهر، شدت، استفال، انفتاح، قلقله |

له دي نقشي څخه معلومه سوه چي ضاد په اعتبار دمخرج او استطالت سره له دي څلورو حروفو څخه مختلف دی، پاته سو باقي صفات نو له دال مهمله سره یوائې په صفت دجهر کي متحد دي، او په باقي صفاتو شدت، استفال، انفتاح، قلقله، کي مختلف دی، او له، ذ، ز، سره په جهر، رخاوت، کي شریک دی، په باقي صفاتو، استفال، انفتاح، کي مختلف دی، لیکن له، ظ، سره په جهر، رخوت، استعلاء، اطباق، څلورو صفتونو کي شریک دی، حاصل یي دا سو چي ضاد، له، دال، مهمله سره دیوه صفت جهر داتحاد په وجه سره ډیر په کمه درجه کي مشابهت دی، له دي وجي دضاد جلاوالی له دال مهمله څخه ډیر اسانه دی، همدا ډول له، ز، سره یي معمولي مشابهت دی، او په وجه دصفت صفیر له، ز، څخه جلاوالی یي اسانه دی، او همدا ډول له، ذ، سره یي په وجه داتحاد دصفت جهر او رخوت مشابهت سته لیکن په وجه داختلاف استعلاء او اطباق ضاد له، ذ،



Maktaba Tul Ishaat.com

څخه جلاکول په اسانی سره ممکن دی، اوس دضاد دمشابهت کامله دارمدار داکثرو صفاتو داتحاد په وجه له ،ظ، سره پاته کیږي، په همدي وجه دمجودینو حضراتو په نزد په دي دواړو حروفو کي امتیاز ډیر سخت او مشکل ګنړل سوی دی، او حضراتو علماو و فقهاوو دا په فصل باالمشقه سره تعبیر کړی دی، لکه څنګه چي له راتلونکو عباراتو څخه معلومیږي، (۲) په عام طور سره یوه غلطي دامشهوره سوي ده چي عوام حرف ،ظ، هم غلط اداکوي، یعني د ،زای، مفخمه یازای مخلوط باالواو تلفظ د ،ظ، اداکیدلو ګنړي، نو نتیجه دا راووته کله مشبه به غلط سو، نو په مشبه کي دصحت مشابهت ته هیڅ صحیح معیار پاته نه سو. (۳) که چیري دعوا مو دپاره ،ض، له ،ظ، څخه ممتاز اداکول په محل دتکلیف کي وای، نو دټولو څخه مخکي دنبي کریم ص یا صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په زمانه کی دا سوال پیدا کیدل پکار وو، چي کله غیر له عربو عجمي خلګ په اسلام کي داخلیدل او دهغوی په ژبه کي دا حرف نه وو، او دا مسلمه ده چي هغه وخت دا سوال نه وو پیدا سوی (۴) او بعضي خلګ داوس وخت دعربو دتلفظ مشابه باالدال مهمله په دلیل کي پیش کوي او حال دا چي دعجمو داختلاط اثراتو څخه عوام بلکه بعض عرب هم چي هغه په کثرت سره مخلوط النسب دي متعدد حرفونه لکه ،ث، او ق، هم دغلط ویلو عادي سوي دي، نو په دي صورت کي بقاعده غلط العوام فصیح دهغوی دغلط تلفظ دحجت قابل دی او که نه (۵) لکه څنګه چي دضاد دصحیح تلفظ په کافي مهارت او پوره مشق باندي موقوف دی همدغه شان دضاد صحیح احساس او ادراک هم کافي سماعت باندي منحصر دی، اوس له دي تمهیدي مضمون څخه وروسته اصل مسلي طرفته توجه کول پکار دي چي عالمانو دقرائت او فقهاوو دامت په دي مسئله کي څه فیصله کړي ده، کتاب النشر مطبوعه دمشق صفحه ۲۱۹ کي دي ،والضاد انفرد باالاستطالت ولیس فی الحرف مایعسر علی اللسان مثله فان السنة الناس فیه مختلفة وقل من یحسنه فمنهم من یخرجه ظاء ومنهم من یمزجه باالدال المهملة ومنهم من یجعله لامًا مفخمة ومنهم من یشمه الزای وکل ذالک لایجوز انتهی، ترجمه: او حرف ضاد ځان ته جلا دی په صفت استطالت کي او په ژبه باندي هیڅ یو حرف دده په شان ګران نسته ،نو دخلګو ژبي دده په اداکولو کي مختلفي دي، او داسي خلګ کم دي چي دا په ښه طریقه سره اداکوي، بعضي خلګ داسي دي چي دضاد په ځای ،ظ، او باسي، او بعضي داسي دي چي له دال مهمله سره یي ګډ کړي، ممزوجه یي وایي، او بعضي داسي دي، چي لام مفخم ورڅخه جوړ کړي، او بعضي داسي دي چي په ده کي د ،ز، خلط کوي، او داټول ناجائز دي، او علامه محمد مکي په خپل کتاب رعایه باب الضاد صفحه ۴۵ تا صفحه ۴۶ مطبوعه محبوب المطابع دهلي کي فرمایي: الضاد تخرج من مخرج الرابع من مخارج الفم تخرج من اول حافة اللسان ومایلیه من الاضراس وهو حرف قوی لانها مجهور مطبق من حروف الاستعلاء وفیه استطالة وله صفات قد تقدم ذکرها والضاد یشبه لفظها بلفظ الظاء لانها من حروف الاطباق ومن حروف المستعلیه ومن الحروف المجهورة ولولا اختلاف المخرجین ومافی الضاد من الاستطالة لکان لفظها واحدا ولم یختلفا فی السمع فیجب علی القاري ان



Maktaba Tul Ishaat.com

يتلفظ بالضاد واذاكان بعدها الف بالتفخيم البين كما يلفظ بها اذا يحكي الحروف فيقول صاد ضاد ولابد له من التحفظ بلفظ الضاد حيث وقعت فهو امر يقصر فيه اكثر من رايت من القراء والائمة لصعوبته على من لم يدربه فلابد للقاري المجود ان يلفظ بالضاد المعجمه المفخمة مستعليه مطبقه مستطيلة فيظهر صوت خروج الريح عند ضغط حافة اللسان لما يليه من الاضراس عند اللفظ بها ومتى فرط فى ذالک اتى بلفظ الظاء وبلفظ الذال فيكون مبدلا ومغيرية فالضاد اصعب الحروف تكلفا في المخرج واشدها صعوبة على اللافظ فمتى لم يتكلف القاري اخراجها على حقها اتى بغير لفظها واخل بقراته ومن تكلف ذالک وتمارى عليه صارله التجويد يلفظها عادة وطبعا وسجية انتهى ،ترجمه: د خولي په مخارجو كي ټلورم مخرج د ژبي د غاړي شروع او د زامي غاښونو د بيخونو څخه ضاد اوځي، او دا قوي حرف دى ،ځكه چي دى مستعليه ،مجهوره،مطبقه دى، او په ده كي استطالت صفت دى، او د ده څه صفتونه مخكي بيان سوي دي، او د ضاد تلفظ له،ظ،سره مشابه دى ځكه چي ،ظ،مطبقه ،مستعليه،مجهوره ده كه چيري په ضاد او،ظ،كي د مخرج اختلاف نه واى، او په ض،كي استطالت صفت نه واى ،نو دواړو تلفظ به يو وو، او په اوريدلو كي به مختلف نه وو،وروسته پرقاري باندي لازم دى چي كله له ضاد څخه وروسته الف راسي ،نو ضاد تلفظ دي صفا په تفخيم سره وكړي، لكه څنګه چي مفرد حرفونه اداكوي، نو وو ايي صاد ضاد، او د قاري دپاره ضروري دى چي چيري ضاد راسي، نو د هغه په اداكولو كي دي احتياط څخه كار اخلي، وروسته دا يو داسي مرحله ده چي ما اكثر قراء او امامان په دي كي په كوتاهي كولو باندي ليدلي دي، د دي د ګران والي په وجه، خصوصا د هغه سړي دپاره چي هغه د دي مهارت هم نه لري ،وروسته قاري مجود دپاره دا ضروري دى، چي ضاد معجمه په تفخيم او استعلاء او اطباق او استطالت سره اداكړي، د داسي اداكولو په وخت كي چي كله د ژبي كناره د زامي له غاښونو سره ولګيږي، نو يو لطيف اواز به ظاهر سي، او كله چي په دي كي تفريط وكړي، نو د ضاد تلفظ به له ،ظ ،يا له ،ذ،سره بدل سي، بيا ضاد د مخرج د اهميت په وجه سره له مشكل ترينو حروفو څخه دى، او اداكونكي دپاره د ګران والي په اعتبار سره سخت دى، نو كه چيري قاري د ده په اداكولو كي كما حقه اهتمام و نه كړي، نو د دي خلاف تلفظ به وكړي، او په خپل قرائت كي به خلل كونكى سي، او كوم سړى چي دا په اهتمام سره اداكوي، او څه مودي پوري د دي مواظبت وكړي، نو د هغه دپاره به د ضاد تجويد اسان او عادت به يي سي. او په قول المفيد فى علم التجويد مطبوعه مصر صفحه ۷۱ تا صفحه ۷۲ كي دي، قال ابن الجزري فى التمهيد اعلم ان هذا الحرف ليس فى الحروف حرف يعسر على اللسان غيره فان السنة الناس فيه مختلفة وقل من يحسنه فمنهم من يخرجه ظاء معجمه لانه يشارک الظاء فى صفاتها كلها الا الاستطالة واختلاف المخرجين لكانت ظاء وهم اكثر الشاميين وبعض اهل المشرق وهذا لايجوز فى كلام الله تعالى لمخالفة المعنى الذي اراد الله تعالى اذا قرء فى الضآلين الظالين بالظاء المعجمه لكان معناه الدائمين وهذا خلاف مراد الله تعالى وهو مبطل للصلوٰة لان الضلال بالضاد هو ضد الهدى كقوله ضل من تدعون الا اياه ولا الضالين و



Maktaba Tul Ishaat.com

نحوه والظلال باالظاء هو الصيرورة كقوله ظل وجهه مسودًا وشبهه فمثال الذي يجعل الضاد ظاء في هذا شبه كالذي يبدل السين صاد في نحو قوله واسروا النجوٰى او يبدل الصاد سينا نحو قوله وَاَصرّوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فالاول من السر والثاني من الاصرار وقد حكى ابن جني في كتابه التنبيه وغيره ان من العرب من يجعل الضاد ظاء مطلقا في جميع كلامهم وهذا غيريب وفيه توسع للعامة ومنهم من لايوصلها الى مخرجها بل يخرجها دونه ممزوجة باالطاء المهمله لايقدرون على غير ذالک وهم اكثر المصريين وبعض اهل المغرب ومنهم من يجعلها دالا مفخمة ومنهم من يخرجها لاما مفخمة وهم الزيالعه ومن ضاهاهم لان اللام مشاركه لها في المخرج لافي الصفات فهي بعكس الظاء لان الظاء تشارک الضاد في الصفات لافي المخرج انتهى.

ترجمه: ابن جزري په تمهيد كي ويلي دي، چي دا پيژندل پكار دي، چي هيڅ يو حرف په حرفونو كي پر ژبه باندي مشكل او گران نه دى سوا له ضاد څخه، او د خلكو ژبي په دي كي مختلفي دي، او داسي خلک كم دي چي دا حرف عمده او ښه اداكوي، او داسي خلک هم سته چي پر ځاى د ضاد ظاء وباسي، ځكه چي ضاد په ټولو صفاتو كي له ظاء سره شريكه ده، سوا له استطالت څخه، كه چيري استطالت نه وي نو دد واړو حروفو به په مخرج كي اختلاف نه وي، نو ضاد به ظاء وي، او دغه خلک د شام او مشرق اوسيدونكي دي، او دا د الله پاک په كلام كي جائز نه دى، په سبب د مخالفت د هغي معنى چي الله پاک د هغي اراده كړي ده، كه چيري مونږ د ضآلين پر ځاى ظالين يعني ظاء معجمه ووايو نو د دي معنى به دائمين سي، يعني هميشه اوسيدونكي، او له دي سره لمونځ باطليږي، ځكه چي ضلال يعني گمراهي د هدايت ضد دى، لكه دا قول د الله پاک، ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ الا ايّاهُ، وَلَاالضَّآلِيْنَ، وغيره او ظلال په، ظ، سره د دي معنى د صيرورة دى يعني كيدل لكه د الله پاک قول، ظَلَّ وَجْهُه مُسْوَدًا، او د دي په شان نور الفاظ، نو څوک چي په دي ځاى كي يا د دي په مثل په نورو ځايو كي د ضاد پر ځاى ظاء وايي، د هغه مثال د هغه سړي په شان دى، چي هغه سين په صاد سره بدلوي، لكه په اَسَرّوا النَّجْوٰى كي، يا صاد په سين سره بدلوي لكه په وَاَصَرّوْا وَاسْتَكْبَرُوْا، او داسي نورو ځايونو كي، نو اول له سِر څخه دى، او دويم له اصرار څخه دى، او ابن جني په خپل كتاب التنبيه كي بيان كړى دى، چي بعضي د عربو خلک داسي هم سته چي په خپلو ټولو خبرو اترو كي د ضاد پر ځاى ظاء وايي، او دا يوه عجيبه خبره ده، او په دي تغير ضاد باالظاء كي د عوامو د پاره وسعت دى، او بعضي خلک په دوى كي داسي دي چي ضاد خپل پوره مخرج ته نه رسوي بلكه په څه كموالي سره له طاء مهمله سره په خلط كولو سره يي وباسي، او له دي څخه په خلاف ايستلو باندي قدرت نه لري، هغه اكثره مصريان او اهل مغرب دي، او بعضي خلک له ضاد څخه دال مفخمه جوړ كړي، او بعضي خلک يي لام مفخمه اداكوي، او دا زِيالعه دي، يعني هغه خلک دي چي هغه د حبشو د طرف اوسيدونكي دي، كذافي القاموس، ځكه چي لام د ضاد شريک دى په مخرج كي، على قول غير الفراء، په صفاتو كي شريک نه دي، په خلاف د ظاء چي ظاء له ضاد سره په صفاتو كي شريكه ده په مخرج كي نه ده شريكه، له پورتنيو عباراتو څخه د تجويد د امامانو او قراوو مسلک ظاهر يدلو او انتهايي واضح كيدلو



Maktaba Tul Ishaat.com

څخه وروسته يو څو خبري معلومي سوي، اول، ضادله ظاء سره په اکثرو صفات ذاتيه وو کي داشتراک په وجه په مقابله د، ذال، زاء، منقوطه او دال مهمله زيات مشابه کيدل، دويم، دضاد ادا مشکله او سخته کيدل، دريم، په بعضو ځايونو کي دضاد پرځای ظاء ويلو کي په معنی کي تغيرراتلل، څلورم، دعوامو دپاره په وجه دتلفظ دګرانوالي دضاد پرځای دظاء ويلو وسعت، پنځم، دضاد دصحيح تلفظ اسانه طريقه، شپږم، دماهر قاري د پاره دضاد پرځای دباقي مشتبه الصوت حرفونه ويلو عدم جواز، اوس له دي څخه وروسته فقهاوو او دامت عالمانو چي په دي مسئله کي څه فيصله کړي ده هغه داده، فتح القدير للعلامه الکمال ابن الهمام الحنفي المتوفی ۸۶۱ هجري، شرح الهداية مطبوعه مصر صفحه ۱۸۱ واما الحروف فاذا وضع حرفا مکان غيره فاما خطاء واما عجز فالاصول ان لم يغير المعنى ومثله فی القرآن نحو ان المسلمون لاتفسد وان لم يغير وليس مثله فی القرآن نحو قيامين باالقسط والتيابين والحی القيام عند هما لاتفسد وعند ابی يوسف رح تفسد ان لم يکن مثله فی القرآن فلو قرأ الشعير بشين معجمة فسدت اتفاقا فالعبرة فی عدم الفساد عدم تغير المعنى ای عند الطرفين وعند ابی يوسف رح وجود المثل فی القرآن فلا يعتبر علی هذا ماذکر ابو منصور العراقی من عسر الفصل بين الحرفين وعدمه فی عدم الفساد ولاثبوته ولاقرب المخرج وعدمه کما قال ابن مقاتل ای محمد ابن مقاتل الرازی وهو من اصحاب الامام محمد ابن الحسن الشيبانی، انتهی، ترجمه: او کوم چي حروف دي نو که چيري ديو حرف پرځای يي بل حرف وويلو نوله دوو حالو څخه به خالي نه وي، يا به داسي کول غلطي او يا سهواً وي، يا به دمجبوری په وجه وي، لکه عدم قدرت په تلفظ صحيح سره، نو په دي کي اصل دادی چي که چيري معنی بدله سوي نه وي، او دهغي مثل په قرآن پاک کي موجود وي لکه ان المسلمون نو دټولو په نزد به لمونځ نه فاسديږي، او که معنی بدله نه سي ليکن دهغي مثل په قرآن کي موجود نه وي، نو دامام اعظم ابو حنيفه رح او امام محمد رح په نزد به لمونځ نه فاسديږي ليکن دامام ابو يوسف رح په نزد به فاسد سي نو که چيري داصحاب السعير، پرځای اصحاب الشعير، په شين معجمه سره وويلو، نو دټولو په نزد به فاسد سي، ځکه چي معنی هم بدله سوه، او ددي مثل هم په قرآن کي نسته، نو دطرفينو يعني امام اعظم ابو حنيفه رح او امام محمد په نزد دلمونځ په عدم فساد کي دعدم تغير دمعنی اعتبار کړل سوی دی، که هغه مثل په قرآن کي وي او که نه وي، او دامام ابو يوسف رح په نزد عدم تغير معنی سره دموجودوالي دمثل په قرآن کي هم دلمانځه په عدم فساد کي اعتبار کړل سوی دی، نو ددي قاعدي کلي پر بنا باندي چي کوم ذکر کړي دي ابو منصور عراقي يعني عسر الفصل بين الحرفين او ددي په عدم سره دلمونځ دفساد او عدم فساد متعلق وو نو ددي اعتبار به نه سي کولای، او نه ددي دثبوت او نه ددي دقرب مخرج او بعد مخرج، لکه څرنګه چي ويلي دي ابن مقاتل چي دامام محمد ابن الحسن الشيباني له اصحابو څخه دی، فتاوی قاضی خان معروف به خانيه برهامش فتاولی هنديه معروف به عالمګيري مصر صفحه ۱۳۰ جلد اول، کي دي، وان ذکرنا حرفا مکان حرف وغير المعنى فان امکن الفصل بين الحرفين

من غیر مشقة کالطاء مع الصاد فقرأ الطالحات مکان الصالحات تفسد عند الکل وان لم یکن الفصل بین الحرفین الا بمشقة کالظاء مع الضاد والصاد مع السین والطاء مع التاء اختلف المشایخ فیه قال اکثرهم لاتفسد صلوته انتهی .ترجمه: که یي چیري دیو حرف پر ځای بل حرف وویلو چي په هغي سره معنی بدله سوه نو که چیري په دغه دوو حرفونو کي فرق او امتیاز بغیرله مشقت څخه په اساني سره ممکن وي،لکه د طاء او صاد فرق ،لکه د الصالحات پر ځای الطالحات وویلي سي ،نو لمونځ به د ټولو په نزد فاسد سي، ځکه چي په دوی کي امتیاز اسانه دی، او که چیریي دوو حرفونو کي فصل کول بي له مشقت څخه ممکن نه وي لکه د ظاء ،ضاد ،فرق او د صاد ،سین ،فرق او د طاء او تاء ،فرق ،نو په دي کي د مشایخو اختلاف دی، اکثرو ویلي دي چي لمونځ نه فاسدیږي، او په فتاوی خانیه صفحه ۱۳۲ جلد اول کي دي، او الذلین بالذال او الظاء قیل لاتفسد لعموم البلوی فان العوام لایعرفون مخارج الحروف و کثیر من المشایخ کالام الصفار و محمد ابن سلمه افتوا به انتهی .ترجمه: که ذالین په ،ذ ،یا ظاء سره وویل سي نو داویل سوي دي، چي لمونځ نه فاسد کیږي، د عامي ابتلاء په وجه ،ځکه چي عوام د حروفو مخارج نه پیژني او اکثرو مشایخو لکه امام صفار او محمد ابن سلمه په همدي باندي فتوی کړي ده، او په خلاصة الفتوی المعروف به خلاصه للامام المجتهد فی المسائل طاهر ابن احمد البخاري الحنفي المتوفی ۵۲۲ هجري کي دي، ولو قرأ الضآلین بالظاء او الذال او الزاء لاتفسد ،که چیري الضآلین په ظاء یا زاء سره ووایي نو لمونځ نه فاسدیږي.

## ﴿خلاصه﴾

د تجوید امامانو او د علماوو له پورته عباراتو ذکر سویو اقوالو څخه صراحتا ،او په طور د استنباط د افیصله وسوه چي قاري ماهر د ضاد د صحیح تلفظ ضرور مکلف دی، او د ضاد په صحیح تلفظ کي به د ظاء مشابهت وي، او عوام د حروفو له مخارجو او صفاتو څخه خبر نه وي، لیکن څرنګه چي په ضاد او ظاء کي امتیاز کول د مشقت په درجه کي دی، د دي د پاره د عموم بلوی په لحاظ سره د ضاد پر ځای ظاء ویلو سره به د اکثرو فقهاوو په نزد لمونځ نه فاسدیږي، همدا مذهب او مسلک معتدل او خوښ دی، او په همدي باندي فتوی ده، والله اعلم .له دال مهمله څخه د ضاد جلا والی او امتیاز څنګه چي اسان دی، او د مشقت په درجه کي نه دی، په دي وجه د ضاد پر ځای دال مهمله مرققه یا مفخمه ویلو سره لکه څنګه چي په فتاوی خانیه کي دي، ولو قرأ الدالین بالدال تفسد صلوته، د اجزئیه صراحتا موجود ده نو د ټولو په نزد به لمونځ فاسدسي، او اوس د دي په اخره کي د حرمینو د قراوو استفتاء هم ملاحظه کړی چي د اعلام العباد په عنوان ۱۹۳۴ عیسوي کي اصح المطابع اسي پریس لکهنو کي چاپ سوي وه، او هغه داده



Maktaba Tul Ishaat.com

## ﴿استفتاء من علماء الحرمين الشريفين﴾

ماقول العلماء والقراء فی اداء الضاد المعجمة القرآنية هل هی شبیه فی الصوت والسمع باحد من الظاء المعجمه والدال المهملة والغین المعجمة ام لا، فان الناس فی دیارنا تفرقوا فی قرائتها علی ثلثة فرق احدها ینطق بها بصوت یکون کصوت الدال المهملة فی السمع فیقولون غیر المغدوب اونحوه مکان غیر المغضوب وثانیها یقرئها بحیث یسمع الغین والدال کلاهما فی ادائها فیقولون ولغدالین اوشبهه مکان ولاالضآلین، وثالثها یتلفظ بها بصوت یکون شبیها بصوت الظاء المعجمة الصحیحة فی السمع فقرائة ای فرقة من الفرق الثلثة المذکورة موافقة للحق والصواب، بینوا اداء الضاد الفصیحة بالتفصیل لعل الله یرفع الخلاف ببیانکم.

## ﴿الجواب من شيخ القراء بالمدينة المنوّرة﴾

بسم الله الرحمٰن الرحيم، الحمدلله وحده والصلوٰة والسلام علی من لانبي بعده، امابعد فان المؤمن اذا قال صدق واذا قيل له صدق واختلاف اهل الفضل بغير دليل قطعي من كتب المحققين زيغ وباطل والجدال بغير حق عاقبته الحسرة والندامة فاقول وانا الفقير الی رحمة ربه القدير حسن ابن ابراهيم المدرس بالحرم النبوي ص ان نهاية القول فی الضاد هو انها اقرب الی الظاء فقط كما فی الرعاية وجهد المقل وغيرهما فقرائة الفرقة الثالثة المذكورة فی الاستفتاء صحيحة واما كون الضاد شبيهة بالدال او الغين فما سمعنا به قط ولا وجد فی كتاب فمن صلّی خلف امام يعتقد ذالك فصلوتها باطلة والله علی مانقول وكيل كتبه بيده وقرء بلسانه حسن ابن ابراهيم المدرس بالحرم النبوي ص بالمدينة المنورة.

## ﴿الجواب من عُلماء مكّة المكرمة﴾

قل ان الهدیٰ هدی الله يهدي من يشآء الی صراط مستقيم وماكنا لنهتدی لولا ان هدانا الله فنقول ان الذی استقر عليه رأی جميع اهل الاداء فی كتبهم ان الضاد والظاء اتفقتا فی الاستعلاء والاطباق والتفخيم والجهر والرخاوت واختلفتا فی المخرج وانفردت الضاد بالاستطالة فاذا اعطيت للضاد حقها من مخرجها وصفاتها فقد اتيت بالصواب الذي لا محيد عنه عند علماء القرائة المتقنين وحينئذ يكون بها اثر شبه الظاء فی التلفظ كما فی نهاية القول المفيد وغيرها و اما كون الضاد قريبة من الدال والغين فی التلفظ فبعيد عن الحق، والله اعلم، كتبه احمد حامد عبد الرزاق احد القراء بمدسة الفلاح بمكة المكرمة ٢٥ ذی القعدة ١٣٥١ هجري مدير مدرسة الفلاح المركشي محمد طيب مدرس بمدرسة الفلاح.

## ﴿ترجمه، د حرمينو شريفينو له عالمانو څخه فتویٰ غوښتل﴾

د حرف ضاد ادا په باره کي د علماوو او قراوو څه ارشاد دی، ايا دا حرف په اواز او ريدلو کي له ظاء معجمه، دال مهمله، او غين معجمه کي د کوم يوه مشابه دی او که نه، ځکه چي زموږ د ملک خلګ د دي حرف د قرائت په باره کي په دري ډوله تقسيم سوي دي، په هغوی کي يوه ډله دغه حرف داسي اداکوي چي اوازيي په اوريدلو کي د دال مهمله له اوازسره مشابه وي، نو دا خلګ غير المغضوب غير المغدوب وايي، او بله ډله يي



Maktaba Tul Ishaat.com

# ﴿دتلاوت دسجدي متعلق فقهي مسائل﴾

دسجدي دا ياتو په ويلو او اوريدلو سره دتلاوت سجده واجبيږي، كه داوريدلو په قصد باندي ناست وي، يا بي له قصده يي واوري، له دي وجي دا پكار ده چي كراريي ووايي، ددي دپاره چي پراوريدونكي واجبه نه سي، دسجدي ايت خواكه ټول ايت ووايي، يا صرف هغه لفظ چي سجده ده او له هغه سره مخكي يو څه لفظ ملګرى كړي، او يا دسجدي ايت بعينه تلاوت كړل سي، يا دهغي ترجمه په بله ژبه وكړل سي، او كه تلاوت كونكى خپل قرائت اوري، او يا يي نه اوري، مثلاً كوڼ سړى تلاوت كوي، نو پر ويونكي باندي په دي ټولو صورتو كي سجده واجبيږي، شامي، په دي شرط چي ويونكى دلمانځه په حالت كي دبل چا مقتدي نه وي، هدايه صفحه ۱۴۲ جلد اول، دسجدي تلاوت كونكى كه چيري انسان وي نو پر اوريدونكي به سجده واجبه وي، كه پوره ايت ووايي يا يوائي دسجدي له لفظ سره يو لفظ دماقبل يا مابعد واوري، كه يي په عربي ژبه كي واوري او يا په بله ژبه كي، او اوريدوكى كه پوهيږي چي دا دسجدي ايت دى او كه نه پوهيږي، ليكن دنه پوهيدلو په صورت كي كه دسجدي په اداكي څه تاخيروسي په هغي كي به هغه معذور ګڼل كيږي، او كه له يو څناور طوطي وغيره څخه دسجدي ايت واوري، نو سجده به نه واجبيږي، او همدا خبره صحيح ده، دتلاوت سجده پر هغو خلګو واجب ده چي پر هغو لمونځ واجب دى، اداءً يا قضاءً، پر حايضه او دنفاس والا ښځه او نابا لغه باندي او ليوني باندي واجبه نه ده، هغه ليوني چي دليوتوب موده يي تر يوه شوارووزيات نه سي، له هغه وروسته كي يي ليوتوب ليري سي او كه نسي لري، او كه ليوتوب يو شوارووزيا تر يوه شوارووزلږ كم وو يا سجده واجبه ده، خواه كه هغه ويونكى وي او يا اوريدونكى، او همدا ډول دتلاوت سجده پر مست او جنوبه باندي هم واجبه ده، او كه چيري دسجدي دا ايت ويلو او اوريدلو په وخت كي يي اودس نه وي، نو بيا چي كوم وخت يي اودس وي سجده دي اداكړي، تاخيركول مكروه دى، كه دلمانځه په حالت كي دسجدي ايت تلاوت كړي نو هم هغه وخت دي سجدي ته ولاړسي، بيا دي له باقي قرائت ويلو څخه وروسته ركوع وكړي، كه فوراً سجده ونه كړي بلكه دسجدي له ايت څخه وروسته نور دوه يا دري اياتونه ووايي بيا سجده وكړي دا هم صحيح دى، ليكن تاخيرنه كول بهتر دى، او كه يي په لمانځه كي دسجدي ايت تلاوت كړو او له لمانځه څخه خارج يي سجده وكړه دا ادانه بلل كيږي، او كه چيري دسجدي له ايت ويلو سره يي فوراً ركوع وكړه او په ركوع كي دتلاوت دسجدي نيت وكړو نو هم به سجده اداسي ليكن كه چيري په جمعه سره يي لمونځ كولو نو امام او مقتدي دواړو ته دتلاوت دسجدي اداكولو مستقل نيت كول پكار دي، نو په داسي حالت كي امام ته دا پكار دي چي دلمانځه شروع كولو څخه مخكي دي مقتديانو ته خبرور كړي، خو بهترا و افضل په اجماع سره دا ده چي دتلاوت سجده دي دلمانځه دسجدي په هيئت كي اداكړي، كه نه نو دركوع دسجدي طريقه به په زيات رواج كولو سره له اصل طريقي چي هغه سجده په هيئت دسجدي دلمانځه ده دهغي دختميدلو او



Maktaba Tul Ishaat.com

متروک کيدلو احتمال دی، که دلمانځه په حالت کي د سجدي ايت واوري، که هغه په لمانځه کي وي او له لمانځه څخه خارج وي نو سجده دي له لمانځه څخه خارج اداکړي، که يي په لمانځه کي اداکړي نو ادا به نه سي گنهکار به سي، که چيري پريوه ځاى کښيني او ډير ځله د سجدي يو ايت و وايي نو صرف يوه سجده به واجبه سي، او که يي چيري د سجدي مختلف اياتونه وويل نو چي څومره اياتونه يي ويلي وي هغومره سجدي به پر واجبي سي، که يي چيري د سجدي ايت څو ځله تلاوت کړ او هر ځل به يي ځاى بدلولو نو چي څومره ځايونه يي بدل کړي وي، هغومره سجدي به وربانديواجبي سي، حاصل دادى د سجدي د ايت ويلو يا په اوريدلو سره که په هر حالت کي وي د تلاوت سجده واجبيږي، که يي په ټول عمر کي ادانه کړي، نو گنهکار به وي، سوا له هغو څو صورتونو چي د تلاوت سجده نه واجبيږي، د تفصيل د پاره د فقهي نور کتابونه وگورى دلته په مختصره ول سره بيان وکړل سو.

تَمّت بالخير

(وَاٰخِرُدَعْوَانَااَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قال النبي صلى الله عليه وسلم اِقْرَؤُا الْقُرْاٰنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ وَاَصْوَاتِهَا، صدق رسوله النبي الكريم.

ترجمه: تاسو قرآن مجيد د عربو په طبعي لهجه او د هغوى په اوازونو سره وواياست، د عربي ژبي اوازو د علم اصوات په قوانينو سره اووه قسمه لهجو ته تقسيم سوي دي.

| شماره | دلهجي نوم | ابتداء | مابين | انتهاء |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | بيات | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |
| ۲ | رَسْتْ | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |
| ۳ | چهارکا | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |
| ۴ | سِکاه | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |
| ۵ | صباح | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |
| ۶ | حجاز | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |
| ۷ | نهاوند | قر(قرار) | جواب | جوابُ الجَواب (اولج) |

قرار: ترټولو کښته او اولنى د شروع ساه تلاوت ته قرار وايي. جواب: په شروع سوي لهجه کي تر قرار پورته او جواب الجواب کښته يعني د شروع سوي لهجي د وومي ساه ته جواب وايي. جواب الجواب تر قرار او جواب دواړو پورته او د شروع سوي لهجي اخيرنى پړاو وي هغه ته جواب الجواب وايي. نو معلومه سوه چي په دي اوو لهجو کي هره يوه دري درې مرحلي لري.

احقر مدني

غفرله الباري



Maktaba Tul Ishaat.com




Maktaba Tul Ishaat.com